جست دانتقالي عناصرو د جملی څخه یو عنصر دي چې طبي اهمیت لري اتومي نمبر یې (۳۰) ، اتومي وزن یې ۶۵ او ولانس یې ۲ دی دکتالست په حیث او په کیمیاوي تعاملاتو کمې د لمړي مادې په حیث استعمالیږي .

دد جستو مهم مرکبونه عبارت دي له د جستو اکساید ( **Zn O** ) ، د جستو کاربونیت

( $ZnCO_3$ ) ، د جستو سلفیت ( $ZnSO_4$ ) او نور دي .

## زنک اکساید (ZnO)

د جستو اکساید په زیاته پیمانه سره د فلزي جستو د سوزیدو څخه د هوا په شتون کې لاسته را ځي .

$$Zn + O_2 \rightarrow ZnO$$

د جستو اکساید یو سپین رنګه پود ر دی د تود وخې په ا ثر تجزیه کیږي په ا وبو کې غیر منحل دي چې د تودوخې په اثر زیر رنګ اختیاروي ا وو رسته بیرته خپل اولنی شکل ځانه نیسي .

د جستواکساید د پیژند نې لپاره هغه سوزوي اوروسته یو اندازه سودیم هایدرو اکساید ور باندې علاوه کوي چې په شنه رنګه رسوب سره پیژندل کیږي .

طبي استعمال

د جستو اکساید عصبي نارو غیو په در ملنه کې ، د تشنج دمینځه وړلو لپاره د (۵۰) ملیګرام څخه ګا ر اخستل کیږي ، مهم استعمال یې د پوستکي نا روغیو په در ملنه کې دی بر سیره پر دې سره د ستر ګو تاروغیو په در ملنه کې د ملهمونوپه شکل سره کارول کیږي او همدارنګه د ماشومانو په پودرونو کې هم ور څخه کار اخستل کیږي .

## د جستو سلفیټ (ZnSO4 )

د جستو سلفیټ د د فلزي جستو او سلفوریک اسید د تعامل څخه په اسانې سره لاسته را ځي .

$$Zn + H_2SO_4 \rightarrow ZnSO_4 + H_2$$

سپین کرستلي شکل لري او ډی شفاف معلوميږي په اوبو منحل مګر پا الکولو کې نه حليږي

## طبي استعمال

د ضد عفوني يا مکروب وژونکي مادې په حيث استعمالیږي ، یو (۱) فیصده محلول يي د سترګو نا رو غيو په د ر ملنه ا ود ستر ګو د التهابونو په منځه و ړلو کې کا ر ول کيږي .

## د د وراني جد ول دريم (**3A** ) ګروپ عناصر

هغه عناصر چې پدې ګروپ کې شامل دي عبارت دی له : بورون (**B**) ، المونیوم (**Al** ) ،

ګالیم ( **Ga** څیړنې لاندې نیسو .) اندیم (**In** ) او تاليوم ( **Ti** ) . چې د دې عناصرو د جملي څخه بورون او المونیوم طبي اهمیت لري نو پدې اساس د دغه عناصرو ځنې مهم مر کبات تر څیړنې لاندې نیسو .

## بورون (B )

بورږن د دريم اصلي ګروپ عناصرو د جملي څخه دی اتومي نمبر يي ۵ او اتومي وزنيي ۱۰ ولانس يی ۳ دي او غير فلزي خواص يي زيات دی .

موهم مرکبونه يي بور تراي اکسا يد او بوريک اسيد او مالګي د بوريک اسيد دي .

## بو ر تراي اکسا يد ( B2O3 )

بور تراي اکساید غير فلزي اکساید دی چې د بورون او ا کسیجن د تعامل څخه لاته را ځي که دغه اکساید په او بو کې حل شي بوريک ا سيد تيزاب حاصليږي . د بوريک اسيد مالګي

بور تراي اکساید د اوبو سره لاندې اسيدونه جوړوي .

$$B_2O_3 + HOH \rightarrow 2HBO_2 \quad \text{Meta boric acid}$$

$$B_2O_3 + HOH \rightarrow 2H_3BO_3 \quad \text{Otho boric acid}$$

$$B_2O_3 + HOH \rightarrow H_2B_4O_7 \quad \text{Tetra biric acid}$$

بوريک اسيد يوه جامده ماده ده چې بيرنګه ، بي بويه او مر وارید ته ورته شکلونوسره بيدا کيږي .د پاشيدونکوپودرونو او د کريمونو په جوړول کې خاص رول لري اوکه چيرې ۱۰۰ د سانتيګراد تودوخه ور کړل شي يو ماليکول اوبه د لاسه ور کوي .

بوريک اسيد يو ضعيف تيزاب دي چې په کمه فيصدي سره د هايدروجن ايون په محيط کې توليد وی .

برریک اسید په اوبو و الکولو ، او ګلسرین کې حلیږي .

د بوریک اسید طبي استعمال

د بوریک اسید څخه د یو با کتریو ستاتیک او ضد عفوني مادې په کار اخستل کیږي او په موضوعي صورت سره د مالش او ستوني د رد اود خولي د مخاط د التهاب لپاره د غړ غړ ه کونکې په توکه کارول کیږی .د مسکن اړ قلږي خاصیت د لرلو له کبله په عصبي عوارضو کې ، د پط اشتهایي لپاره اود د معدې د ا سیدونو د پورته کولو لباره هم استعمالیږي .

## المونیوم ( Al )

المونیوم هم د د ریم اصلي ګروپ عناصرو د جملي څخه دی چې ازاد او مرکب ډول سره پیدا کیږي اتومي نمبر یي ۱۳، اتومي وزن یی ۲۷ او ولانس یی ۳ د ی په صنعت کې زیات کارول کیږي او د هغې پودر په التهاب لرونکوزخمونو با ندې پا شلذ کیږي .

د المونیوم مهم مرکبونه عبارت دي له المونیوم اکساید ( $Al_2O_3$ ) ، المونیوم هایدروکسای

[ $Al(OH)_3$ ] ، المونیوم سلفیټ [ $Al_2(SO_4)_3$ ] او المونیوم فاسفیټ .

## المونیوم هایدرواکساید ($Al(OH)_3$)

المونیوم هایدرواکساید یوه ضعیفه القلي ده چې د المونیوم اکساسد د حلید و څخه په اوبو کې لاسته راځي .

$$Al_2O_3 + 3\,HOH \rightarrow 2Al(OH)_3$$

المونیوم هایدرواکساید یوه ډیره تاموثره انتي اسید دي چې د معدې د در ملني په دوا ګانو کې زکارول کیږي .

د المونیوم بل طبي اهمیت لرونکي مرکب د المونیوم سلفیټ اوپوتاشیم سلفیټ مخلوط دی چې د زمچ په نوم سره هم یادیږي د دې مرکب څخه د بیرون له لارې قابضمادې په حیث اود پودر په شکل د خولي د ا نتیسپتیک کولو لپاره کار اخستل کیږي .

## د څلورم اصلي ګروپ ( 4A) عناصر

پدې ګروپ کې کاربن (**C**) ، سلیکان (**SI**) ، جرمانیم ( **Ge** ) ، قلعي ( **Sn**) او سرب ( **Pb**)

شا مل دي چې پدې عناصرو کې کاربن غیر فلز ، سلیکان او جر مانیوم شبه فلزات او قلعي ، سرب فلزات دي . ټول دغه عناصر په خپل اخیرني سویه کې د انر جي څلور الکترونونه لري د د ې ګرو پ عناصرو خواص سره فرق لري .

## کاربن (C )

کاربن د څلورم اصلي ګروپ یو عنصر دي چې غیر فلز دی اواساس د ټولو عضوي مرباتو جوړوي ا و په عضوي مر کباتو کې کاربن څلور ولانسه دی چې څلور اشتراکي را بطي جړوي .هغه کاربن چې طبي اهمیت لري او په درملنه کې کارول کیي د کاربنیټو په شکل ، کار بونیک انهایدرا ید ګاز ، او سیا نایدونه دي .طبي کاربن په دوه ډوله سره دی یعني حیواني کاربن او نباتي کاربن ، حیواني دذغالو په واسطه د هډ کو څخه په ۸۰۰ درجو د سانتیګراد کې لاسته راځی . حیواني کاربن تور رنګ لري په اوبو کې غیر منحل دی رطوبت جذ بونکي خواص لري

طبي استعمال

د رنګ وړونکي او رطوبت جز بونکي مادې په حیث ور څخه کار اخستل کیږي.

نباتي کاربن :

په طبا بت کې د وه نوع نباتي کاربن کارول کیږي یو نباتي کاربن او رسمي فعال کاربن

فعال کاربن جاذ ب الرطوبه خاصیت لري په دي اساس په مسمو میتونوکي ور څخه کار اخستل کیږي ، سره لدې چې د فلزاتو ذ رات د خوب راوړونکي اورام ببنونکی خاصیت هم لري .

عادي کاربن د نباتاتو د ټوټو څخه لاسته راوړي مګر فعال کاربن تور پودر دی په اوبو کې غیر منحل دی خوند او بوي نلري او جاذ ب الرطوبه خواص لري .

طبي استعمال

د ګازونو د جذ بونکي په توګه استعمالیږي برسیره پردې سره د کلمو دباد پد رملنه ، داسهالاتو ضد مادې په حیث اود تسمماتو ضد مادې په حیث استعمالیږي .

## کا ر بو نیک اسید غاز(CO2 )

کاربو نیک اسید چې د کاربن تیزابو په نوم سره هم یادیږي د کاربنیټو او عضوي تیزابو اویا غیر عضوي تیزابو د یو ځاي کیدو څخه لاسته راځي .د مثال په توګه :

$$Na_2CO_3 + HCl \rightarrow H_2CO_3 + CO_2 + HOH$$

کاربن داي اکساید یو بیرنګه غاز دی بوي نلري په اوبو کې حلیږی اود کاربن تیزاب جوړوي . که کاربن داي اکساید دفشار لاندې راوړل شي په مایع بدلیږي .

طبي استعمال

د کاربن داي اکساید څخه غاز په طبا بت کې د موضوعي ا نستیتیک د کانګو ضد مادې په حیث ور څخه استفاده کیږی . برسیره پر دې سره کابن داي اکساید په بد ن د انسان کې هم خاص رول لري په دې ډول چې دبدن د اوبو سره کاربونیک اسید جوړوي چې کاربونیک اسید دهضم په عملیه کې ښه رول لوبوي.

کاربن اساس د ټولو عضوي مر کبونو جوړوي چې اکثره عضوي مرکبونه طبي رول او اهمیت لري لکه هایدرو کار بنونه ، الکول ، ګلسرول ، استرونه ، الدیهایدونه ، عضوي تیزابونه ، امینو اسیدونه ، قندونه ، پروتین ، شحمیات اونور .

## سلیکان (Si)

سلیکان هم د څلورم اصلي ګروپ عنصر دی چې شبه فلزي خاصیت لري اتومي نمبر یي ۱۴، اتومي وزن یي ۲۸ او ولانس یي ۴ دی . د ځمکي پر مخ تر ټولو زیات موندل کیږي لکه کوارتز ( $SiO_2$) د ریګ په شکل د ځمکي پر مخ ډیر پیدا کیږي دسلیکان هغه مر کبونه چې طبي اهمیت لري په لاندې ترتیب سره یي تر څیړنې لاندې نیسو .

## مګنیزوم تراي سلیکیت ( Mg2Si3O8 )

مګنیزیوم تراي سلیکیت په جامد کرستلي شکل سره پیدا کیږي سپین رنګه پود ر دیبوي او خوند نلري په اوبو او الکولو کې نه حلیږي د معدني تیزا بونو په واسطه په اسانۍ سره تخریب کیږي . په معده کې د هایدرو کلوریک اسید سره جلا تیني تراي سلیسیک جوړوي .

طبي استعمال

مګنیزیوم تراي سلیکیت یو انتي اسید دی چې په معده کې د اضافي هایدرو کلوریک اسید د خنثا کولو لپاره ور څخه کټه اخستل کیږي ، د معدي او اثناعشر د قرحاتو ( زخمونو) څخه دردړنه لري کوي او په ممکنه ډول سره پیپسین جذ بوي .

هر کله چې مګنیزیوم تراي سلیکیت د خولي د لارې واخستل شي د خنثا کولو په محال مګنیزیوم کلوراید جوړوي او د اوبه لرونکي سلیکا د حلید و سبب کیږي وروسته اوبه لرونکی جل کلمو ته ځي اود جذب په شان عمل کوي اود یو انتي اسید په حیث عمل تر سره کوي

## تالک (Talc)

تالک داسي یو مرکب دي چې په طبعي ډول سره پیداکیږي او په خپل تر کیب کې ۶۴ فیصده مګنیزیوم اکساید لري او ۳۶ فیصده سلیکان داي اکساید ممممممهم پکې شتون لري .

کیمیاوي فورمول یی ( $3MgSiO_3 . H_2SiO_3$ ) دی اود تالک په تر کیب د المونیوم اکسایدونه هم مو جود دي .

خواص

میده کرستلي سپین پودر دی د لاس د فشار په واسطه غوړ او بنویده خاصیت غوره کوي دا مرکب په اوبو او عضوي محللونو کې غیر منحل دی نو څکه په اسانۍ سره نه پیژندل کیږي

نو د دې لپاره چې حل شي سوديم کاربنات ور سره يو ځاي کوو او وروسته يو ا ندازه تيزاب ور باندې زياتوه چې په هغه صورت کې سليکان داي اکسايد رسوب کوي او په محلول کې د مګنيزيم مالګه باتې کيږي

**کاولين (Al2O3.2SiO2.)**
دالمونيم يو بل مرکب دی چې په خپل ترکيب کې المونيوم اکسايد او سليکان داي اکسايد لری . رطبت جذبونکي مادي په حيث ، د اسهال ضد مهدې په حيث اود بيرون له طرفه د فاشونکي پودر په حيث ور څخه کار اخستل کيږي .

**سرب (Pb)**
سرب د څلورم اصلي ګروپ يو بل مهم عنص دي چې په طبابت کې ور څخه کار اخستال کيږي او مرکبات يي ډير مهم رول لري .

**د سربو اکسايد ( PbO )**
د سربو اکسايد يو زيړ رنګه پودر دي چې د سربو د اکسيديشن څخه لاسته راځي .

$$Pb + O_2 \rightarrow 2\ PbO_2$$

د سربو سلفايدو د اکسيديشن څخه هم د سربو اکسايد لاسته را ځي .

$$PbS + 3\ O_2 \rightarrow 2\ PbO + 2SO_2$$

برسيره پر دې سره د سربو د کار بنيتو د حرارتي تجزيي څخه هم د سربو اکسايد لاسته راځي .

د سربو اکسايد امفو تريک خواص لري يعنې تيزابي او القلي خاصيت د خپل ځان څخه ځر ګند وي .

**د سربو اکسايد طبي استعمال**
د بربو د اکسايد و څخه د طبي پلستر په جوړولو کې کار اخستل کيږي چې د دغه پلستر څخه د پوستکي د التها بی مکروبي ناروغيو په در ملنه کې کار اخستل ګيږي . او د سربو اکسايد د محلول څخه د اکزيما د سو ځولو لپاره کار اخستل کيږي .

**د پنځم اصلي (5A گروپ عناصر**

هغه عناصر چې په دې گروپ کې شامل دي عبارت دی له نایتروجن (**N** ) ، فاسفورس (**P**) ، ارسنیک (**AS** ) ، انتیموني (**Sb** ) او بسموت (**Bi** ) .

چې د دې عناصرو د جملې څخه نایترو جن او فاسفورس ډ یر ښه طبي اهمیت لري .

نایترو جن (**N** )

نایتروجن د پنځم اصلي گروپ عناصرو د جملې څخه یو عنصر دی چې په خالص او مرکب ډول سره پیدا کیږي ، خالص نایتروجن ۲۸ فیصده په هوا کې شتون لري مرکبات یي عموما په دوه ډوله دي یعنې غیرعضوي او عضوي مرکبونه .

د نایتروجن غیر عضوي مرکبونه لکه اکسایدونه ، نایتریتونه ، سیانایدونه ، تیو سیانایدونه ، امایدونه ، امونیا ، هایدرازین اود هایدرازین مشتقات .

د نایتروجن عضوي مرکبونه لکه : امینونه ، امایدونه ، امینواسیدونه ، نایترو الکانونه و الکایل سیانایدونه او نور .

**امونیا (NH3 )**

امونیا یو بیرنگه غاز دي تیز او سوځیدونکي بوي لري په اوبو کې حلیږي اود ابي محلول په شکل سره کارول کیږي .

$$\mathbf{NH_3 + HOH \rightarrow NH_4OH}$$

عادي مونیا د امونیا د حلیدو څخه په اوبو لاسته راځي چې ۲۰ فیصده غاز د امونیا لري اود بیرون له لارې کارول کیږي .

طبي استعمال

د امونیا انشقاق د تنفسي جهاز د تنبه کولو سبب کیږي او بر عکس د د ماغ تنفسي مر کز اود زړه گړند یتوب تنبه کی ږي اود خولی د لارې د خوله (عرق) کونکي مادې په حیث کارول کیږي .

## امونيوم کلورايد ( NH4 Cl )

امونيوم کلورايد داسي مرکب دی چې دامونيا او هايدرو کلوريک اسيد د يو ځاي کيدو څخه لاسته راځي .

$$NH_3 + HOH \rightarrow NH_4Cl$$

برسيره پر دې سره امونيوم کلورايد د د داي امونيوم سلفيټ او سوديم کلورايد دتعامل څخه هم لاسته راځي .

$$(NH_4)_2 SO_4 + 2NaCl \rightarrow 2NH_4Cl + Na_2SO_4$$

خواص

امونيوم کلورايد سپين جامد کرستلي شکل لري بوي نلري که تو دوخه ور کړل شي د ويلي کيدو پرته الوزي ، په اوبو او ګلايکولو کې په اساني سره حليږي . د هغې ۵ فيصده محلول **PH = 4,6 – 6** دی . امونيا په عضويت کې د کورين سره تعامل کوي اود کاربن داي اکسايد د توليد سبب کيږي .

طبي استعمال

امونيوم کلورايد د وخيم ميتا بوليزم د درملنې لپاره کارول کيږي ، د ادرار د اسيدي **PH** د ساتنې لپاره اود بولي لارې د ځنو ناروغانو د درملنې لپاره هم کارول کيږي ، دامو نيم اکسايدونه دمعدې په غشا باندې تخريش کونکي اغيزي لري او د زړه د بد والي سبب کيږی .

## نايترس اکسايد (N2O)

نايتروجن مونو اکسايد د کوټي په تو دوخه کې د غاز په حالت سره وي اود مايع په شکل سره په سلندرونوکې د فشار لاندې ساتل کيږي .

د امونيوم نايتريت د حرارتي تجزيه څخه لاسته راځي .

$$NH_4 NO_3 \rightarrow N_2O + 2HOH + 2Kcal$$

نايترس اسيد يو بيرنګه بی بويه اونه تخريش کونکي او نه کارونکي غاز دی په اوبه ، الکول او ايترونو کې منحل دی که د ۵۰۰ درجو د سانتيګراد څخه لوړه تودوخه ور کړل شي په نايتروجن او اکسيجن باندې تجزيه کيږي .

طبي استعمال

نايترس اکساید د خندیدونکي غاز په نوم سره هم یادیږي په خالص ډول سره په لنډ مهاله انستیزي کې او په مخلوط ډول سره په اوږد مهاله انستیزی کې کارول کیږي ګرندي اغیزي لري او ناروغ زر د بیهو شي څخه باسي .

**سوديم انايترايت ( NaN2 )**

دغه مرکب د وچو شوو موادو د ریفرینس څخه تولید یږي ، بیرنګه زیړ ته مایل کرستلونه جوړوي بی بویه او مالګین خوند لري ، په اوبو کې حلیږي او پا الکولو کې په سختي سره حلیږي . اوبلن محلول يي قلوي خاصیت لري اود سلفوریک اسید په واسطه تجزیه کیږي او سوديم نايترايت یوه ار جاع کونکي ماده ده .

$$NaNO_2 + H_2SO_4 \rightarrow NaHSO_4 + 2\ HNO_2$$

د بلي خوا سوديم نايترايت د تحمض کونکي په حیث هم کار کوي .

طبي استعمال

د سوديم نايترايت ايو نونه فار مو لوژیک فعالیتونه لري د زړه د کرو نار رګ په پراخوالي کې خاص اهمیت لري نو په دې اساس دغه مرکب د سینې د ناروغیو په در ملنه کې ډیر ښه رول لري .

عضوي نایتریتونه لکه ایتایل نایتریت و امایل نایتریت او ګلسرایل نایتریت د بدن د فشار په ټیټوالي کې ښه رول هم لري . سوديم نايترايت د هیموګلوبین سره تعامل کوي اود سیانایدونو دتسمم ضد مادي په حیث استعمالیږي اود انتي اکسیدانت ضد مادې په دحیث هم کارول کیږي .

**فاسفورس او دهغې مشتقات**

فاسفورس د پنځم اصلي ګروپ عناصرو د جملي څخه يو عنصد دی چې طبي اهمیت لري او مرکبات يي د انسان په بدن کې خاص اهمیت لري . فاسفورس په درې شکلونوسره پیداکیږي یعنې سپین ، سور او تور فاسفورس ، سپین فاسفورس د موم په شان وي او ډیر مهم فزیالوژیکي اهمیت لري .

فاسفرس د تودوڅې په اثر د يوه حالت څخه وبل حالت ته بدلیږي ، معمولا سپی فاسفورس د اعصابو د مقوي مادې په نوم پیژندلذ شوي دی اود فاسفورس ځني مر کبونه په لاندې ډول سره تر څزړني لاندې نیسو.

**سوديم هیپو فاسفایټ (NaH2PO2 )**

دا مرکب د سوديم کاربنات او او کلسيم هايپو فاسفايت د تعامل څخه لاسته راځي او که چیري فاسفرس د کلسيم هايدرو اکساید سره یوځاي کړل شی کلسيم هايپو فاسفیټ حاصلیږي .

$$Ca(OH)_2 + 2\ P \rightarrow Ca(H_2PO_2)_2$$

د فاسفورس د مهمو مر کباتو څخه فاسفوریک اسید دی چې د فاسفریک اسید مالګي د انسان په بدن کې ښه رول لري چې په درې ډولونوسره فاسفوریک اسید پیدا کیږي یعنې :

**Meta phosphoric acid $HPO3$**

**Pyro phosphoric acid $H_2P_2O3$**

**Ortho phosphoric acid $H_3PO4$**

د فاسفوریک اسید ۵۰ فیصده محلول ډیر اهمیت لري اوپه طبا بت کې ورڅخه د مالګو په شکل زیات کار اخستل کیږي.او د فاسفوریک اسید مالګي په اوبو ، الکولو او تیزابونو کې حلیږي.

چې څنې مالګې يي په لاندې ډول سره دي .

طبي استعمال

دفاسفوریک اسید مر کبات د مر کزي اعصابو د تقویه کونکي په حیث ډیر ښه استعمل لري اود نورو مقوي در ملونو سره ور کول کیږي او تراي کلسیک مالګي يي د اسهالاتو ضد اود انتي اسید په ډول سره کارول کیږي .

## بسموت (Bi)

بسموت هم د پنځم اصلي عناصرو د جملي څخه دی په ازاد شکل سره نه پیداکیږي مګر په مر کب شکل سره پیدا کیږي لکه بسموت اکساید ، بسموت سلفاید اونور .

## بسموت نایتریت ( [ Bi (NO3)3 ]

بسموت نایتریت د دوا ګانو په جوړولو کې خاص رول لري دغه مرکب د بسموت او نایتریک اسید دتعامل څخه لاسته را ځي .

$$Bi + 6\ HNO_3 \rightarrow 2\ Bi(NO_3)3 + 3\ H_2$$

بسموت نایتریت جامد کرستلي شکل لري اود پودر په دشکل سره پیداکیږي په اوبو کې نه حلیږي اوپه معد نې تیزابونوکې حلیږي که چیرې لتوس کاغذ په کې غوټه کړل شي سور رنګ اختیاروي .

طبي استعمال

دغه مرکب د معدي په محاطي غشا باندې د یو ضعیف ساتونکي اغیزه لري اود درملونوسره یو ځاي تطبیق کیږي او انتیسپتیک خواص هم لري ، د اسهال یا پیچش ضد انتیسپتیک په حیث هم استعمالیږي دبیرون له لارې د پودر ، ملهم او محلول په شکل سره هم د زخمونو په ونځلو لپاره استعمالیږي .

## د دوراني جد ول شپږم (6A گروپ عناصر

هغه عناصر چې په دې گروپ کې شامل دي عبارت دی له اکسیجن (**O**) ، سلفر ( **S** ) ، سلینیم ( **Se**)

، تلیریم ( **Te** ) او پلو نیوم ( **Po** ) . د دغه عناصرو د جملي څخه اکسیجن او سلفر طبي اهمیت لري او مرکبات یي د انسان په وجود کې ډیر مهم رول لري بر سیره پر دې سره د درملونو په جوړولو کي هم ډیر استعمال لری .

## اکسیجن (O )

اکسیجن د شپږم اصلي گروپ عناصرو د جملي څخه ډیر مهم عنصر دي هیڅ یو ژوندي موجود غیر د اکسیجن څخه ژوند نشي تر سره کولي ، اکیجن په ازلد او مرکب شکل سره پیدا کیږي چې په خالص ډول سره ۲۱ فیصده په هوا کې شتون لري اود مایع هوا د تدریجي تقطیر څخه لاسته را ځي .

د اکسیجن مرکبات ډیر زیات دي لکه اکسایدونه ( فلزي اکسایدونه ، غیر فلزي اکسایدونه ، پر اکسایدونه

او امفو تریک اکسایدونه ) تیزابونه ، او مالگي .

الف: فلزي اکسایدونه هغه دي د فلز او اکسیجن د تعامل څخه لاسته راځي اود القلي انهایدراید پهنوم سره هم یادیږي لکه سودیم اکساید ، کلسیم اکساید ، مگنیزیم اکساید اونور . هر کله چې فلزي اکسایدونه په اوبو کې حل شي القلي جوړوي مثال:

$$Ca + O_2 \rightarrow 2\ CaO$$

$$CaO + HOH \rightarrow Ca(OH)2$$

ب: غیر فلزي اکسایدونه . هغه اکسایدونه دي چې دیو غیر فلز او اکسیجن د تعامل څخه حاصلیږي او هر کله چې غیر فلزي اکسایدونه په اوبو کې حل شي تیزابونه لاسته راوړي مثال :

$$C + O_2 \rightarrow CO_2$$

$$CO_2 + HOH \rightarrow H_2CO_3$$

ج: پر اکسایدونه . هغه مرکبات دي چې په هغې کې اکسجن منفي یو ولانس ولري لکه هایدروجن پر اکساید ، سودیم پر اکساید ، کلسیم پر اکساید ، مگنیزیم پر اکساید او نور .

## هایدروجن پر اکساید

هایدروجن پر اکساید داسي یو کیمیاوي مرکب دی چې دوه اتومه اکسیجن لري او مکروب وژونکی خاصیت لري چې مکروب وژونکی خاصیت یي په لاندې تعامل کې څر گند یږي .

$$H_2O_2 \rightarrow H_2O + \{O\}$$

د هیدروجن پر اکساید دلاسته روړلو لپاره دلاندې طریقو څخه کار اخستل کیږي .

۱: که چیرې با ر یوم پر اکساید د سلفوریک اسید سره تعامل کړي هایدروجن پراکساید لاسته را ځي .

$$BaO_2 + H_2SO_4 \rightarrow H_2O_2 + BaSO_4$$

۲: که چیرې پر اوکسي داي سلفوریک اسید د اوبو سره تعمل وکړي هایدروجن پر اکساید لاسته راځي .

$$H_2S_2O_8 + 2HOH \rightarrow H_2O_2 + 2\,H_2SO_4$$

هایدروجن پر اکساید مکروب وژونکی خاصیت لري چې ۳۰ فیصده محلول یې د بر هایدرول په نوم سره یا دیږي او د یر ښه انتیسپتیک خاصیت لري چې د زخمونوپه ونځلو کې کارولذ کیږي .

## پوتاشیم پر منګانیت (KMnO4)

پو تاشیم پرمنګانت د اکسیجن یو بل مرکب دی چې په حقیقت کې مضاعفه ( دوه فلزه) مالګه ده او په خپل تر کیب کې څلور اتومه اکسیجن لري او دا مرکب هم مکروب وژونکی خاصیت لري چې په لاندې تعامل کې څر ګند یږي .

$$2KMnO_4 \rightarrow K_2MnO_4 + MnO_2 + 2[O]$$

پوتاشیم پر منګانت د محلول په حالت کې مکروب وژونکی خواص لري چې اتومي اکسیجن تولیدوي دغه اتومي اکسیجن د مکروب وژلو باعث کیږي او که چیرې پوتاشیم پرمنګانت ته تودوغه ور کړل شي مالیکولي اکسیجن تولیدوي چې د اور اخستلو سبب کیوي نوهمدا سبب دبی چې په کیمیاوي لابراتوار کې د اکسیجن لاسته راوړلو لپا ره ور څخه کار اخستل کیږي . برسیره پردې سره اکسیجن نور داسي مر کبونه هم لري چې مکروب وژونکو موادو په حیث ور څخه کار اخستل کیږي چې په راتلونکی کې به تر څیړنې لاندې ونیول شي .

د هایدروجن پر اکساید د پیژند نې لپاره څو څاڅکې ایتر چې په سلفوریک اسید سره تیزابي شوي وي پرې اچوو اووروسته یو اندازه د پو تاشیم داي کرومات محلول ور اضافه کوه نو ابي رنګ به غوره کړي چې د هغې له رویه پیژندل کیږي .

## د جستو پر اکساید ( ZnO2 )

د جستو پر اکساید د جستو د اکساید او هایدروجن پر اکساید دتعامل څخه لاسته را ځي .

$$ZnO + H_2O_2 \rightarrow ZnO_2 + HOH$$

په همدې ډول سره مګنيزيم پر اکسايد د مګنيزيم اکسايد او هايدروجن پراکسايد د تعامل څخه لاسته راځي.

د جستو پراکسايد او مګنيزيم پر اکسايد سپين رنګه پودر دی ، بوي نلري په اوبو کې نه حليږي مګر په عضوي محلل کې حليږي ، په رقيقو معدني تيزابونوکې حليږي اوپه نتيجه کې د مر بوطه مالګې او هايدروجن پر اکسايد جوړوي.

برسيره پر دې سره اکسيجن دانسان په بدن کې ډير زيات رول او اهميت لري کوم وخت چې د تنفس عمليي په واسطه اکسيجن د سږو په وسطه واخستل شي د ويني د هيموګلوبين په واسطه حجراتو ته انتقاليږي په حجراتو کې د هضم شوو خوراکي موادو سره يو ځاي کيږي او خراکي مواد په کاربن داي اکسايد ، اوبه او انرژي بدلوي چې يو اندازه کاربن داي اکسايد د بدن څخه د تنفس عمليي له لارې خارجيږي او يو اندازه يي په کاربونيک اسيد بدليږي او د کار بو نيک اسيد څخه په بدن کې ګټه پورته کيږي . يو انزه اوبه د ادرار او عرق په شکل د بدن څخه خارجيږي اوزياته برخه يي په بدن کې پاتې کيږي چې د بدن ټول تعاملات د اوبو په شتون کې صورت نيسي اود انر ژي څخه د انسان د بدن انساج ګټه پورته کوي .

## طبي استعمال

پراکسايدونه په انتيسپتيک ډول سره د بهر دلارې د پودرونو او خميرو په شکل سره استعماليږي د ستر ګو ملهمونه په شکل هم کارول کيږي . خو بر عکس مګنيزيوم پراکسايد د داخل له طرفه کارول کيږي اود معايي انتيسيبتيک په ډول د ۵ – ۲۰ ګرام پوري په ورځ کې کارول کيږي .

## سلفر (S)

سلفر هم د شپږم ګروپ عناصرو د جملي څخه دی چې غير فلز دی په جامد شکل سره پيداکيږي په خالص او مرکب شکل سره پيداکيږي ، په خالص ډول سره سلفر دځمکي د ډيرو طبقو څخه لاسته راوړل کيږي اومرکبات يي هم ډير زيات دي او عموما په دوه ډوله دي يعنې عضوي او غير عضوي مرکبات.

الف: د سلفر غير عضوي مر کبات لکه سلفر داي اکسايد ( $SO_2$ ) ، سلفر تراي اکسايد ( $SO_3$ )

سلفورس اسيد ($H_2SO_3$) ، سلفوريک اسيد ($H_2SO_4$ ) او مالګې د هغوي .

## خواص

سلفر زيړ رنګه کرستلي شکل لري په اوبو او الکولو کې نه حليږي مګر په زيتون او او بنزين کې حليږي او په بيرنګه دشعله سوزي او په سلفرداي اکسايد باندې بدليږي .

## طبي استعمال

د جنجيو د دفعي لپاره ، د مسهل (**Laxative**) لپاره د تابلت په شکل کارول کيږي اود بهر دلاري د بوستکي ناروغيو د درملنې لپاره د ملهمونو او محلولونو په شکل کارول کيږي .

## سودیم سلفاید ( Na2S)

سود یم سلفاید د هایدرو جن سلفاید او سودیم هایدروکساید دتعمل څخهدلاسته راځي.

$$NaOH + H_2S \rightarrow NaHS + HOH$$

$$NaHS + NaOH \rightarrow Na_2S + HOH$$

بیرنګه بلورونه دي په اوبو کې حلیږي او محلول یي قلوي دی د هوا سره د تماس په صورت کې تخریبیږي او تیو سلفت جوړوي .

طبي استعمال

د تنفس لارو د تشوشات او روماتیزم لپاره د محلولونواویا د معدني اوبو په شکل کارول کیږي اړد بیرون له لارې د پوستکي ناروغیو په درملنه ې استعمالیږي .

## سودیم سلفایت (Na2 SO3 )

سودیم سلفایت داسي مرکب دی چې د سودیم هایدروکساید او سلفورس اسید دتعامل څخه لاسته راځي .

$$NaOH + H_2SO_3 \rightarrow Na_2SO_3 + HOH$$

سودیم سلفایټ دپودر په شکل سره وي سپن رنګ لري او بوي نلري ، په اوبو کې حلیږي او په الکولو کې نه حلیږي دهوا سره د تنماس په صورت کې اکسید یشن کیږي او سلفیټ جوړوي .

طبي استعمال

داسیدي محلو لو نو ، ادرینالین محلولونو د نورو درملونو دساتنې لپاره کارو کیږي برسیره پر دې سره د پوستکي ناروغي پر ضد د انتیسپتیک مادې په حیث استعمالیږي .

سودیم هایدرو سلفا یت سپی زیړ رنګه پودر دی به اوبو کې حلیږي مګر په الکولو کې لږ شاني حلیږي او محلول یي د بد بویي په ضد کارول کیږي اود ملهمونو په شکل هم استعمالیږي .

## سودیم سلفیټ (Na2SO4)

سودیم سلفیټ یو ه خنثا مالګه ده چې د سودیم کلوراید او سلحوریک اسید دتعامل څخه لاسته راځي .

$$NaCl + H_2SO_4 \rightarrow Na_2 SO_4 + 2HCl$$

سودیم سلفیټ په خپل تر کیب کې ۱۰ مالیکول کرستلي ابه لري چې د تودوخې په اثر دغه اوبه له منځه ځي بوي نلري ، رطوبت جذ بونکي خواص لري ، مالګین خوند لري او په اوبو کې حلیږي .

طبي استعمال

اوبه يي د اسموتيک عمل په واسطه جذبيږي او معا يي د محتوا دزاتوالي سبب کيږي د ميلن (**Emollient**) او مسهل ( **Laxative,purgative** په ډول تطبيقيږي .

مګنيزيوم سلفيټ ( **MgSO4** ) يو سلفر لرونکي مرکب دی چي د مګنيزيم کاربنات او سلفوريک اسيد د تعامل څخه حاصليږي . يوه غير عضوي مالګه ده چي دمسهل موادو په حيث طبابت کي استعماليږي .

سوديم تيو سلفايت ($Na_2S_2O_3$)

سوديم تيو سلفايت هم يو غير عضوي مالګه ده چې د سوديم سلفايت او سلفر د يو ځاي کيدو څخه لاسته راځي .

$$Na_2SO_3 + S \rightarrow Na_2S_2O_3$$

شفاف جامد کرستلي شکل لري په اوبو کي حليږي او تريخ خوند لري .

د نقري د نايتريتو په واسطه په سپين رسوب سره پيژندل کيږي . د ارسنيک د تسمماتو ضد په حيث طبابت کي استعماليږي يعني ضد زهري مواد دي .

## اووم اصلي ګروپ (7A) ګروپ عناصر

په دې ګروپ کې فلورين ( **F** ) ، کلورين ( **Cl** ) ، برومين ( **Br** ) ، ايود ين ( **I** ) او استا تين ( **At** ) .

د دې عناصرو د جملي څخه استا تين راديو اکتيف عنصر دی او د خپل ځان څخه نه ليدونکي وړانګي توليد وي او پاتي څلور عناصرو کي فلورين او کلورين د غاز په حالت ، برومين مايع او ايودين د جامد په حالت سره وي چي د دې ګروپ ټول عناصر طبي اهميت لري په دې ډول سره چي فلورين په غاښونو کي ، کلورين او برومين د انساجو په مايعاتو کي او ايودين دتايرايد په غده کې شتون لري چي په راتلونکي کې به پدې رابطه معلومات تر لاسه کړو .

فلورين ډير توکسيک (زهري ) خواص لري نو په دې اساس دومره طبي استعمال نلري .کلورين ، برومين او ايودين اود هغې مشتقات زيات طبي اهميت چې په لاندې ترتيب سره څر ګند يږي .

۱: د هلوجنو هايدروجن لرونکي مشتقات لکه د هلوجنو اسيدونه

۲: د هلوجنو اکسيجنې مشتقات لکه هيپو کلوريد ونه ، هيپو بروومايدونه او هيپو ايو دايتی اسدونه

۳: د هغو مشتقات له قلوي فلزاتو سره

د هلو جنو هايدرو جني مشتقات

د هغو د مشتقاتو له ډلي څخه هايدرو کلوريک اسيد طبي اهميت لري يوازيني غير عضوي تيزاب دی چي په ازاد حالت سره دانسانانو او حيواناتو په معده کي پيداکيږي ، د انسانانو په معده کي ۳ فيصد ه شتون لري . هايدرو کلريک اسيد د معدې په شيره کي دوه ډوله فعاليت په غاړه لري ، يوداچي پيپسينوجن په پيپسين شکل باندې اړوي ابل داچي په معده کي باکتر ياوي يا ناروغي له منځه وړي .

نو همدا سبب دي چي د معدې دتيزابو دکموالي په صورت کي د هايدرو کلوريک اسيد څخه کار اخستل کيږی

## کلورو هيدريک اسيد ( HCl. )

د دوه ډوله هايدرو کلوريک اسيد څخه ګټه اخستل کيږي يو هايدرو کلوريک اسيد او بل رقيق هايدرو کلوريک اسيد چي دواړه اسيدونه يو نوع خواص لري يازي په غلظت سره فرق لري چي غلظت يې ۲۴،۸ فيصده بايد کم نه وي اود ۲۵،۲ فيصده څخه زيات نه وي .

د مشبوع هايدرو کلوريک اسيد غلظت ۴۲ فيصده اود لوګي ور ګونکي هايدرو کلوريک اسيد غلظت ۳۷ فيصده وي.

خواص

هيدرو کلوريک اسيد يوه شفافه مايع د ه بيرنګه او په ځني وخت کي زيړ رنګ لري په اوبو کي حليږي اود لتمس کاغذ په وړاندې اسيدي وي .

طبي استعمال

په طبابتکي د رقيق هايدرو کلوريک اسيد څخه کار اخستل کيږي دخولي د لاری د څاڅکي په شکل او د پيپسين سره دمخلوط په شکل دمعد ي تيزابو د نه کفايت په صورت کي ور څخه ګټه اخستل کيږي په ځني وختونو کي د د اوسپني لرونکو در ملونوسره يوځاي کوي د دې لپاره چي دهغوي جذب ښخه تر سره شي .هايدرو کلوريک اسيد چي په طبابت کي ساتل کيږي بايد په سر تړلو بوطلونو کي او په ساړه ځاي د کوټې په تو دودوخه کي وساتل شي .

## د هلو جنو اکسيجني مشتقات ( هايپو کلوريتونه)

هايپو کلوريتونه قوي اکسيدانتونه دي چي په طبابت کي دهغې د دې خواص څخه کار اخستل کيږي هر کله چي کلورين د سوديم هايدرو اکسايد ، پوتاشيم هايدرو اکسايد او کلسيم هايدرو اکسايد سره تعامل وکړی دغه مر کبونه لاسته راځي .

$$Cl_2 + 2NaOH \rightarrow NaOCl + HOH + NaCl$$

$$Cl_2 + 2KOH \rightarrow KOCl + HOH + KCl$$

همدارنګه د کلسیم هایدرو اکساید او کلورین د تعامل څخه کلسیم هایپوکلوریت لاسته راځي .

هاپو کلوریټونه قوي اکسیدانتونه دي چې په لومړي نړیواله جګړه کې انتیسیپتیک موادو په حیث ور څخه کار اخستل شوي دی . پوتاشیم هایپو کلورت د جاویل اوبو په نوم سره هم یادیږي .

څرنګه چې دغه مواد تحمض کونکي خاصیدت لري په دې بنا د زخمونو په ضد عفونی کولو کې ور څخه کار اخستل کیږي .

## کلسیم هایپو کلوریت ( CaOCl2 )

کلسیم هایپو کلوریت داسي مرکب دی چې مکروب وژونکی خواص لري او په دې ډول سره لاسته راځي چې لمړي منفي کلسیم اکساید د اوبو سره یو ځای کوي تر څو چې کلسیم هایدرو اکساید لاسته راي شي وروسته د کلسیم هایدرو اکساید څخه د کلورین غاز تیروي او په نتیجه کې کلسیم هایپو کلورت لاسته راځي

$$CaO + HOH \rightarrow Ca(OH)_2$$

$$Ca(OH)_2 + Cl_2 \rightarrow Ca\,OCl_2 + HOH$$

خواص

کلسیم هیپو کلوراید سپین رنګه پودر دي اود کلورین بوي لري پم اوبو کې حلیږی مکروب وژونکی (انتیسیبتیک ) خاصیت لری .

طبي استعمال

مکروپ وژونکو موادو په حیث استعمالیږي برسیره پردې سره د ودانیو او تشنابونو په تعقیم کولو کې ور څخه هم کار اخستل کیږي .

د هلوجنو فلزي مر کبونه

هلوجنونه داسي عناصر دي چې د فلزاتو سرزه په اساني سره تعامل کوي او مر کبات جوړوی چې زیتره مر کبونه یي طبی اهمیت لري او دهغوي د جملي څخه ځني مرکبات تر څیړني لاندې نیسو .

## سودیم کلوراید (NaCl )

سودیم کلوراید په معدانونواودبحر په اوبوکی په زیاته پیمانه سره پیداکیږی چی دبحر اوبودتبحیر څخه پیداکیږی ههٔ مالګی چی دبحر څخه لاسته راځی ځنی ناپاکی هم لری چی ههٔ ناپاکی عبارت دسوډیم سلفیټ $Na_2SO_4$ ،مګنیزیوم کلوراید $MgCl_2$،مګنیزیم سلفیټ $MgSO_4$ ،اوکلسیم کلوراید $CaCl_2$ ددی لپاره چی دعه ناپاکی ددی ملګو څخه لری کړواوسودیم هایدرواکساید اوالمونیم هایدرواکساید وربانذی علاوه کړو په نتیجه کی

ناپاکی رسوب کوی .کوم وحت چی شفاف محیط لاسته راشی نوهعی ته تودوحه ورکوو ترخوچی علیظ محلول لاسته راشی .دسودیم کلوراید کرستلونه چی وچ کړل شی په یخ لوښی کی رسوب کوی

ددی لپاره چی خالص سودیم کلوراید لاسته راوړوکوم چی دطبی مقاصدولپاره کارول کیږی نوهعه سودیم کلوراید دسودیم کاربنیت اوهایدروکلوریک اسید تعامل څخه لاسته راوړو

$$Na_2CO_3+2HCl \longrightarrow 2NaCl+CO_2+H_2O$$

فزیکی خواص:

سودیم کلورایدبیرنګه اویادسپین پودر په شان کرستلونه جوړوی په اوبوکی ۳:۱ سره حلیږی اوپه الکولوکی سپک حلیږی اوحلیدل یی د**HCl**په علاوه کیدوسره کمیږی اوتقریبآدعلیظ هایدروکلوریک اسید په واسطه غیرمنحل کیږی .دسودیم کلوراید محلول پاک وی چی یوایزوتونیک محلول دی په اوبوکی زرقی حالت احتیاروی

پیژندنه :

۱.دسودیم آیون باندی تعا مل :کوم وحت چی سودیم وسوځول شی په زیړه لمبه سوځی

۲.دسودیم کلوراید تعامل دسلورنایتریت $AgNO_3$ سره چی سپین رسوب جوړوی

$$NaCl+AgNO_3 \longrightarrow AgCl+NaNO_3$$

پورته تعامل دهعه مرکبونوترکیب دی چی دتعویض کونکوپلازماتیک مایعاتوپه حیث ورڅخه کاراحیستل کیږی .علظت یی په وینه کی **0.5** فصده دی اودوینی فشارپه نارمل ساتلوکی خاص رول لری .په هعه صورت کی چی دسودیم کلوراید فیصدی په بدن کی کمه شی نوپه همعه صورت کی په اورګانیزم دانسان کی **0.9** فصده ایزوتونیک محلول په ورید اوپوستکی دلاری ورکول کیږی چی دری نوع دواګانی یی درسمی دواګانوپه نوم سره یادیږی دسودیم کلوراید **0.9**فصده محلول چی ایزوتانیک وی یوبیرنګه اوشفافه مایع ده دمالګی په شان خوندلری .برسیره پردی **5.3**او**10** محلول دسودیم کلوراید دزحمونوپه ونځلوکی استعمالیږی اوهمدارنګه دسودیم کلورایدمحلول دستونی دردلپاره هم استعمالیږی چی مکروبونه دمینځه وړی

**پوتاشیوم کلوراید KCl :**

په داحل دحجره کی یوآیون **K** اودسودیم آیون په شکل دامرکب هم دحجرودایزوتنیک تنظیم کی ډیره ښه رول لری .دپوتاشیم کلوراید دزړه ناروعی په درملنه کی کارول کیږی خصوصآپه انتوکسیکیشن دقلبی هیتروزییدونوکی حاص اهمیت لری

کوم وخت چی ددوام داره تداوی ۱۰ فصده تابلیتونه له محی دحولی دلاری ورکول کیږی

تشخیص یا پیژندنه :

۱.دپوتاشیم کلورایدتعامل دتارتاریک اسید سره چی یوسپین رسوب دپوتاشیم تارتات جوړیږی

$$KCl+H_2C_4H_4O_6 \rightarrow \sout{KH_4C}H_4O_6+HCl$$

$$HCl+CH_3\text{-}COONa \rightarrow NaCl+CH_3\text{-}COOH$$

۲.دکلورایدونوتعامل دنقری نایتریت **AgNO** سره چی نقره جواب ورکونکی اوسیږی

**دسودیم (Na) اوپوتاشیم برومایدونه :**

ددی مرکباتورسمی دواگانوشمیرل کیږی **1Patassiumbrom**

**2.Tob photassiumbromide 0.56** دښکلوپه اوبوکی دامواد ډیرلږشتون لری

**3 Sodium bromide** دامرکبونه اراموونکی خواص لری دتابلټوپه شکل په محلوطی ډول سره دحولی دلاری ورښخه استفاده کیږی

سودیم **Na** او**K Sedative** چی داعصابو اراموونکی خواص هم لری اوپه محلوط شکل دایونودپیژندلوپه وحت کی استعمالیږی

یوډیم اوپوتاشیم ایوډاید:

په درملنه دهایپرتایریوز **Hyper thyroses** یا جاعورکی کاراحیستل کیږی .هرکله چی په خوراکی موادواودښکلوپه اوبوکی په کافی اندازه سره ایودین موجودنه وی خصوصآ دعرنی منطقوکی خلک زیاتره دجاعور په ناروعی اخته وی نودعه ناروعانوته ایودین دداحل له طرفه دمحلول اومحلوط په شکل ورکول کیږی .

فزیکی خواص:

کلورایدونه یابرومایدونه اوآیودایدونه سپین کرستلی شکل لری یواځی ایودایدونه زیړنګه رنګ لری کوم وحت چی دکاربن دای اوکساید سره په تماس کی شی دهواپه رطوبت کی آیودین ازادوی داتول په اوبوکی په اسانی سره حلیږی مګرانحلالیت یی په الکولوسره فرق کوی پدی ډول چی پوتاسیم کلوراید په الکولوکی نه حلیږی ،سودیم کلوراید اوسودیم اوسودیم بروماید په الکولوکی لږ حلیږی اوسودیم ایوداید په الکولوکی منحل دی

لاسته راوړل :

سودیم کلورایدپه معدنونوکی اوپه بحرکی په طبعی ډول سره په زیاته پیمانه پیداکیږی اودهمعه منا بعوڅخه یی ددواجوړونی لپاره لاسته راوړی

برومایدونه اوآیونونه .په همدی طریقی سره لاسته راځی اوداوسپنی په

صنعت کی دبرومین داوبواوآیودین سره تعامل ورکوی او$FeBr_2$ او$FeI_2$جوړوی .

اودوهم ځل لپاره برومین یاآیودین ورباندی زیاتوی یعنی

$$3FeBr_2+Br_2 \longrightarrow FeBr_8$$

$$3FeI_2+I_2 \longrightarrow Fe_3I_8$$

وروسته داوسپنی بروماید اوداوسپنی آیوداید ومحلول باندی سودیم کاربنات ورزیاتوی

$$+4Na2CO3+4H2O$$

$$Fe_3I_8 \quad 8NaI \rightarrow$$

$$Fe_3Br_8$$

$$+Fe(OH)_3+4CO_2$$

که چیری د$Na_2CO_3$په ځای پوتاسیم کاربنات علاوه شی نوپه هعه صورت کی پوتاشیم بروماید اوپوتاشیم آیوداید لاسته راځی .په دوام داره توګه دبرومایدونواستعمال کیدای شی چی زهریت مینځ ته راوړی (ریزش ،توخی اوداعصابوضعیفوالی ) په هعه صورت کی چی کوم کس دبرومایدونوپه واسطه تسمیم شی نوپه هعه صورت کی په زیات مقدارسره

د ۱۰-۲۰ گرام پوری سودیم کلوراید په ۲۴ ساعتوکی دورید دلاری ۳-۵ لیتره پوری زرق کولی شو

آیوډین :آیودین ۵۳ آتومی نمبراو۱۲۶.۹ یی اتومی وزن لری اومختلف اکسدیشن نمبر لری په طبیعت کی په بحری اوبواوبحری نباتاتوکی پیداکیږی .چیلی په نایتریت کی اوهعه چینی چی دپطرولو سره نږدی وی پیداکیږی اوپه مختلفوشکلونوسره دهمدی منابعوڅخه لاسته راځی

۱.په صنعت کی دچیلی نایتریت اوکرستلی نایتریتونوڅخه دمعدنی اوبوڅخه دآیودت په شکل لاسته راځی یعنی

$$NaIO_3+3NaHSO_4 \rightarrow NaI+3NaHSO_4$$

هعه آیودین چی لاسته راځی یواندازه دآیودایت محلول سره یی یوځای کوی .که چیری داتعامل په تیزابی محیط کی ترسره شی عیناً دمربوطه تیزابوپه شان عمل ترسره کوی

$$HIO3+5HI \rightarrow 3I2+3H_2O$$

۲.**Courtois** .په طریقه دبحری نباتاتوڅخه هم کولی شو چی آیودین لاسته راځی پدی ډول چی وروسته دسوځیدو دبحری نباتاتو **(Algae)** څخه چی ایره یی لاسته راځی اودهعی کلورین فازتیروی اوآیودین لاسته راځی

$$2NaI+Cl_2 \longrightarrow 2NaCl+I_2$$

۳.دمعدنونواوبحری اوبوڅخه آیودین پدی ډول سره لاسته راوړل کیږی چی ناپاکی یی د **Bisublimation** عملیې پواسطه لری کوی

خواص :آیودین دپولادی رنګه پاڼوپه شکل سره پیداکیږی محصوصه ځلالری .محصوص بوی لری په عادی حالت کی دتصعید **Sublimation** عملیه ترسره کوی اوپه اوبوکی لږحلیږی .په اکسیجن لرونکی عضوی محلولونوکی په سورنصواری رنګ اوهعه غضوی محلولونه چی اکسیجن ونلری په بنفش رنګ سره ځرګندیږی

استعمال :څرنګه چی آیودین مکروب وژونکی خواص اودتبحیر په جوړولوکی اوآبی محلولونه یی دالکولیک په حیث کارول کیږی په ضد عفونی کولو دپوستکی کی دزحمونوپه درملنه کی ،ستونی دردلپاره دهعی ۵ فصده محلول کارول کیږی اودګلسترین سره دمحلوط

کیدوپه صورت کی دملهمونوپه جوړولوکی استعمالیږی .په تنفس تنګی اوتایروتوکسیک لپاره ډیرموثردی

**دآیودین محلول :**

دآیودین محلول آبی محلول لوګل محلول **Lugois Sulution** یواځی دآیودین داسی محلولونه دی چی په هعی الکول شتون نلری اوپه داحل دبدن کی توصیه کیږی لوګل محلول دآیودین اوسودیم یاپوتاشیم آیوداید دحلیدوڅخه په اوبوکی لاسته راځی .دایودین الکولی محلول نظرابی محلولولونوته ډیرتخریش کوونکی وی

استعمال :ایودین **Anti-hyper-thyroids** په شکل په موضوعی ډول دانفکشن ضد اومکروب وژونکی مادی په حیث استعمالیږی

**Povidone-Iodine**: دآیودین یوکمپلکس دی چی ۹-۱۲ فصده آیودین لری

منګان یا منګنیز :

منګان ددورانی جدول په ۷ ګروپ د**d** بلاک کی موقیعت لری اویوانتقالی فلزدی اتومی

نمبریی ۲۵ اواتومی وزن یی ۵۴ دی اوداعنصر ۲،۳،۴،۶،او۷ ولانس لری منګان په کم

ولانس یااکسیدیشن نمبر سره القلی خواص لری .اوپه لوړولانس یااکسیدیشن نمبرسره تیزابی

یااسیدی خواص لری ډیر مرکبونه لری چی پوتاشیم پرمنګانت یی طبی اهمیت لری

**پوتاسیم پرمنګانت:**

لاسته راوړل:دلاسته راوړلو لپاره د**Pyrolusite** داکسایدونواومنګان مشتقات دطبی

میزان څخه د **$MnO_2$** په شکل استفاده کوی د**$MnO_2$** ویلی کیدوڅخه دالقلی سره په شین

تیاره رنګ بدلیږی .کوم وحت چی یوقوی اکسیدانت ورباندی علاوه شی په

**Permanganat** باندی بدلیږی $2MnO_2 + 4KOH + O_2$

$$2K_2MnO_4 + 2H_2O$$

$$2K_2MnO_4 + Cl_2 \rightarrow 2KMnO_4 + 2KCl$$

خواص :پوتاشیم پرمنګانت کرستلی شکل لری سوربنفش تیاره رنګ لری اوفلزی ځلاهم لری په اوبوخصوصآ په جوش اوبوکی ښه حلیږی

**کیمیاوی تعاملات :**

پوتاشیم پرمنګانت یوقوی اکسیدیشن کوونکی ماده ده اواکسیدانی حالت یی نظر په محیط سره فرق کوی .په القلی محیط کی قوی پوتاشیم پرمنګانت په پوتاشیم پرمنګانت بدلیږی چی شین تیاره رنګ اختیار وی.

$$2KMnO_4+2KOH+Na_2SO_4$$
$$2K_2MnO_4+Na_2SO_4+H_2O$$

په حنثی محیط کی دمنګان ولانس **7+** څخه **4+** ته تنقیص مرمی اوپه **MnO2**باندی بدلیږی

$$2KMnO_4+Na_2SO_3+H_2O$$
$$2MnO_2+3NaSO_4+2KOH$$

په تیزابی محیط کی په منګان دوه ولانسه **2+** باندی بدلیږی اورنګ یی دمینځه ځی

$$\longrightarrow \quad 2KMnO_4 +3H_2SO_4+Na_2SO_4 \quad ز$$
$$2MnSO_4+K_2SO_4+5Na_2SO_4+2HOH$$

استعمال :

پوتاسیم پرمنګانیت دانتی سپتیک مادی په حیث دبیرونی علظت په اساس دهعی داوبلن محلول څخه کاراخیستل کیږی اوهمدارنګه دزخمونودونځلولپاره په ولادی نسایی کی دغرغره کولپاره هم استعمال کږه ۲-۵ فصده دسوځیدنی په وخت کی ورڅخه کاراخیستل کیږی د۲.۰ فصده محلول څخه دمعدی په ونځلوکی دتسمماتودمورفین اوتریاکوکی کاراحیستل کیږی

هایدرو کاربنونه

هايدرو كاربنونه هغه عضوي مركبونه دي چې د كاربن او هايدروجن څخه جګړ شوي دي او عمو ما په دوه لويو برخو ويشل شوي دي يعني الفاتيک او اروماتيک .

الیاتیک هایدرو کاربنونه په څلور ډوله دي :  الکانونه ، الکینونه ، الکاینونه او سایکلو الکانونه چې الکلنونه او سایکلو الکانونه مشبوع دي ، الکینونه او الکاینونه غیر مشبوع دي .

اروماتیک مر کبونه په څلور ډوله سره دي : بنزین سلسله ،  نفتالین سلسله ،انتراسین سلسله او هترو ارومات .

لاندې شکل د هایدرو کابنو طبقه بندي څر ګندوي




الکانونه ( **Alkans**)مشبوع مرکبونه دي چې دکاربن اتمونه یې د هایدروجن اتموپه واسطه مشبوع شوي دي او عمومي رفورمول یې **$C_n H_{2n+2}$**

الکانونه د ځینو خواصو سره په لاندې جدولذ کې څر ګندیږي .

| نوم | فورمول | دویلیکیدو ټکی [$^{0}c$] | دایشیدو ټکی [ $^{0}c$ ] |
|---|---|---|---|
| Methane | $CH_4$ | –184 | –164 |
| Ethane | $C_2H_6$ | –172 | –89 |
| Propane | $C_3H_8$ | –190 | –42 |
| Butane | $C_4H_{10}$ | –135 | –0.5 |
| Pentane | $C_5H_{12}$ | –129 | –36 |
| Hexane | $C_6H_{14}$ | –94 | –69 |
| Heptane | $C_7H_{16}$ | –90 | –98 |
| Octane | $C_8H_{18}$ | –59 | –126 |
| Nonane | $C_9H_{20}$ | –54 | –151 |
| Decane | $C_{10}H_{22}$ | –30 | –174 |
| Undecane | $C_{11}H_{24}$ | –26 | –196 |
| Dodecane | $C_{12}H_{26}$ | –10 | –216 |
| Tridecane | $C_{13}H_{28}$ | –6 | –230 |
| Tetradecane | $C_{14}H_{30}$ | –5.5 | –251 |
| Pentandecane | $C_{15}H_{32}$ | –10 | –268 |
| Hexadecane | $C_{16}H_{34}$ | –18 | –280 |
| Heptadecane | $C_{17}H_{36}$ | –22 | –303 |
| Octadecane | $C_{18}H_{38}$ | –28 | –317 |
| Nondecane | $C_{19}H_{40}$ | –32 | –330 |
| Eicosane | $C_{20}H_{42}$ | –36 | |
| Pentacosane | $C_{25}H_{52}$ | –53 | |
| Triacontane | $C_{30}H_{62}$ | –66 | |
| Tetracontane | $C_{40}H_{82}$ | –81 | |

الکانونه د پارافین په نوم سره هم یادیږي چې په جامد شکل سره پیدا کیږي او په طبابت کې استعمالیږي

**د هایدرو کار بنو طبي استعمال**

مشبوع هایدرو کاربنونه انتیسیپتیک خواص لري ، مشبع هایدرو کاربنونهدچې د پارافین په نوم سره هم یادیږي په پازیو تراپي کې ورڅخه کار اخستل کیږي . برسیره پردې سره د مشبوع ایدرو کار بنو څخه په نیرو لوژی کې او په فرمسي کې د دواګانو په جوړولو کې هم کار اخستل کیږي ..

سایکلو پرو پان چې یو مشبوع کړېز هایدرو کار بن دی یوه قوي انستیزي ده چې په لوړ غلظت د اکسیجن سره یو ځای استعمالیږي .

## د هیدرو کار بنو هلو جنې مشتقات

کوم وخت چې د هایدرو کاربنو هایدرو جنونه په کلورن ، برمین اویا ایودین باندې بدل شي د هایدرو کاربنو هلو جني مشتقات لاسته راځي چې ځنې یې په لاندې ډول سره تر څیړنې لاندې نیسو .

### ایتایل کلو راید (C2H5 Cl )

ایتایل کلوراید یوه بیرنګه مایع ده محصوص بوي لري په اوبو کې په سختي سره حلیږي مګر په الکولو او ایتر کې په اساني سره حل ذاو مخلوطیږي .

که ایتان د کلرین سره یوځاي کړل ذشي دغه مر کب لاسته راځي .

$$C_2H_6 \quad + Cl_2 \quad \rightarrow \quad C_2H_5\,Cl \; + HCl$$

## دایتایل کلوراید طبي استعمال

ایتایل کلوراید یوه لنډ مهاله انستیزي ده او ځني وخت د لنډ مهاله انستیزي په شکل هم ترې کلر اخستل کیږي . باید په تیاره ځاي کې وساتل شي و اور په وړاندې زیات خطر لري .

### فلوتان یا هلو تان (C2F3 ClBr H )

فلو تان انستیزي ده چې په لمړنیو وختو کې د هغې څخه د بیهوشه کونکي مادې په حیث استعمالیده مګر اوس د فلوتان څخه کار نه اخستل کیږي .

### ایود و فارم ( CH3I )

دایودو فارم په تر کیب کې کاربن هایدرو جن او ایودین شتون لري ، ایودو فارم زیړ کرستلي پودر دی د جوش نقطه یي ۱۱۶- ۱۲۰ درجو د سانتیګراد پوري دی اومکروب وژونکی جاصیت لري په طبابت کي د زخمونو په ونځلو ور څځه کار اخستل کیري ، د پودرونو او ملهمونو په شکل ور څخه اخستل کیري .

ایودین د پروتین سره کامپلکس جوړوي او د مایکرو اورګانیزم د مینځه وړلو سبب کیري .

### الکولونه(Alcohol):

هغه مرکبات دي چې په هغې کې د **OH** ګروپ د کاربن سره اشتراکي رابطه نو لدې کبله الکولونه تیزابی او القلی خواص نلري مګر مګروب وژونکی خواص لري د الکولو مرکب وژونکي خواص د لارندې فورمول له مخی څرګندیږی.

$$R\text{-}OH \Longrightarrow R\text{-}O^- + H^+$$

## Alcoho Alcohri group د مکروب وژلو باعث کیږي

$CH_3$-$CH_2$-OH ====» $CH_3$- $CH_2$- $O^-$+$H^+$

**Ethanol** **Ethoxi- group**

د مکروبونو په وژلو کي ډیر موثره دي نو ځکه ایتانول په طبابت کي استعمالیږي.
الکولونه عموماً په دري لویو برخو ویشل شوي دی

| اولی الکول | دوهمی الکول | دریمی الکول |
|---|---|---|
| R-OH | فرمول R-$\overset{H}{\underset{H}{C}}$ – OH | R-$\overset{R}{\underset{R}{C}}$ – OH |
| CH3-OH | CH3-$CH_{CH3}^{OH}$ | CH3-$CH_{CH3}^{CH3}$ – $OH$ |
| Methonol | Iso propanol | Isobutanol |
| C2H2=OH | | |
| Ethanol | | |

**گلسرین Glyceral**: یو دري قیمته الکول دي چي د انسان د وجود په شحم کي د شحمی اسیدونو سره د **Tri glyceride** ترای گلسرید په نامه **Ester** جوړیږي.

**:CH2-OH**

**C3H5 (OH) 3»CH-OH=**

**: CH2-OH**

گلسرین شرینه مزه لري ادا هم مکروب وژونکی خواص پوستکی په نوم ساتلوکي ډیر د اهمت لري په اوبو کي ښه حلیږي.
نوپدي اساس هغه بوتلونه چي الکول پکي ساتل کیږي.
باید رنګه وي له لمر څخه لیری وساتل کیږي.

**CH3-**$\overset{O}{\underset{H}{C}}$ $+ HOH$»**CH3-CH2-OH+O2---------**

## Acetaldehyde

هغه الکونه چي نن ورځ ډیر استعمالیږي د نشایستی(**Starch**) د تحمر عملیه پواسطه الکول راسته راوړه.

**C2H5OH+CO2↑» n C6H12O6**$\frac{yeast}{D}$**»Strach ------**




**Gluces ------ Ethanal + Co2↑**

$$C6H12O6 ----- C2\ H5OH+Co2\uparrow$$

ایتایل الکول: یو اتمه الکول شیرینه مزه نلري مګر د **OH** په زیاتیدو سره د الکولو شیرینی زیاتیږي.

ایتایل د نشایستی څخه لاسته راځي پدې ډول چې د نشایستی د تخمر څخه په **140—150 CO** کې د امیلسی **Amylase** انزایم په شتون کې چې د خمیر څخه لاسته راځي الکول حاصلیږي.

$$(C6H10O5)n + n\ HOH \xrightarrow[P]{Amylase} nC12H22O11$$

**Starch** **Maltese**

$$C12H22O11 \xrightarrow[Hcl]{HOH} 2C6H12O6$$

**Maltese** **glucose**

$$C12H22O11 \xrightarrow[p]{Zymcse} 2C2H5\text{-}OH + 2CO2$$

**Glucose** **Ethanol**

ایتایل الکول په ترکیبی یا **(Senthyse)** سنتیز په طریقه لاسته راځي.

$$CH\equiv CH + HOH \text{--------} CH3\text{-}\overset{o}{C}\text{-}H \text{----} \xrightarrow[H2]{\text{کتله}} CH3\text{-}CH2\text{-}OH$$

خواص **Propertase**: الکول یو شفاف مایع ده مخصوص بوی لري، ترخه مزه لري په آبی رنګ سره چې رڼا یې کمه وي سوزی او په اوبو، اتیر، استیون او ګلسرول کې منحل وي.

استعمال:

الکول فارمکولوژي تاثیرات لري، په لمړی مرحله کې په مرکزی عصبی سیتم تاثیر کوي او هغه ضعیفوی او همدارنګه په تنفیسی سیستم هم تاثیر لري، ایتایل الکول په **70% ---50** پورې مکروب وژونکي حاصیت لري په اوبو کې ښه حلیږي په **78Co** کې په جوش راځي که چیری فیصدی د اتیایل الکولو د **80%** لوړیږي نو په هغه صورت کې الکول بصمو ښه کوونکی خواص اختیار دي چې د شرابو په نوم سره هم یادیږي.

تشحیص یا پیژندنه: معمولاً ایتایل الکول د استیک اسید سره د تعامل په صورت کې ښه پیژندل کیږي ځکه استیک اسید د مرکبانو سره استر **Ester** جوړوي.

$$CH_3\text{-}COOH + CH_3\text{-}CH_2\ \text{–}OH \xrightarrow[\Delta]{H2so4} CH_3\text{-}COOC_2H_5 + HOH$$

**Acetic Acid** **Ethanol** **Ethyl –acetate (Ester)**

## ګلسرین (Glycerin):

ګلسرین یو درې قیمته الکول دي چې د پروپان ترابول **Propantrios** پنوم سره یادیږي.

ګلسرین شیرینه مزه لري، په اوبو کې په هر نسبت سره حلیږي یو لزوجه مایع ده چې مکروب وژونکی خواص هم لري، ګلسرین د شحمیاتو څخه د القلی محلول د یو ځای کیدو په صورت کې اسانی سره لاسته راځي.

$$CH2\text{-}O\text{-}\overset{o}{C}\text{-}R \qquad\qquad CH2\text{-}OH$$

**CH-OH3+R-»+ 3NaOH -------** **:CH-O-$\overset{o}{C}$-R**

**CooNa**

**:CH2-O-$\overset{o}{C}$-R** **CH2-OH**

شحميات **glyxern** **Hydro xide** **(Eats)** صابون (شحمی مالگه)

د ګلسرين استعمال:
ګلسرين په طبابت کې ډېر استعماليږي معمولاً د پوستکی په نرمولو کې خواص لری چې د پوستکی نرمولو لپاره او د نراحبت پيدا کولو په فزيک کې راسته راځي

تشحيص يا پيژندنه: د ګلسرين د پيژندلو کې مصرف پوتاشيوم بای سلفيات دي، کوم وخت چې د ګلسرين څخه اوبه جلا کړل شي نو په هغه صورت اکرولين راسته راځي.

**$CH_2$-OH** -
**CH-OH** $\xrightarrow[\Delta]{H2so4\,\{0\}}$ **CH-OH**
**$CH_2$-OH** **$_2$HOH** **$CH_2$**

## الديهايدونه (Aldehsds):

الديهايدونه هغه مرکبونه چې د کاربوسيل ګروپ هم لري، د الديهايدونو ګروپ **(-$\overset{o}{C}$-H)** دی د الديهايدونه په اليفاليک او اروماتيک او هيترو سايلکت په شکل پيدا کيږي.
معمولاً الديهايدونه مکروب وژونکی خواص لري الديهايدونه په اوبو کې منحل دی، د الکولو د شخم څخه په اسانی لاسته راځي.

**$CH_3$-$CH_2$-OH -------** **$CH_3$-$CH_2$ -$\overset{o}{C}-OH$**

**Propanl ocl**

فارم الديهايد **40% (Formalin)**:
فارملين ډېر ښه مکروب وژونکی ماده ده چې په طبابت کې د مکروب مادې په حيث د زخمونو په ونځلو کې استعماليږي که چيری متيايل الکول **(Methanol)** تحمض شي نو فارم الديهايد لاسته راځي.

**CH3-OH+ (O) ----------** **H-$\overset{o}{C}-H\ \ +HOH$**

**Methanol** **Formalin**

د فارم الديهايد خواص: د فارم الديهايد بخارونه نامطبوع بوی لري، اوبو کې حليږي او د الکولو سره په اسانۍ سره مخلوط کيږي د فارم الديهايد محلول شفاف، بی رنګه او مخصوص بوی لري فارم الديهايد په **9co** کې پوليمير کيږي او سپين رسوب جوړوي.
استعمال: فارم الديهايد د مکروب وژونکی مادی په حيث د باکتريا لرونکو پروتين په مکروب وژلو کې هم استعماليږي **0,5%** محلول يي په جراحی کې د مکروب وژونکی مادی په حيث استعماليږي، شيږ

**(6)** مول فارم الديهايد چي د څلور مول امونيا سره مخلوط شي د **(Urotropin)** په نوم مرکب جوړوي چې ښه مکروب وژونکی ماده ده .

**6H-**$\overset{o}{C}\!\!:\; - H$ → **-------- (CH2)6 n4**

**Hexa Foramaldehyol**

**methylen Jetramin**

خواص: يو تروفين بی رنګه سپين کرستلونه جوړوي اوبو الکول او نو عضوی محللونو کې حليږي د تودوخی د لوړيدو په صورت کې تجزيه کيږي نو د رڼا څخه بايد لېرې وساتل شي .

کلورل هيدرنيټ **(Chlorol hexdrnt)** : دا مرکب په حقيقت کې ترای کلوريو اسيت الديهايد د هايدرشين څخه لاسته راځي،

$$\textbf{-H + HOH ---------- \{Ccl3-}\ \underset{OH}{\overset{OH}{C}}\ \textbf{-H\}}$$

$$\textbf{Cl3C-}\overset{o}{C}\!\!:$$

$$\textbf{C-}\underset{cl}{\overset{cl}{C}}\textbf{-} \qquad \textbf{HOH}$$

$$\overset{o}{C}\!\!: - H$$

Oxazol



Thiazol



Selenazol



1,2,4-Triazol



1,2,4-Oxadiazol



1,2,4-Thiadiazol



Tetrazol



Pentazol

b) شپږضلعي: چې یو د هیترو اتوم لري:



Pyridin



Phosphabenzol



Pyrylium Ion



Thiapyrylium Ion

شپږضلعي چې د نایتروجن زیات اتومونه ولري(Azine):



Pyridazin
(1,2-Diazin)



Pyrimidin
(1,3-Diazin)



Pyrazin
(1,4-Diazin)



1,2,3-Triazin



1,2,4-Triazin



1,3,5-Triazin



1,2,3,4-Tetrazin



1,2,3,5-Tetrazin



1,2,4,5-Tetrazin

## 1.13. د بنزين پر حلقې وصل هيتروارومات:

ددغه سلسلې په مرکباتو کې د هيتروارومات حلقه د بنزين د حلقې سره وصل وي او د (Benzologe) په نوم هم يادېږي او زياتره يې معمولي نومونه لري. کوم مرکبات چې معمولي نوم نلري نو پدې حالت کې د اساسي هيتروارومات (stammheterocyclus) او د بنزين د حلقې تر منځ وصل کوونکې اړيکه چې د هيتروارومات اولي موقعيت ته نږدې وي په قوس کې ليکل کيږي د مثال په توګه:



Indol
Benzo[b]pyrrol

Cumaron
Benzo[b]furan

Thionaphthen
Benzo[b]thiophen



Carbazol (Dibenzopyrrol)

Dibenzofuran

Dibenzothiophen



Isoquinoline

Benzo[g]Isoquinoline
(2-Aza anthracen)

Chinazolin

Benzo[f]Chinazolin



Quinoline

Acridin
(Benzo[b]Quinoline)
(Dibenzo[b,e]Pyridine)



Cinnolin

Phthalazin

Chinazolin

Chinoxalin



Phenazin

Benzo[g]cinnolin

Benzo[g]chinazolin

Benzo[g]chinoxalin

## 2.13. د هيتروسيکل سره وصل هيتروارومات:

په دغه سلسله کې اساسي هيتروارومات (Stammheterocyclus) د يوې هيتروارومانيکې حلقې سره وصل وي او ځينې مرکبات يې په معمولي نومو سره مشهور دي د مثال په توګه Pyrido[b]pyridine او Pyrido[c]pyridine د Naphthyridin او Pyrido[h]quinoline د Phenanthroline په نامه شهرت لري.

**دهیترو سایکلیک مر کباتو طبي اهمیت**

اهیترو سایکلیک مرکبونه په طبابت کې زیات استعمال لري چې د نمونې په توګه یي ځنې مثالونه تر ځیرنې لاندې نیسو .

پنسلین وي (Phenoxymdthylpenicillin )

داسي کیمیاوي مرکب دي چې په خپل تر کیب کې په کړي کې دوه هیترو اتمونه (سلفر،نایتروجن) لري او انتي بیوتیک دي چې د penicillin - v په نوم سره شهرت لري داسي در مل دي چې د معدي اسیدو په وسیله غیر فعالیږي دمثبت ګرام باکتریاو لکه ستر پتو کوک ،ستا فلیکوک ، او نومو کوک د کنترول لپاره ډیره مهمه ادویه ده .

سیفرا د ین ( Cephradin )

سیفرا ډین هم یو نوع درمل دي چې په خپل تر کیب کې هیترو اتمونه لري ، یوزیړ رنګه پودر دي په اوبو کې لږ حلیږي ، په الکول او لیتر کې نه حلیږي .

تنفسي سیستم دلارو سفلي انتا ناتو ( سینه بغل) اود وینې په انتا ناتو کې ورڅخه کار اخستل کیږي .

سیر یاکسون سودیم ( Ceftriaxon e sodium )

دامرب هم یو هیترو مرکب دي زیړ کرستلي شکل لري په اوبو کې په اساني سره حلیږي او په الکولو کې لږ حلیږي . په انتانې نارو غیو کې لکه د مفسلون درد ، د هډکو درد ،

سیپرو فلو کسا سین( Ciprofloxacin)

کمرنګه سپین پودر دي چې په اوبو کې په عملي توګه غیر منحل دي ، په الکول او میتایل کلوراید کې لږ حلیږي او په ر قیق اسیتیک اسید کې منحل دی .

طبي استعمال :

سیپرو فلو کسا سین یو ډیر مهم مرکب دي چې په پراخه پیمانه سره په طبابت کې استعمالیږي د مثال په ډول د مفسلونو او هدکو په انتناتو کې ور څخه زیاته ګټه اخستل کیږی .

ا و فلا کساسین ( Ofloxacin)

کمرنګه زیړ کرستلي شکل لري او د پودر په شکل سره پیداکیږي په اوبو کې لږ حلیږي او په اسیتیک اسید کې ښه حلیږي .

طبي استعمال :

په انتاني نارو غیو کې ، د بولي لارو په لږ او متوسطو انتاناتو (UTI ) ، جلدي انتانات اود پرو ستات په التهاب کې کارول کیږي.

## د منرالونواستقلاب ( Metabolism of Minerals)

منرالونه غیر عضوي مواد دي چې د بدن د وزن ډ یره کمه برخه جوړوی چې د

بد ن په ټولو بر خو کې شتون لري . کلسیم د بدن 2 فیصده او کوبالت 0.00004 فیصده د بدن جوړوي .

منرالونه د انسان د بدن په عضویت کې ډیري مو همي دندې تر سره کوي او د منرالونو مو جودیت د بد ن لپاره ډ یر ضروري دی لکه د هډ کو طبقه بندي ، د

و یني لخته کید ل د القلي او تیزابو توازن ، د مایعاتو او اسموتیک فشار توازن او تنظیم . ځنې منرالونه د ډ یرو مهمو بیو لوژیکي مر کبونو دیو بر خې په ډول وظیفه اجرا کوي لکه هیمو ګلو بین کې اوسپنه ، تایرو کسین کې ایودین ، په انسولین کې جست ، په ویتا مین $B_{12}$ کې کوبالت او کو انزایم په جوړښت کې سلفر شتون لری .

ځنې منرالونه د مرستند و یه عولمو په حیث د انزایمونو سره دنده سرته ر سوي لکه Cu,Mn,Mg,Zn او پو تاشیم (k ) .او ځني منرالونه د انزایمونو یو ضروري بر خې په توګه دنده سرته رسوي لکه Mo , $C_o$ او سلینیوم ( Se ) .

### د منرالونو طبقه بند ي

منرالونه په بنسټیز ډول سره په ما کرو منرالونو او میکرو منرالونو ویشل شوی دي.

ما کرو منرالونه هغه منرالونه دي چې د بد ن لپاره یي ور ځني اړتیا د ۱۰۰ ملیګرا م څخه کم وي او په لاندې بر خو ویشل شوي دی .

- ✓ Essential Trace Elements په دي ګروپ کي نکل ، مولبدین ، و نادیم ، کد میم او باریم شامل دي .
- ✓ Non Essential Elements په دې ګرو پ کې المونیوم ، سرب، سیماب ، بورون ، ، بسموت او نور شامل دي .

اوه (۷) اساسي عناصر یا ماکرو منرالونه چې د بدن د غیر عضوي موادو % 86 -60 جوړوي عبارت دي له Ca, p, Mg,Na, K,Cl او سلفر .

د ماکرو منرال او مایکرو منرال ځانګړ تیاوي په لاندې جد ول کې ذکر شوي دي .

| نوي سر چيني | ور ځيني اړ تيا | د کمبنت ناروغي | بنستيزي دندي | منرالونه |
|---|---|---|---|---|
| | | ما کرو منرالونه | | |
| شدي او د شدو محصولا ت<br>لوبيا ، او پانه لرونکي سبزيجات | 0.8 – 1 gr\day | Rickets<br>Osteomalacia<br>Osteoporosis | د هډ کو او غا ښونوپه جوړښت کې د عضلاتو په تقلص کې اود عصبي سيالي په انتقالکې رول لري | Ca |
| شدي اود شد و محصو لات | 0,8 – 1gr\day | Rieckets,Osteomalacia | د هډ کو او غاښونو په تر کيب کې ، هستوي اسيدونه ، کو انزايمونه اونور | P |
| شدي ، ميوي او سبزيجات | 300-350mg\day | Neuromuscular<br>Weaknessand irritation | د هډکو او غاښونوپه جوړښتکې اود انزايمونو مرستندويلکه کينيز انزايم | Mg |
| عادي د خوړو مالګه | 5 – 10gr \ day | Muscular<br>Weakness,MentalCOFUSION | د خارج الحجروي مايعاتو په تنظيم کې ، د عضلاتو او عصبي حجرو په وظيفه کې ، او اسموتيک فشار ، اسيد ، بيز په تنظيم کې رول لري | Na |
| حبو بات ميوياو سبزيجات | 300-35gr | عضلي کمزور تيا او دماغي تشوش | د داخل الحجري مايعاتو اساسي برخه<br>د اسيدو زيس په توازن کې، اسموتيک فشا ر او نور | K |
| عادي د خوړو مالګه | 5-10 gr\day | که غذايي رژيم نار مل وي هيڅ اعراض نلري | د تيزابو او القلي په توازن اود HCl په جوړولو کې | Cl |
| سلفر لرونکي امينو اسيد ونه | | ندي پيژندل شوي | د سلفر لرونکو امينواسيد ونو په جوړولو کې اود ځينو ويتامينونو په جو ړښت کې ښه رول لري | S |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| Fe | د Mb ، Hb او سايتو کروم په جوړښت کې رول لري | مايکر و منرالونه Hypp chromic ,Microcytic Anemia | 10 – 15mg\day | غوښه ، ځيگر ، زړه ، پاڼه لرونکي سبزيچات |
| Cu | Cytochrome-c ,oxidas,catalas,Tyrosinase انزايمونوپه جوړښت کي او د اوسپني په انتقال کي رول لري | Anaemia,Menkes Dises | 10- 15 mg\day | غوښه ، ځيگر ، زړه ، پاڼه لرونکي سبزيچات |
| I | Thyroxin and tri iodo tyronine | Cretinism,Goiter,Myexede | 150-200\day | شنو پاڼو لرونکي سبزيجات |
| Mg | Pyruvate carboxylase, Arginase,Glycoprotein په جوړيدنه کي | ندي پيژندل شوي | 2-9 mg\day | شنو پاڼو لرونکي سبزيجات |
| Zn | Alcohol Dehydrogenase,Carbonic Anhydrase and N.D.H انزايمونوسره مرستندوي عامل | Growth Rtardation ,poor WoundHeaiing | 10-15mg\day | شيدي ، غوښه، هگي |
| Mb | Xanthin oxidase انزايم په جوړښت کي رول لري | ندي پيژندل شوي | 75- 250 microgr\day | سبزيجات |
| Co | Vit B 12 په جوړښت کي رول لري | خبيسه کم خوني | 5-8 microg \day | هغه خواړه چي حيواني منابع لري |
| F | د هډکو او غاښونوپه سالمه وده کي مرسته کوي | Dental Carries,Osteoprosis | 2-4 mg\day | د څښلو اوبه |
| Se | د ويتامين (E) سره يو ځاي د انتي اکيدانت د نده تر سره کوي | Macular , Degeneration,Cardiomyopathy | 50-200 microg\day | غوښه ، ځيگر او زړه |
| Cr | د انسو لين د دندي په سرته رسولو کي مرسته کوي | Impaired Glucose ,TOLERANCE | 10-100 mg \ day | خمير ما يه، حبوبات او غوښه |

## کلسیم (Calcium)

د منرالونود جملي څخه کلسیم هغه منرال دي چې د انسان په بدن کې زیات شتون لري اود بد ن د وزن

1 – 5 Kg جوړوي چې (۹۹) فیصده یي په هډ کو او غاښونو کې شتون لري او یو ا ځي یو سلنه یي په عضویت کې ډیري مهمي دندي سر ته رسوي .

### د کلسیم بیو شیمیکي دندي

۱: د هډ کو او غاښونوارتقا . کلسیم د فاسفورس سره یو ځای د هډ کو د جوړی د ني او فزیکي کلکوالي لپاره ضروری دی ، هډ کي منظم نسجونه دي چې کلسیم یي دینامیکي حالت دی .

۲: د عضلا تو تقلص . کلسیم د Troponin - c سره یو ځاي کیږي اود عضلاتو د تقلص د تشدیدو سبب کیږي . همدا رنګه ATP فعالوي.

۳: د وینې لخته کید ل . د وینې د لخته کیدو د پرو سي د زیاتو تعاملاتو د منځ کړي او حاقي سبب کیږي

۴: Nerve Trans amination : کلسیم د عصبي سیالی د انتقال لپاره ضروري دی

۵: د غشا د نیمه نفوذ و ړ تیا په ساتلو کې : کلسیم د غشا د جوړښت په نارمل ساتلو کې او همدا رنګه د غشا څخه د اوبو او ځینې ایونونو په ا نتقال کې مهمه دنده سرته رسوي.

۶: د انزایمونوفعالیدل . کلسیم نیغ په نیغه د ځینو انزایمونوپه د فعالیت لپاره ضروري دی لکه : ATP

, Pancreatic Lippase او نور

۷: کلسیم د داخل الحجروي پیغام وړونکي په ډول

۸: دهورمونو په ازادید لو کي د مثال په ډول د اندوکراین غدې څخه د اناسولین اونورو هورمونوپه ازادیدلو که فعاله ونډه اخلي .

۹: په زړه باندې عمل : کلسیم د زړه په Myocardium باندې عمل کوي اودSystole مرحلي د اوږدوالي سبب کیږی .

### په غذ ا یي موادو کې یي اړتیا

کامل نارینه او ښځي لپاره د ورځي (۸۰) ملی ګرام ضرورت دي.

د امید واري په دوران کې او هغه میندي چې ماشوم ته شیدي ورکوي 1,5g\day

- کو چنیا نو ته چې عمر یي ۱ – ۱۸ کلو پوري وي 0,8 – 1.2g\day
- هغه کو چنیان چې عمر یي د یوه (۱) کال څخه کم وي 300- 500mg\day
- عالي منابع : شیدي او دهغې منا بع

- ښي منا بع . ماهي لوبيا ، كرم ،دهگي زير ، پانه لرونكي سبز يجات

جذ ب

د كلسيم جذ ب په زياته اند ازه سره په اثنا عشر كې صورت نيسي نو موړي يوه فعاله پرو سه ده چې انر ژي نه ضرورت لري اود زياتو عواملو په واسطه اغيزمنه كيږي چې ځنې عوامل ئي په لاندې په لاندې ډول كيږي .

۱: هغه عوامل چې د كلسيم جذب زياتوي

Vit - D دنموړي ويتامين فعال شكل Calcitriol پو سيله سرته رسيږي په دې ډول چې د كلسيم نښلونكي كلسيم نښلونكي پرو تين( Calcium Bindang Protien ) جوړيدنه د كلمو په Epithetial

حجر وكې زياتوي اود كلسيم د جذب د زياتوالي سبب كيږي .

برسيره پر دې سره نور عوامل په لاندې ډول سره دي .

- پارا تايرايد هور مون : PTH د Calcitriol د جوړيد نې د زياتوالي دلارې د كلسيم جذب زياتوي.
- PH : په ټيټ PH لرنكي محيط كلسيم ډير ښه جذ بيږي
- لكتوز : لكتوز د كلسيم اخستنه د كلمو د حجرو په وسطه زيا توي
- امينو اسيد : لايسين او ارجينين امينو اسيدونوپه وسيله كلسيم جذب زياتيږي.

۲: هغه عوامل چې د كلسيم جذ ب نهي كوي

- اكذلات اونوري غير منحل ما لګو جوړيد ل دكلسيم جذب نهي ګوي
- په غذائي رژيم كې د فاسفيټ زياتوالي : د فا سفيټ زياتوالي د كلسيم جذب نهي كوي
- از اد شحمي اسيدونه د كلسيم سره يو ځاي كيږي او په غير منحل موادو بد ليږي چې په نتيجه كې د شحم جذب خرابيږي نو د كلسيم جذب هم خرابيږي
- په القلي محيط كې د كلسيم جذب ښه صورت نه نيسي

## د پلا زما كلسيم

په وينه كې په زياته اندازه كلسيم شتون لري خو د ويني د حجرو په جوړښت كې د كلسيم اندازه ډيره كمه ده . په وينه كې د كلسيم نار مل غلظت 9 – 11 mg\dl دى چې (۵) فيصده يي ايوناېز شكل لري او دغه ايوناېز كلسيم ډير فعال دى( 1 mg \ dl ) د دغه مقدار څخه لږ د كلسيم فاسفيټ او كلسيتم ستريت په شكل او (۱۰) فيصده يي چې تقريبا 4.5 mg\dl كيږى د پروتين سره چې په زياته اندازه د د البومين اوپه كمه اندازه د د ګلو بو لين سره يو ځاي شوي وي .

ایونایز کلسیم ، کلسیم فاسفیټ او کلسیم ستریت ددط وړتیا لری چې د وینې د لارې حجرو ته او انساجو ته تیر ښي خو د پروتین سره یو ځاي کلسیم ددې وړتیا نلرې چې حجراتو ته تیر شي . په لابراتوار کې د کلسیم دریواړه شکلونه اندازه کیږي.

هغه عوامل چې د پلازما کلسیم اندازه کنترولوي ، ټول کلسیم د هضمي سیستم څخه جذ بیږي او په دوران کې د ځینو هورمونونو لکه :Calcitonine,Calcitriol, Parathyroid په وسیله په نار مل اندازه سره ( 9 – 11 mg\dl ) سا تل کیږي .

د پارا تایرو ئید هور مون ( Parathyroid Hormone ( PTH) ) مو همه دنده د وینې دکلسیم د لوړیدو ده چې د عمل لپاره درې مختلف نسجونه یعنې : د هډکو، کلمو او پښتورګو څخه عبارت دي .

۱لف: په هډ کو باندې عمل . PTH په هډ کو باندې د دې کلسیفیکیشن (Demineralization ) سبب کیږي ، پارا تایرو ئید په کلسیم باندې تاثیر کوي اود کلسیم د ضایع کیدو سبب کیږي خصو صا په هغه خوراکي موادو باندې چې د کلسیم اندازه یې کمه وي .

ب: په پښتورګو باند ې عمل : PTH په وسیله د پښتورګو په ټیو بیو لار برخه کې د کلسیم دوباره جذب زیا توي او په دې اساس د وینې د کلسیم سویه زیاتیږي .

ج: په کلمو باندې اغیزه . PTH په کلمو باندې غیر مستقیمه اغیزه لري په دې ډ ول چې کلسیتی ریول د لارې د کلسیم جذب زیاتیږي .

د: Calcitonine . نو موړی یو پیپتاید هورمون دی چې (۳۲) امینو اسید و نه لر ي د تا یراید غدي د Parafolicular حجرو څخه افرازیږي . د کلسیو تیونین اغیزي د کلسیم په استقلاب باندې په خلاف د

PTH عمل کوي او په دې ډول سره د کلسم مقدار په ادرار کې زیاتیږي او په وینه کې د کلسیم اندازه کمیږي .

په غاښونو کې کلسیم لکه چې مو دهډکو کلسیم ولید ه چې په دینامیک حالت کې دی خو د غاښونو کلسیم په دې ډول نه دی چې یو ځل د کاهلانو غاښونه جوړ شوه بیا پکې

Decalcification صورت نه نیسي د بلي خوا په ودي کونکو کوچنیانو کې د غا ښونو ښه او مناسب دیکالیکیفیکیشن ډیر اهمیت لری .

ریکیتس (Rickets ) : ریکیتس یوه ناروغي ده چې په دې کې د هډ کو په کا لیکیفیکیشن کې ګډ و ډې شتون لري کیداي شي چې نموړي په عضویت کې د ویتامین دي کموالي اویا په غذایي رژیم کې د کلسیم او فاسفیت اود دواړو د کمښت له کبله وي .کیداي شي چې د وینې د کلسیم او فاسفیت غلظت یي نارمل وي خو ځانګړي منظره یي د Alkaline

Phosphatase فعالیت زیاتوالي دي چې د ریکیتس په پیژندنه کې مرسته کوي .

## رینال ریکیتس Renal Rickets

ریکیت د پښتورګو د تخریب سره یو ځاي وي چې لدې کبله د کلسیتیرول په جوړیدنه کې نیمګړتیا پیدا کیږي نوموړی د ویتامین  د ي د عادې مقدار سره ځواب نه وائي چې نوموړی د ویتامین ریسیستېن رکیت D پنوم سره یا د وي .

ر ینل ریکیت کولي شو چې د کلسیترول په وسیله کنترول کړو.

## اوستو پروسیس (Osteoprosis)

استیو پرو سیس د هډکو دیمنرالیزیشن په وسیله مشخص کیږي چې په دوامدار ډول سره د هډکو کتله د لاسه ورکوي هغه اشخاص چې عمر يې د (۶۰) کلو ځخه زیات وي (دواړه جنسه) د اوستیو پرو سیس د خطر سره مخ دي چې نوموړي پیښي زیاتي پهPost Menopause ( کومي ښځي چې ماشوم ته تي ور کوي ) ښځو کې لیدل کیږي .

پدې ناروغانوړکې د هډکو ماتیدنه را مینځته کیږي چې د امریکا په متحده ایالاتو کې ۵۰ میصد پیښي د همدي ګډوډي له مخي پیدا کیږي .

اوستو پروسیس د دیو خاموش یا پټ غله په نوم سره هم یادیږي چې د دغه ګډوډي اسباب په سم ډول سره نه پیژندل کیږي بیا هم لاملونه شته د دهغې په پیژندنه مرسته کوي لکه :

- دویتامین دي ځخه د کلستروئیل جوړیدنه د غمر په زیاتیدو سره کمیږي په ځلنګړي ډول په شیدو ورکدو نکو ښځو کې .
- د حرکت کموالي اود منظم تمرین نه شتون د دواړه د هډکو د کتلي د کموالي سبب کیږي .
- دپه ښځو کې د جنسي هورمون کمښت  هم د شیدي ورکونکو ښځ، د پر مختګ لامل کیږي.

د رملنه

شیدو ورکونکو ښځو ته داستروجن ، کیسیم جمع ویتامین دي سره یو ځاي تو صیه کوي اود هډکو ماتیدو خطر به کم شی او زړو خلکو ته په لوړ مقدار سره کلسیم توصیه( 1.5 mg\day )

## فاسفورس (Phase Phosphor )

د یو کاهل بد ن یو کلو ګرام فاسفورس د فاسفیټ په شکل لري چې نموړي د عضویت په ټولو حجرو کې پیدا کیږي چې د دې جملې ځخه زیاته برخه د کلسیم سره (۸۰) فیصده د کلسیم سره یو ځاي د هدکو او غاښونوپه جوړښت کې برخه لری او (۱۰) فیصده د بدن فاسفیټ په په عضلاتو او وینه کې شتون لري . د قندونو، شحمیاتو او پرو تین سره یو ځاي وي او پاتې (۱۰) فیصدهړ په عضویت کې په مختلفو کیمیاوي مر کبونو کې تو زیع شوي دی.

## بیو شیمیکي و ظیفي

د فاسفورس بیو شیمیکي وظیفي په لاندې ډول سره دي

- فاسفورس د هډ کو او غاښونو د ارتقاع لپاره ډیر ضروري دی .د کلسیم د اخستنې پوري اړه لري
- د لوړي انر ژي لرونکو مر کباتو لکه ATP او GTP په جوړیدنه او مصرف کې رول لري .
- د فاسفو لپید او فاسفو پروتین او هستوي پروتینو( RNA,DNA ) لپاره ډیر ضروری عنصر دی.
- د ځینو نکلو ئیک اسید کوانزایم لکه : AMP,DMP,NADP,NAD,Pyridoxa-p کې هم یو ضروري او اساسی دندي تر سره کوي .
- زیات انزایمونه او پرتینونه د فاسفو ریلیشن په واسطه فعالیږي .

## غذائی ضرورت

د فاسفیټ غذایي ضرورت د کلسیم د اخستنې پوري اړه لري چې Ca:P = 1: 1 سره دی ، ورځیني ضرورت یي (۸۰۰) ملیګرام دی چې په شیدو خوړونکوکې 2:1 دی نموړي نسبت د انسانا نو په شیدو

جذ ب

د فاسفیټ جذب د وړو کلمو Jejunnum په برخه کې صورت نیسي .

- ✓ کلسیتریول د فاسفیټ اخستنه د د کلسیم سره یو ځاي سرته رسوي
- ✓ د کلسیم او فاسفورس جذ ب هغه و خت په ښه ډول سره صورت نیسي چې د کلسیم او فاسفورس نسبت ۱:۲اویا ۲:۱ سره وي .
- ✓ تیزابیت یي جذب زیاتوي او PH ytate د لمو په وسیله جذب کموي .

## د وینې فاسفیټ

د وینې د فاسفیټ سویه (۴۰) ګرام في دیسي لیتر ده خو په سیروم کې ( ۴) ملیګرام في دیسي لیتر ده

چې RBC او HBC په زیا ته پیمانه سره فاسفیټ لري د وینې فاسفیټ (۴۰) فیصده د ایون په شکل ، (۵۰) فیصده د نرو منرالو په شکل لکه سودیم، مګنیزیم ، کلسیم او پوتاشیم سره په کامپلکس شکل سره شتون لري. پاتي (۱۰) فیصده د سیروم فاسفیټ یي د پرو تین سره پهBound شکل سره شتونلري .
دابايد په یاد ولرو جي د وینې فاسفیټ سویه د ولږي په حالت کې لوړه وي اووروسته د غذا خوړلو څخه یي اندازه ټیټه وي دا لدې کبله جي چې د قندونوګلوکوز د خوړلو څخه وروسته فاسفیټ په

Phosphorylation Reaction کې په مصرف رسیږي .

ا طراح

د ورځي (۵۰۰) مليگرام پوري فاسفيټ يه ادرار کي خارجيږي .اود پښتورگو قد مه ( Threshold ) د فاسفيټ لپاره 2mg\dl د PTH په وسيله دغه فاسفيټ دوباره جذب د پښتورگو په تيو بولار برخه کې نهي کيږی .

مرضي حالتونه

- ✓ د سيروم فاسفيټ اندازه په هيا پو فارا تايرو ديزم کې لوړيږي او په هايپر فارا تايرو ديزم کې کميږي .
- ✓ د پښتور گو په شديدو نارو غيو کې د سيروم فاسفيټ سويه لو ړيږي اود تيزابيت سبب کيږي .
- ✓ په رينال ريکيت ناروغيو کې د سيروم فاسفيټ اندازه کمه او د الکلين فاسفيټ فعاليت اندازه لوړه وي .
- ✓ د شکري په نارو غانو کې د عضوي فاسفيټ اندازه ټيټه او د غير عضوي فاسفيټ اندازه لوړه وي

## مگنيزيم (Mgnesium )

ديو کاهل شخص په بدن کې (۲۰) گرام مگنيزيم شتون لري چې له دې جملي څخه (۷۰) فيصده يي په هډوکي د فاسفورس او کلسيم سره يو ځاي وي او ديرش (۳۰) فيصده يي په نرموانساجو او مايعاتو کې شتون لري .

د مگنيزيم بيو شيميکي دندي

- مگنيزيم د هډکو او غابښونو د جوړښت لپاره ضروري دي.
- مگنيزيم د ځينوانزايمونوسره چې ATP ته ضرورت لري د يو کږمکي عامل په ډول دنده اجرا کوي لکه فاسفو فرکتو کيناز (Phospho Fracto kinase ) انزايم او نور .
- د مگنيزيم ورځيني ضرورت د نارينو لپهره (۳۵۰) مليکرام في ديسي ليلر اود ښځينو لپاره (۳۰۰) مليگرام في ديسيي ليتر دي .
- د مگنيزيم جذب په کلمو کې د يو خاص پروتين په وسيله صورت نيسي چې په نارمل حالت کې

(۵۰) فيصده وي .

د زيات کلسيم او فاسفورس اخستنه او الکول د مگنيزيم جذب کموي اود PTH په وسيله يي جذب زياتيږي .

د سیروم مګنیزیم اندازه 2-3mg\dL ده چې (۶۰) فیصده یې ایو نایز شکل وي ، (۱۰) فیصده یې د نورو ایونوسره په تر کیبي ډول او (۳۰) فیصده یې د پرو تینو سره شتون لري .

مرضي حالتونه

- ✓ د مګنیزیم کموالي د ضعیفي او اختلاع سبب کیږي اعراض یې د کلسیم کمښت سره مشابي دي اود مګنیزیم د تطبیق په صورت کې له منځه ځي .
- ✓ په خوا ځواکي اود ځیګر په سیروزیس کې د مګنیزیم کمښت را مینځته کیږي
- ✓ د مګنیزیم د سویې کوالي کیداي شي په لاندې نارو غانو کې ولیدل شي.

Uremia , Rickets , Abnormal Pregnancy

## سود یم ( Sodium)

سودیم د خا رج الحجروي مایعاتو د اساسي کتیو نو څخه د ي چې (۵خ) فیصده په هډو و کو ، (۳۰) فیصده په جارج الحجروي مایعاتو کې او (۱۰) فیصده یې په ورو نسجونو کې شتون لري .

د سود یم بیو شیمیکی د ند ي

- د کلوراید او باي کاربو نیت سره یو ځای د تیزابو او القلي توازن په کنترول کې مهمه ونډه اجرا کوي .
- د ا سموتیک فشار په نار مل ساتلو کې او د مایعاتو په توازن کې مهم رول لري .
- د حجرو د نفوذ په وړتیا او دعضلا تو د نارمل دندو د اجرا لپاره ضروري دي .
- د ګلو کوز ، ګلکتوز او امینو اسیدونوپه جذ ب کې برخه اخلي .
- د نارمل کاهل اشخاصو لپاره ور ځینې مصرف 5-10 g\day چې د سودیم کلوراید د خوړلوڅخه یې پوره کوي . هغه خلک چې دلوړ فشار تاریخچه ولري په ورځ کې باید (۵) ګرام سودیم واخستل شي اوکوم کسان چې لوړ فشار لري باید د ورځې یو (۱) ګرام سودیم واخلي .
- سودیم په هاضمي سیستم کې ښه جذ بیږي او (۲) فیصده د غا یطه موادو سره جارجیږي خو په اسهالاتو کې زیات اطراح کیږي .

### پلازما سودیم

په پلا زما کې د سودیم اندازه 135 – 145 mEq \ L ده اود وینې په حجرو کې 35mEq \L ده .

منرال کترو کو ئید چې دچې د ادرینال غدي د قشري برخي څخه افرازیږي اود سودیم په میتا بولیزم باندې اغیزه لري .

اطراح : د سوديم د اطراح لويه لار د پښتورګو څخه عبارت دي چې د ورځې ۵۰۰ګرام سود يم فلتر کوي او ۹۹ فيصده ه يي په فعال ډول سره د تيبيو لار په برخه کې دوباره جذ بيږي چې نموړي پروسه د الد ستيرول هور مون په وسيله کنتروليوي ،

**مرضي حا لتونه**

- ✓ ها يپو نيتريميا : دهغه حالت څخه عبارت دي چط د سيروم سوديم اندازه د نارمل حالت څخه کمه شی چې اکثره د اسهالتو ، کانګو ود پښتورګو د مزمنو نارو غيو له کبله منځ ته راځي .
- ✓ هايپر نيتريميا . کله چې د سييروم سوديم اندازه د نارمل حالت څخه لوړه شي د

Hyper Natriemia په نوم سره يادېږي . اعراض يي د ويني د حجم زياتوالي اود فشار لوړوالي څخه عبارت دي .

- ✓ کله چې په چټک ډول سره دسوديم مالګه تطبيق شي په هغه صورت کې د سوديم سويه لوړيږي .
- ✓ دابايد په ياد ولرو چې د حاملګي په وخت کې د د ستريود هور مونونه اود پلا سيتا هورمونونه د سوديم او اوبو د احتباس سبب کيږي او دازيما منځته را ځي .

## پوتاشيم ( Potassium)

پوتاشيم يو داخل الحجروي اساسي کتيون دي اود حجري په خارجي برخهکې هم دندي سرته رسوي.

د پوتاشيم بيو شيميکي د ندې

- دتيزابو،القلي اود اوبو د توازن لپاره ضروري دي
- د داخل الحجروي ازموتيک فشار په تامين کې رول لري
- پا يرو ات کينيز انزايم (Pyruvate Kinase ) انزايم د خپل فعاليت لپاره پو تاشيم ته ضرورت لري .
- د صعبي سيالو د انتقال لپاره پوتاشيم ضروري دي
- خارج الحجروي پوتاشيم د زړه عضلات د تاثير لاندې راولي

د پوتاشيم ور ځيني شرورت 3- 4 gr پوري دي .

منابع يي کيله، نارنج، لوبيا، چور ګوړي او ځيګر دي .

د پوتاشيم (۹۰) فيصده په کلمو کي جذ بيږياويوازي (۱۰) فيصده د غايطه وادو دلاري اطراح کيږي

**د پلا ز ما پوتاشيم**

په وينه کې د پوتاشيم اندتزه 3.5- 5 mEq \L دي نموړي منرال په بنستيز ډول سره په ادرار کې اطراح کيږي چې اطراح ئي د نيزابو او القلي د توازن لپاره اغيزمنه ده .

د پوتشیم اطراح د الدو ستورو نیز (Aldosterones) انزایم په واسطه اسانیږي .

## مرضي حالتونه

په سیروم کې د پوتاشیم اندازه په ټاکلي حد کې ساتل کیږي چې د پوتاشیم د غلظت زیاتوالي یا کموالي دواره د خطر څخه ډک دي دا ځکه چې د زړه په عضلاتو باندې اغیزه کوي.

- ✓ هاپو کلا میا (Hypo Kalemia ) د سیروم غلظت کموالي ته وائي چې د لاندې عوا ملو پوري اړه لري .
  - دادرینال کار تکس زیاتوالي
  - د زیاتي مو دي لپاره د کارتیزون تطبیق
  - د داسي ریدي مایعاتو تطبیق چې پو تاشیم ونلري .
  - د انسولین په وسیله Diabetie Coba په تداوي کې

## اعراض اعلا یم

د عضلاتو کمزور تیا ، د E,C,G تیرات ، د پو تاشیم سیروم د غلظت لووالي او د هغه ما یعاتو تطبیق چې د پو تاشیم مالګي ولري .

## کلورین ( Chlorine)

کلورین د سودیم کلوراید یوه برخه ده اړو کلورین استقلاب د کلورین پوري تړلي دي .

د کلورین بایو کیمیکل فور میشن په لاندې ډول سره دي.

- کلوراید د تیزاب او القلي توازن ، د تایوراید توازن او ازموتیک فشار په تنظیم کې رول لري چې نموړي دندي یي د سودیم او پوتاشی سره د تعامل په نتیجه کې سرته رسیږي .
- د معدي عصاري د هایدرو کلوریک اسید د جوړوني لپاره ضروري دي
- د لاړو امیلاز انزایم د کلورین ایون په وسیله فعالیږي

دکلورین ایون ورځیني ضرورت د سودیم کلوراید په شان ( ۵-۱۰) ملیګرام دي چې په کاپي اندازه سره د سودیم کلوراید اخستل د کلورین ضرورت پوره کوي .اود کلرین ایون په نارمل حالت کې تقریبا ټول جذبیږي .

### د پلازما کلوراید

د پلزما کلوراید غلظت 95 – 105 mEq\L دی په C.S.F کې اندازه 125 mEq\L اطراح کیږي .

دکلورین ایون د پښتورګو 10mEq\L دي .

مرضي حالتونه

نسناستي ، کانګي ، تنفسي اسيدوسيس اوزياتي خولي .

## سلفر

سلفر په عضويت اکثره په عضوي شکل سره وي ، پروتين په خپل جوړښت کې سلفر لري ، هغه پروتين چې په عضويت کې شتون لري نمو ړي د وزن له مخې يو(۱) فيصد سلفر لري .

### د سلفر بيو شيميکي د ندې

د سلفر بيو شيميکې دندي په لاندې ډول سره دي .

- سلفر لرونکي امينو اسيدونه د جوړښت اود پروتينود بيو لو ژيکي دندو ( انزايمونه ، هور مونونه ،سا ختماني پرو تينونه او نور ) خورا ښه اهميت لري .
- سلفر د Lipoic acid , Biotin, Thaimin او Pantothenic Acid په جوړښت کې رول لري .
- ګلو تا تايون ، کندرو تين سلفيټ ، هيپارين او نور سلفر لرونکي مرکبونه دي .
- فاسفو ادينوسين فاسفو سلفيټ (PAPS ) يو فعال فاسفيټ دي چې په ځينو تعاتلاتو کې په مصرف رسيږي ..

د سلفر ورځيني ضرورت په ځانګړي ډول سره معلوم ندي په کافي اندازه دسلفر لرونکوامينواسيدونواخستل نموړي ضرورت پوره کوي .

### اطراح

د مختلفو مرکبونو څخه چې د سلفر اکسيدايز شکل د سلفيټ په ډول ځيګر کې م.

منځته راځي او په ادرار کې اطراح کيږي په ادرار کې (۸۰) فيصده غير عضوي سلففيټ اطراح کيږي ، عضوي يا مز د رج سلفيټ ۱۰ فيصده جوړوي او پاتي ۱۰ فيصده غير اکسيدايز سلفر دي چې د سلفر لرونکو امينواسيدوپه شکل اطراح کيږي .

## اوسپنه

د يو کاهل شخص په عضويت کې ۳-۵ ګرام پوري اوسپنه شتون لري چې ۷۰ فيصده د نموړي اوسپنې په ايروترو سيټيزد هيموګاو بين په جوړښت کې برخه لري. د ۵ فيصده څخه لږ اندازه په ميو ګلو بين کې برخه لري .

هيم د اوسپنې لرونکي ډير مهمخ مرکب دي چې د زنتو پين ، سايتو کروم ، مايو ګلو بين او نورو کې د انزايمونو په جوړښت کې شتون لري .

## د اوسپنې بيو شيميکي دندې

داوسپنېي بيو شيميکي دندې په لاندې ډول سره دي .

- اوسپنه خپله د هغه مر کبون دلارې سرته رسوي چې په هغې ی شون لري لکه هيموګلو بين ، مايو ګلوبين چې داکسيجن او کاربن داي اکسايد په انتقال کې رول لري .
- سايتو کروماوسپني او ځنې ان هيم پرو تينونه په الکترون چن او او کسيداتيو فاسفو ريليشن کې ضرورت دي.
- پر اکسيداز او او ليسو سو ميل انزايم د نيو ترو فيل پوسيله دباکترياو وژنې لپاره ضروري دي .

## ورځني ضرورت

د اوسپنې ور ځيني ضرورت په لاندې ډول سره دی.

- ✓ په کاهلا نو کې (۱۰) مليګرام په ورځ کې.
- ✓ دغير حامله ښځو لپاره ۱۸ مليګرام في ورځ کې
- ✓ د حامله او شيدو ورکونکو ښځو لپاره ۴۰ مليګرام في ورځ کې

## سر چيني

- غني منابع : د غړو غوښه، ځيګر ، پښتور ګي او زړه
- متوسط منابع: سبزيجات، ماهي ، منه ، وچي او تازه ميوي
- فقير منابع : شيدي او ګوړه

اوسپنه په معده او اثنا عشر کلمو کې جذ بيږي ، په نارمل انسا نانوکې ۱۰ فيصده اوسپنه جذ بيږي او هغه کسانچې د وينې کموالي لري اويا کوچنيان چې د ودې په حالت وي بيا دهغوي لپاره زيته اوسپنه ضرورت ده.

هغه عوامل چې د اوسپنې په جذ ب با ندې تاثير لري په لاندې ډول سره دي.

- سيستين ، اسيد يتي ،او ويتامين سی د اوسپنې په جذب کې ښه رول لري
- په کم خونې کې د اوسپنې جذب ۲-۱۰ جنده صورت نيسي .
- فا يتيټ او اکذالت چې په سبزيجاتو کې پيداکيږي د اوسپني په جذب کې ښه رول لري .
- هغه غذايي رژيم چې زيات مقدار فاسفيټ ولري د اوسپنې جزب کموي او بر عکس که د فاسفيټ مقدار يي کم وي د اوسپنې جذب يي زيات دي .

- په هغه نارو غانو کې کې چې په هغوي کې يوه برخه د کلمو يا د معدي د جراحي عمليي په واسطه لري شوي وي په هغې کې د اوسپنې جذب کم صورت نيسي .

## اوسپنه په مخاطي حجرو کې

اوسپه په مثبت دوه ولانس (بيروس) په شکل سره جذ بيږي د ننه مخاطي حجرو ته ځي د بر اوکسيداز انزايم په واسطه په دري ولانسه اوسپنه (فرک) باندې بدليږي بيا د ا فو فر ميتيم سره يو ځاي کيږي او په فر ميتين بد ليږي چې دا يو لنډ مهاله ذخيروي شکل دي د مخاطي حجرو څخه پلا زما ته داخليږي اودا د عضويت د ضرورت په اساس صورت نيسي اوروسته اوسپنه ور څخه ازاديږي .

## په پلا زما کې د اوسپنې انتقال

په دې وخت کې د مخاطي حجرو د پريتين څخه ااو دوران کې وسپنه ازاديږي او دوران کې د فرس په شکل وي په دې ځاي کې د مس لرونکي پرو تين (سيلورو پلا سمين ) پوسيله د اوسپنې اوکسيديشن صورت نيسي او په دري ولانسه اوسپنه (فرک) بد ليږي لدي نه وروسته د فرک شکل يو ډول پروتين سره يو ځاي کيږي چې د Transferrins په نوم سره ياديږي چې دا يو ګلايکو پروتين تر ۹۰۰۰۰ پوري ماليکولي وزن لري اود هر مالکول سره دوه اتمه د فرک اوسپنې سره يو ځاي کيږي د پلزما ترانسفيرين غلظت 250 mg\dl دي کيداي شي چې 400mg\dl اوسپنه ور سره يو ځاي شي چداد

Total Plasma Binding Capacity په نوم سره ياديږي .

## دواسپنې ذ خيره

اوسپنه په ځيګر توري اود هډ کو په مغز کې ذخيره کيږي (Feritin په شکل ) ،په مخاطي حجرو کې د اوسپنې ډخره په موقتي ډول سره وي د ا پو پرو تين يو ماليکولي وزن د ۵۰۰۰۰۰پوري دي چې د ۴۰۰۰ پوري د اوسپني ماليکولونه ور سره يو ځاي کيداي شي .

هيموسيدرين د اوسپنې يو بل ذ خيره وي پرو تين دي کولي شي چې د دوران په اساس ۳۵ فيصده او سپنه ذخيره کړي ..

هر کله چې د اوسپنې ذخيره د ضرورت څخه زياته شي پهتوري او ځيګر کې تراکم را منځته کيږي .

د اوسپني استقلاب په تړلي شکل سره تر سره کيږي يعني په مو ثر ډول سره مصر فيږي او بيا د مصرف شوي اوسپنې څخه دوباره عضويت ور څخه ا ستفاده کوي . د عضويت څخه دورځي يو ملی ګرام څخه کمه اوسپنه ضايع کيږي چې معمولا د ادرار له لاري خارجيږي ..

اوسپنه د ويتامينواو نور عضوي او غير عضوي موادو سره فرق لري دځکه چې نور مواد داستقلاب وروسته غير فعاليږي اود وجود څخه اطراح کيږي مګر اوسپنه داسي نده ځکه چې داوسپنې څخه دوبارهګټه اخستل کيږي.

په حامله ښځو او ماشومان چې د ودي په حالت کې وي د اوسپنې مصرف زيا تيږي .

## مرضي حالتونه

Iron Defiancy Anemia دا په ټوله نړي کې د تغذي یو عام تشویش دي حتا په لوړو پر مخ تللو هیوادو (USA کې هم وا قعات لیدل کیږي .هغه عوامل چې له دي سره مرسته کوي دادي.

- په کا پي اندازه د اوسپني جذب نه اخستل
- Chronic BloodLoes
- کلک Vegeterian خلک هم د اوسپني د کمبود سره کمخونې ته میلان پیدا کوي .
- د انهیباتور شتونچې د اوسپني د جذب مخه نیسی.

## مس ( Cupper)

مس هم ډیو مهم عنصر دی چې په عضویت تقر یبا ۱۰۰-۱۵۰ ملي ګرام پوري مس شتون لري . Adult ------------------------ 100- 150 mg

65 mg ----------------------- in muscles

23 mg ----------------------- bones

18 mg ----------------------- liver

Erythrocuprien یو بیرنګه پرو تین دي چې دوه اتومه مس لري مالیکولي وزن یي تقریبا ۳۳۰۰۰ زرو پوري رسیږي .ابسور بشن په اثنا عشر کې جذ بیږي ، د خوراکي موادو ۳۳ فیصده مس جذ بیږي .

نقره ، کی میم ، مولبدین ، جست او سیماب او د زیات ویتامین سي شتون د مسو جذب نهی کوي .

د مسو جذب د یو ځانګړي میکانیزم په وسیله صورت نیسي په دې ډول چې د لاړو او دمعدي په عصاره کې یو ځانګړي پروتین شتون لري چې د مسو سره یو مقلق جوړوي اود کلموپه PH کې مس منحل سا تي ورو سته لدې څخه د کلمو مخاطي حجرو ته ننوځي او د ننه په حجرو کې

Metalothionine په نوم پروتین سره یو ځاي کیږي چې دایو داخل الحجروي پروتین دي مس د حجروي غشا تیریږي او دوران ته ننوځي په دامینواسید (هستیدین) او دوراني البومین سره یو ځاي کیږي ، جذب شوي مس دیوه ساعفت څخه په لږ وخت کې د دوران څخه لري کیږي اود ځیګر په وسیله اخستل کیږي چې په لاندې ډول سره دوه لاري سرته رسوي .

۱: مس دهاضمي لاري ته د صفرا لاري اطراح کیږي نموږي د دوهم ځل لپاره نه جذ بیږي بلکي په نور مال ډول سره بدن کې پاتي کیږي .او د زیتوالي په صورت کې مس د غایطه موادو له لارې اطراح کیږي .

۲: په ځیګر کې یو نوع پروتین جوړیږي چې د ګلایکو پرو تین په نوم سره یادیږي اود مسو لیږ دیدنه اسانوي .

سیروم مس 90 micgm \dl پوري دي

RBC = 93 – 115 micgm\dl

د امید واري په حالت کې د ښځو د وجود مس زیاتیږي او په RBC کې نار مل حالت لري .

## اطراح

خوړل شوي مس ۹۹.۷۵ فیصده د غایطه سره د بدن څخه وځي او د تشو میتازو سره۱.۱۵ و ځي .

ور ځیني اړتیاوي یي دادي .

- مس د زیاتو انزایمونو د برخي په توګه دنده تر سره کوي لکه : او کسیداز ، سایکلو کروم او نور
- مس د هیموګلوبین د جوړیدني لپاره ضروري دي .
- مس د لیسایل اکسیداز په انزایم کې شامل دي
- د میلنین د جوړیدني لپاره مس ضروري دي
- د هډ کو او عصبي سیستم د ارتقاع لپاره مس ضروري دي
- هیموکوپرین په خپل جوړښت کې مس لری .

## غذا یي ضرورت

د ځوانان ورځیني ضرورت 2-3 mg \day دي اود کوچنیان لپاره چې عمر یي دیوه کال څخه زیات اویا کموي 0.5 – 2 mg \day دي

## منابع

د مسو منابع عبارت دي له ځیګر ، پښتورګي ، غوښه د هګي زیر ، زړه او شنه پاڼه لرونکي نبا تات ،

## د پلا زما مس

په پلزما کې د مسو اندازه 100 – 200 mic gr\ Dl ده چې ۹۵ فیصده یي سیلورو پلازمین سره یو ځاي شوي او ۵ فیصده یي د البونین سره د سست په ډول اتصال لري .

په وينه کې د زيلو رو پلازمين اندازه25 – 50 mg\dL ده او هر ماليکول يي o,34% مس لري .
په هر ماليکول کې يي د ۶- ۸ پوري دمس اتمونه سره يو ځاي کيږي چې ۵۰ فيصده يي د د مس مثبت دري او ۵۰ فيصده يي د مس صفر شکل لري .

د مسو دکمښت لکبله د هډکو او عصبي نسجونوناروغي پيدا کيږي . برسره پر دې سره د بدن دوزن کموالي او ځني وخت د مړيني سبب کيږي .

علاوه پر دي سره ځني نوري ګډ وډي لکه دوېښتانو د رنګ بدلون ، ارثي ګډ وډي ، د پښتورګو تخريب او نور منځ ته راوړي .

درملنه : په در ملنه کې Pencillsmine ور کول کيږي .

## ايود ين ( Iodine )

ايودين يو هلوجن دی په جامد شکل سره شتون لري په عضويت کې د ۲۵ مليګرام پوري دي چې ۸۰ فيصده يي په تايرايد غده کې ا وپاتي يي په عضلاتو، دلاړو په غدو کې ، او تخمدانو کې شتون لري .

## د ايود ين بيو شيميکي دندي

دا يو دين بيو شيميکي د ندي په لاندې ډول سره دي .

يوا ځيني دنده د ايودين چې پيژند ل شوي ده هغه هغه دتايرايد هورمون د جوړيدنې لپاره ضروري دی چې د Thyroxin ($T_4$) او Tri Iodothyronine($T_3$) په جوړښت کې برخه لري چې ډيري موهمي پتالو ژيکي دندې سرته رسوي .

## ورځيني ضرورت

د ځوانانو لپاره 100 – 150 mg\day اود حامله ښځو لپاره 200 mg \ day ضرورت دي.

## د ايود ين جذ ب ، ذ خيره او اطراح

په کوچنيو کلمو کې ايودين د ايو دايد په شکل جذ بيږي . په نارمل حالت کې د غذايي رژيم (۳۰) فيصده ايودين په وړو کلمو کې جذ بيږي ، همدارنکه دايودين جذب د سږ و او پوستکي په واسطه هم صورت نيسي ، دايودين (۸۰) فيصده د ايودو تايرو ګلو بيولين سره يو ځاي دي اکثره د پښتور ګو دلارې اطراح کيږي .

## د پلا زما ايود ين

د بلا زما ايود ين 4 – 10 mg \ dL دي چې اکثره يي Protein Band Iodin (PBI) دي او دوراني تايرايد هور مونوکې هم ايودين شتون لري .

## منګانیز ( Manganese )

منګانیز یو انتقالي فلز دي په مجموعي ډول سره په عضویت کې ۱۵ ملیګرام شتون لري ، ځیګر او پښتورګي د منګانیز څخه غني دي اود حجرو په هسته کې د هستوي اسیدونو سره یو ځاي شتون لري

### د منګانیز بیو شیمیکي دندي

- اکثره انزایمونوسره د مرسنتد و یه عامل په توګه دنده سرته رسوي لکه : Arginase, , Pyro vat, Dehydrogenase اونور .
- منګانیز د هډ کو جوړید نې ، مناسب تکثر اود عصبي سیستم په نارمل دندو سرته رسولو کې ښه رول لري
- د هیموګلوړدنه کې ښه رول لري
- د شحم پر ا کسید یشن لپاره ضروري دي
- د کو لسترول جوړیدني لپاره منګانیز ضروري دي .

### غذائي ضرورت

د منګانیز ور ځیني ضرورت په قطعي ډول سره معلوم ند ي 2-9 mg\day کاهل انسان لپاره دي .

منا بع : چاي ، پاڼه لرونکي سبزیجات ، میړي او زړي

جذ ب : د خوراکي موادو ۳-۴ فیصده پوري منګانیز په نارمل حالت کې د کوچنیو کو لمو په وصیله جذ بیږي او اوسپنه یي جذ ب نهي کوي .

### د پلا زما منګانیز

د سیروم منګانیز اندازه 5 – 20 mg \ dL ده دغه سیروم کې د یو ځانګړي انتقال د پروتین سره یو ځاي دي .

### مر ضي حالتونه

- په ځیګر کې د شحمو تجمع
- د پانکرانس ذ بیتا د حجرو د فعالیت د کموالي سبب کیږي .

**جست**

د انسان په عضويت کې تقريبا ۲ گرام مجموعي مقدار د جستو رسيږي چې د پرو تاست غده د جستو څخه غني دي چې د ۱۰۰ ملي گرام پوري جست لري . په بنستيز ډول سره جست يو داخل الحجروي فلز دي .

د جستو بيو شيميکي د ند ي

- جست د انزايمونوسره د يوي برخي په توگه دنده سرته رسوي لکه :الکلين ، يسمي تاز ، سو پر اکسايد، کار بونيک ، انهايدريز ، الکول د ي هايدرو جيناز او نور
- دا چې جست د سو پر اکسايد دسمتيز انزيم په جوړښت کې شامل دي او نموړيانزايم حجري د ازادو راديکالو د خطر څخه ژغوري نولدي کبله جست د انتي اکسيدانت دنده هم تر سره کوي .
- د پا نکراس په بيتا حجرو کې د انسولين د جوړيد نې او ذخيري لپاره د جستو شتون ضرور ي دي لکه Globin Zn Insulin.او Protamine Zn Insulin کې.
- د انسوليدن افراز په زياتوالي سره د پانکراس د جست د کموالى سبب کيږي او همدارنگه د شکري په نارو غي کې د جستو مقدار په پانکراس کې کميږي .
- جست په ځيگر کې د ويتامين A سويه نارمل ساتي
- د جستو شتون دمناسب تکثر لپاره ضروري دي

منابع : دجستو منابع عبارت دي له : غو ښه ،هگي ،شيدي ، لو بيا او زړي .

جذ ب : جست په اثنا عضر کې جذ بيږي ، د جستو ذ خيره د حيواني منابع څخه په تنباتي منابع کې ښه صورت نيسي اود جستو جذب دميتال تو نين پوري اړه لري .

د سيروم جست : په سيروم کې 100mg\dL جست شتون لري . په RBC کې جست د 1.5 mg\Dl موجود دي .

مر ضي حالتونه :

- د جستو له کمښت له کبله Loos, Anemia , Poor Wound Healing او روحي تشوشاتو سبب کيږي .
- هغه رو حي تشوشات چې په مزمنو الکوليک خلکوکې ليدل کيږی امکان لري چې د جستو د کمښت له کبله وي .

## . قند ونه( Carbohydrate)

مونږ په دې څپرکی کې قندونه ، د قندونو پيداييښت او اهميت ، د قندونو ډولونه ، مونوسکرايدونه ، ساده

قندونو جوړښت ، د قندونو تعاملات ، د قندونو ارجاع ، د قندونو تحمض ، د قندونو تعامل دهايدروکسل امين سره ، د قندونو تعامل دهايدروجن سيانايد سره ، د قندونو تعامل د فينيل هايدرازين سره ، د اسيدونو عمل په قندونو باندې ،د ګلوکوز تعامل د هايدروجن سيانايدو سره ، د ګلوکوز تعامل دهايدروکسيل امين سره ، او د ګلوکوز ارجاع په ساربيتول باندې ، د ساربيتول اهميت د انسان په وجود کې ، د ګلوکوز تحمض يا Oxidation په نتيجه کې ګولوکونيک اسيد جوړيدل ، د ګولکونيک اسيد اهميت او رول د انسان په بدن کې ، د ګلوکوز تعامل د فينيل هيدارزين سره ، د ګلوکوز تبادله په فرکتوز باندې ، د يو قيمته قندونو څخه ډای سکرايد جوړيدل ، د يوقيمته قندونو څخه پولي سکرايدونو جوړيدل ، د ګلوکوز اهميت په عصبي سيستم کې ، د سکروز ماتيدل په ګلوکوز او فرکتوز ، د مالتوز ماتيدل په دوه موله ګلوکوز باندې ، د لکتوز ماتيدل په ګلوکوز او ګلګتوز باندې ، د قندونو مهم بيولوجيکي مشتقات ، پولي يول ، پنتوزونه ،ډای اکسی شوګر ، ډی مانوز ، نيورامیک اسيد، سياليک اسيد،د قندونو او نورو مواد و نسبتی خوږوالی ، د سکروز او نورو اوليګو سکرايدونو څيړنه ، کېتين ، نشايسته ، د نشايستی طبعی منابع ، ګلايکوجن پارچه کېدل، د کسترانوز، مخلوط پولي سکرايدونه، ګلايکوسايدونه، په قندونو باندې د القلی تاثيرات ، ايترجوړيدل ، د قندونو پيژند ل د فهلنګ او بندکت محلولونو په واسطه ، د قندونو استر فکېشن ، د قندونو فاسفوريليشن ، د يورانيک اسيد ، نيوراميک اسيد ، ډای اکسي شوګر ډای سکرايدونه ، سکروز ، مالتوز ، د شيدو قند يا لکتوز، تتراسکرايدونه ، پولي سکرايدونه ، نشايسته او ډولونه يې ، د قندونو استقلاب ، د ګلوکوز استقلاب ، فرکتوز استقلاب ، ګلايکولايزز ، ګلايکوجن جوړيدل ، د ګلايکوجن ماتيدل ، د ګلايکوجن ذخيروي ناروغی ، ستريک اسيد سايکل ، په تنفسی زنځير کې د الکترون ترانسپورت سيستم ، په بدن کې د ګلوکوز سوځيدل

په بدن کې د ګلوکوز د سوځيدو تعاملات ، د پنتوز استقلاب ، ګلاکتوز استقلاب ، د امين لرونکې قندونو استقلاب ، د کاربو هايدريتو د استقلاب نورې لارې ، د ګلوکوز څخه د يست (خميرمايه )په واسطه د الکولو جوړيدل ، د ګلايکولايز زمعکوس عمليی ګلوکوز ترکېب ، د ګلايکوجن ترکېب او د ګلايکوجن ماتيدل، د ګلايکوجن د جوړيدو او ماتيدو کنترول ، پنتوز فاسفيت ، ګلوکونيوجنيشن ، د ګلوکوز د استقلاب نوری لارې ، د ګلکتوز استقلاب، لابراتواری څيړنه ، څيړنيزه تجربه ، د شکری ناروغی په برخه کې تدابيرونه ، او په اخر کې په عملی توګه په ۳۰۰ کسانو باندې د ګلوکوز عملی څيړنه او د شوګر معيار په واسطه د ګلوکوز مقدار معلومول شامل دي .پته دې پاتي نه وی چې زما دغه څيړنيزه موضوع د ښوونې او روزنې پوهنځی دريم صنف ، د کرنې پوهنځی دريم صنف او د طب پوهنځی د دوهم صنف د بيوشيمي مضمون د درسي مفرداتو سره مطابقت لري او عملا تدريس کيږي.د حيواني اونباتي پروتوپلازم جامدو موادوغوره برخه د عضوي مرکباتو درې مهم ټولګي جوړوي چې هغوي عبارت د قندونو، شحمياتو او پروتينو څخه د ي . حيوانات ټل نباتات او نباتي محصولات او د نورو حيواناتو نسجو نو څخه ګټه اخلی او قندونه د حيواناتو لويه غذايي برخه جوړوي ، څرنګه چې دا ډول مواد د عضوي مرکباتو ډيره مهمه برخه په حياتی کېميا کې ده. لدې کبله پوهيدل او څيړل يې په دې څير نيزه رساله کې ډير ضروري دي .(78:6.)

## 26 .1. د قندونو پيدايښت اوعمومي اهميت

قندونه نسبت ټولو عضوي مرکباتو ته په طبيعت کې په زياته پيمانه پيداکيږي ،ځکه چې دا د نباتاتو ډيره لويه ساختما ني برخې جوړه وي او هم تر يوې اندازې پورې د ټولو حيواناتوپه عضويت کې پيدا کيږی، Cellulose يوډير مهم قند دي چې د لرګي اونباتي اليافو په جوړښت کې پيدا کيږي .نشايسته هم په زياته اندازه په طبيعت کې شهرت لري .مخصوصا دا مواد په حبوباتو ، ميوه جاتو او نباتي ريښنو کې د غذا يې ذخيرى په حيث پخپله د نباتا تو لپاره اوهم د لويوقندي منابعو په حيث د انسانانو پواسطه په کاروړل کيږي.;sucrose يا بوره دګلانو په عصاره،ميوه جاتو او په ډيرو نباتاتو کې مخصوصا په ګنيو او چغندرو کې پيداکيږي اوپه صنعت کې په زياته اندازه د همدي منابعو څخه لاسته راځي پنتوزPentosans په زياته اندازه د نباتاتو د دانو په پوستکو کې ليفي ساختمانونو او نباتي صمغو کې پيداکيږي ، ګلوکوسايد ونه (Gluosides)چې د قندو د مشتقاتو څخه دي اکثره په نباتاتوکې پيداکيږي او يو شمير ددوي د مهمو درملو دجملي څخه شميرل کيږي پدې ډله کې د ايجتيليز ( digitalis)ګلوکوسايدونه شامل دي چې د زړه د ناروغی د درمل لپاره زيات استعماليږي ، دوه ساده قندونه چې ګلوکوز او فرکتوز دي تقريبا په کمه اندازه په ټولو نباتاتو کې پيدا کيږي ، قندونه او دهغې مشتقات په ټولو حيواني نسجونو ، د نسج مايع، وينه او په شيدو کې پيدا کيږي.همدارنګه په کم يا زيات مقدار په حيواني افرازاتو او اطراحيه موادو کې هم ليدل کيږي. زمونږ ورځني خوراک د قندو مختلف ډولونه لکه نشايسته،dextrins،بوره اوLctoseايا شيدو قند جوړوي تر څو چې دا مواد په ګلوکوز ،اويا د خپلو نورو ساده قندو په اجزاو باندې چې د جذ ب وړ د ي بد ل نه شي دعضويت لخوا په کار نه وړل کيږي.ګلوکوز د ويني اود بدن د نورو مايعاتو يو اساسي قند دي دهغه مقدار په وينه کې تقريبا سل مليګرامه په سل ملي ليتره کې دي او د diabetes mellitus په واقعاتو کښې مقدار په وينه کې ډيرلوړ ځي چې د hyperglycemia په اصطلاح باندې ياديږي،کبدد ويني څخه ګلوکوز اخلي او د هغې يو زيات شمير ماليکولونه يو د بل سره وصلوي او يو polysaccharide چې glycogen نوميږي جوړوي ،ګلايکوجن يوه قندي ذخيره ده څه وخت چې د ويني د قند سويه د طبيعي حدودو څخه ټيټه شي دا ذخيروی قند بيرته په ګلوکوز باندې ټوټې ټوټې کيږي اووينې ته ځي ، عضلات اونور نسجونه هم ګلوکوز د ګلايکوجن د جوړولو د پاره د ويني څخه راباسي او دا ګلايکوجن د يو سلسله مغلقو کيمياوي تعاملاتو پواسطه ماتيږي او ضروري انرژي د نسجونو دپاره برابروي، د ويني قند د مغزود نسج د پاره د يوې مستقيمې غذا په څير وظيفه سرته رسوي ،او د ضرورت په وخت کې هغه د دوراني ويني څخه اخلي د تيونو غدې ګلوکوز د ويني څخه نيسي، ګلوکوز د لاتين د gleukos له کلمې څخه چې د خوږشراب په معنا دي مشتق شويدی، او يوه برخه يې په بل ساده قند چې

galactoseنوميري بدلوي ، وروسته يو ماليکول د ګلکتوز د ګلوکوز د يوه ماليکول سره يو ځای کيږي لکتوز ياد شيدو قند جوړوي،ګلوکوز د ټولو نسجونو پواسطه د انرژي د برابرولو د پاره سوځي او تقريبا د عضويت د نيمايي نه زياته انرژي د ګلوکوز د سوځيدلونه لاسته را ځي ، کاربوهايدرېټونه په يو ژوندي ماده کې ډيرې مهمي وظيفي سرته رسوي ، د مثال په توګه ځيني ساده قند ونه د pyrimidines.purines او phosphate سره وصليږيNucleic acidجوړوي،يا دوې دپروټينوسره نښلي او glycoproteins جوړوي يا د Lipideسره وصليږي glycolipids جوړوي او يا يې د ځينو الکولو سره وصليږي glycol alcohol جوړوي اويا د نورو عضوي ګروپو او sulfate سره وصليږي mucopolyscharide او د کاربوهايدرېټ نور مربوطه مشتقات جوړوي ،اودوی د قندو د ډيرومهمو بيالوجېکي دندو يو څو غوره مثالونه وو چې يادونه يې وشوه ،لکه څنګه چې پورته ذ کر شول د وې د ګلوکوز او د ګلايکوجن په څير د حيواني عضويت د پاره د انرژي لمړني منبع ده ، نشايستي چې د photosynthesis د عمليي پواسطه جوړيږي په نباتاتو کې د ذخيره شوي انرژي غوره ښکل دي ، د سلو لوز په څير دوی د نباتاتو د حجري دcell wallبرخه جوړ وي ،دوی د مغلقوپوليميرو په څير د مايکرو اورګنيزمو خارجي محافظوي cell wall جوړ وي،د ګلوکوزد ميتابولايټوپه څيردوی د ډيرو حياتي بيولوجېکي موادو د biosynthesis لپاره لمړني مواد برابروي ،پدې جمله کې پيورينونه، پريميدينونه ،ځني امينواسيدونه ، cholestrol. Porphyrinsاو مشتقات يې ميوکوپولي سکرايدونه ګلايکوجن پروتينونه،ګلايکولپيپد ونه ،دغوړيو د وړې برخې يعني ګليسرول او شحمي اسيدونه ،د شيدو قند (لکتوز) ويتامين C،د krebs citric acid cycle اسيدونه او ډيرنور شامل دي.(89:3).

## 2.26 د قند ونو تعريف

قندونه هغه کيمياوي مرکبونه دي چې د کاربن هايدروجن او اکسيجن څخه جوړشوي دي ، د هايدروجن او اکسيجن د اتومونو شيمر په ټولو قندونوکې لکه څنګه چې په اوبو کې دي په عين نسبت يا تقريبا په عين نسبت دي ، نو له دې کبله په اولو وختو کې دې ډول موادو ته د کاربوهايدرېټ (کاربن هايدرېټ ) اصطلاح ورکړ شوې وه ، د ګلوکوز ماليکولي فارمول$C_6H_{12}O_6$دی،او د کاربن هايدرېټ په شان$C_6(H_2O)_6$ليکل کېدای شي ، خو د جوړښت له نقطي نظره بيخي غلط دی، ډير نور مواد چې قندونه نه دي اما د هايدروجن او اکسيجن د اتمونو شمير په هغوکې د اوبو په تناسب دي مثالونه يې اسيتيک اسيد، لکتيک اسيد، فارم الد يهايد او داسي نور دي ، همدارنګه په ځينو قند وکې لکه Rhamnose($C_6H_{12}O_5$) کې دا تناسب نه ليدل

کېږي نو دکاربوهاید ریت اصطلاح غلطه ثابتوي نوبهتره دا ده چې دا ډول مواد د glucides یا polyhydroxyalcohols چې فعال الديهايد يا کېتون ګروپونه لري  په نوم یاد کړل شي(25:2).

## 3.26 د قندونو طبقه بندي

کله کله قندونه دsaccharides په نوم هم یادیږي د سکراید کلمه د لاتيني کلمي (sakcharon) څخه چې د قند په معنا ده مشتق شویده ، ځيني قندونه لکه ګلوکوز او فرکتوز چې په ساده مرکباتو باندې هایدرولېز کېږي نه د ساده قند یا monosaccharides یا monosaccharoses یا ډېر ساده دmannose په نوم یادیږي ،ځني قندونه د دوه مالیکوله ساده قندو څخه جوړ شوي دي لکه سکروز، لکتوز، مالتوز، او داسې نور،دوی دdisaccharides یا disaccharoses په نوم یادیږي همدارنګه تراي سکرایدونه او تتراسکرایدونه په ترتیب سره د درې او څلورو ساده قندو د ما لیکولوڅخه جوړشوي دي ، هغه قندونه چې د یو زیات شمیر ساده قندونوڅخه جوړشوي دي (نشایسته، ګلایکوجنونه،سلولوزونه او داسې نور) پولي سکریدو یا polysaccharoses په نوم یادیږي، ټول هغه قندونه چې د دوه یا د زیاتو ساده قندونو د مالیکولو څخه ترکېب شوي وي د هایدرو لایزوړدي او هایدرولایز یې د حرارت پواسطه د رقیقو اسیدو او یا د خاصو انزایمونو پواسطه په اسانی سره صورت نیسي،Hydrolysisد یو مرکب د ماتولو په معنا ده د اوبو په موجودیت کې یا د اوبو په علاوه کولو سره اویا د هغې ایونونه په محصولاتو باندې،ساده قندونه د کاربن د دووڅخه تر لسو پورې اتمونولري چې په ترکیبي (ډول)صورت هم جوړشویدي او هم ډ یر یې په طبیعت کې پیدا کیږي ، د وی یا هایدروکسي الديها يدونه او یا هایدروکسي کېتونونه دي او نوم اینودنه بېداسې شوې چې هم د کاربن د اتومونو شمیر او هم د الديهايد يا کيتون ګروپونه یې په څرګند ډول پو هيد ل کیږي لکه glycolic aldehyde (CHO-$CH_2$OH)چې ډېر ساده مرکب دي د قندو نوم لاندې تصنیف شوي دي، څرنګه چې دا ماده دوه اتومه د کاربن لري نولدې کبله د aldose په نوم یاد یږي اوهم

ځرنګه چې د الديها يد ګروپ لري نو د aldose په نوم ياديږي ، د دې د پاره چې هم د الديهايد ګروپ او هم د کاربن اتومونه يې د واړه وبشود ل شي د aldodiose په نوم ياد يږي .

ځرنګه چې ګلايکوليک الديهايد پخپل جوړښت کې غير متناظر کاربن نلري نو يوازې په يوه ښکل وجود لري په بله ژبه او پتيکي ايزومير نلري . همدارنګه Glycered aldehyde چې درې اتومه د کاربن او




يو د الد يهايد ګروپ لري د aldotriose په نوم ياديږي ګلوکوز شپږ اتومه د کابن او د الديهايد يو ګروپ لري دaldohexose په نوم ياديږي، هغه قندونه چې د ketone ګروپ لري د ketoses په نوم ياديږي لکه dihydroxy acetone چې درې اتومه د کاربن او يو د کيتون ګروپ لري يوketotriose دي، فرکتوز شپږاتومه د کاربن او يو د کېتون ګروپ لري نو د ketohexose په نوم ياديږي(333:8).

### 4.26 ساده قندونه يا مونوسکرايدونه

هغه قند ونه چې د ها يدروليز وړندي ، زيات شمير يې په طبيعت کې پيدا کيږي او هم په ترکيبي ډول تهيه شوي دي ، د دوی ډير مهم پنځه او شپږ کاربن لرونکي قندونه دي ، د وي جامد او بلوري مرکبات دي چې په اوبو کې حليږي ، کم يا زياته اندازه خوږ خوند لري ، ټول يې د ځيني فلزاتو قلوي محلولونه لکه د مس او نورو د ارجاع کولو خاصيت لري او هم د الديهايدو په شان د فينيل هايدرازين،HCNاو NH2-OH(هايدراکسيل امين) سره تعامل کولای شي، ساده قندونه د کاربن د اتومونو د شميرپه اساس چې د هغوی په ځنځير کې دي په لاند ې ډول ويشل شوي دي .(430:4).

۱-۲۶ جدول یوقیمته قندونه څرګند وي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| Diose | دوه کاربن لرونکي | $C_2H_4O_2$ | An aldolase |
| Triose | دري کاربن لرونکي | $C_3H_6O_3$ | Glyceraldehydes an aldotrose<br>Dihydroxylacetone an ketotrose |
| Tetriose | څلور کاربن لرونکي | $C_4H_8O_4$ | Erythrose an aldotetrose |
| Pentose | پنځه کاربن لرونکي | $C_5H_{10}O_5$ | Xylose (an aldopentose<br>Xylulose (a ketopentose( |
| Hexose | شپږم کاربن لرونکي | $C_6H_{12}O_6$ | Glucose (an aldolase)<br>Fructose (a ketolase( |

## 5.26 اولیګوسکرایدونه (Oligosaccharides )

اولیګو سکرایدونه د (Oligos) کلمې څخه چې .څومعنالري مشتتق شویدي ، دوي جامد او بلوري مواد دي چې په اوبوکې حلیږي او خوږ خوند لري (36;2).

.

## (۱)- ډاي سـکــرایـدونـه

عموما د دوو شپږ کاربن لرونکي ساده قند و د یو ځای کېدو څخه جوړشویدي چې د هایدرولیزڅخه یې دوه مالیکوله مونو سکراید ونه حا صلیږي.

$$\underset{\text{Monosaccharides}}{C_6H_{12}O_6 + C_6H_{12}} \xrightarrow[\text{تودوخه}]{HCl} \underset{\text{Disaccharide}}{C_{12}H_{22}O_{11}} + H_2O$$

ډاي سکرایدونه یو د بل څخه اختلاف لري او د دوی دا اختلاف نه یوازې د ساده قندو له نظره ندي بلکه د ساده قند و د یو ځای کېدو له نظره هم یو د بل سره مختلف دي،مثلا دوه ډوله ډاي سکراید ونه چې دواړه یې مختلف دي مګر یوشان خواص لري اما د هاید رولیز نه وروسته عین دوه ساده قندو نه ورکوي چې هغه sucrose او turanoseڅخه عبارت دي ، تورانوز د ارجاع کولو قوه لري پداسي حال کي چې سکروز ارجاع کوونکی ندی،همدرانګه د ویلي کېدو ټکي یې هم سره اختلاف لري ، که د دې دوو قند وڅخه هر یو یې هاید رولیز شي د هاید رولیز محصول یې یو مالیکول ګلوکوز او یومالیکول فرکتوز دي قندونود یو ځای کېدو سکرایدونه په لاندې ډول دي (219:6).

۲-۲۶ جدول د د وه قیمته قندونو اجزاوي معرفي کوي
========================================

| ساده قندو اجزاوی | مالیکولي فارمول | نوم |
|---|---|---|
| Glucose: Fructose | -$C_{12}H_{22}O_{11}$ | Sucrose |
| Fructose: Glucose | $C_{12}H_{22}O_{11}$ | Turanose |
| Glucose: Galactose | $C_{12}H_{22}O_{11}$ | Lactose |
| Glucose: Galactose | $C_{12}H_{22}O_{11}$ | Melibiose |
| Glucose : Glucose | $C_{12}H_{22}O_{11}$ | Celibiose |
| Glucose : Glucose | $C_{12}H_{22}O_{11}$ | Gentobiose |
| Glucose: Glucose | $C_{12}H_{22}O_{11}$ | Trihalose |

په دې جمله کې سکروز او تراي ها لوز ارجاع کوونکی ندي نور ټول یې ارجاع کوونکې دي.

**(۲) - تري سکرا ید ونـه ( $C_{18}H_{32}O_{16}$ )**

د هـا یـدرو لیز په اثـر درې مـالیـکوله سـاده قنـد و نـه ورکـوي

د ساده قندو د اجزاوو نوم

Fructose. Glucose. GalactoseRaffinose

Fructose. Glucose. Glucose.Gentianose

Glucose.Galactose.GalactoseMannotriose

پـه دي جـمـلـه کې یواځــي مـا نـو تـرا یــوز ارجـاع کـوونـکې دي.

**(۳) - تـتـرا سکرایـد و نه (C24H42O21 )**

د ساده قندو د اجزاوو نوم :

Fructose. Glucose. Galactose. GalactoseStaohyose

د ا قند ارجاع کوونکې ندي.(9 :81).

## 7.26 پو لي سکرا يد ونه

هغه قند ونه دي چې د هايد روليز په اثر د ساده قندو زيات شميرماليکولونه ورکوي ، د دې موادو ماليکولونه ډيرلوی دي ځکه چې د ساده قند ود يوه زيات شمير ماليکولونو د polymerization څخه جوړشوي دي.په عمومي ډول دوی تبلور نکوي بلکه بې بڼکله جامد دي ، خوږخوند نلري او د قند و هيڅ و صفی تعاملات نه ور کوي، څرنګه چې ماليکول يې ډير لوی دي نو کله چې په اوبو کې حل شي کلوئيدی محلولونه جوړوي، دوی د اسيډ و او يا د خاصو انزايمو په واسطه په خپلو مو نو سکرايدو باندې هايد روليزکيږي هغه پولي سکرايدونه چې ديوه ډول مونو سکرايد پو ليمری وي د Homopolysaccharide په نوم اوهغوي چې د مختلفوقندونو اويا د قندونو د مشتقانو پوليميروی heteropolysaccharises په نوم ياد يږي د دوي يو زيات شمير په نباتاتو کې او ځينې نوريې په حيواني انساجو کې پيدا کيږي.

(54:10) مثال :

$$\underset{\text{Polysaccharide}}{(C_6H_{10}O_5)_n} + (n-1)H_2O \longrightarrow \underset{\text{Monosaccharides}}{n\ C_6H_{12}O_6}$$

د دې مرکباتو عمو مي فارمول داسې ښودل کيږي چې د مونو سکرايد فارمول ته په قوس کې ځای ورکول کيږي او د قوس په خارج کې د x ياد N حرف چې د ساده قند ماليکولونه راښئ او د هايدروجن او اکسيجن منفي کېدل چې معادل د X-1 molecule اوبه دي ليکل کيږي ، د مثال په ډول که يو پو لی سکرايد د پنتوز څخه جوړشوي وي فارمول يې په لاندې ډول ښودل کيږي:

$$(C_5H_{10}O_5)\ X-(X-1)\ H\ _2O$$

که چيری شل ماليکوله د پنتوز موجود وو چې په دې صورت کې د هغې حقيقی فارمول په لاندې ډول ښودل کيږي $(C_5H_{10}O_5\ )\ _{20}\ -\ (\ 20\ -1\ )H\ _2\ O$

### (١) - پولي پـنــتـو زانـونـه (Polypentsans )

د ســـاده قــنـــد و اجـــزاوونـــو م

| | |
|---|---|
| Araban | Arabinose |
| Xylan | Xylose |

**(۲ ) میتیل پنتو زانونه $(C_6H_{12}O_5)X - (X-1)H_2O$**

| د ساده قند و اجزاء | نوم |
|---|---|
| Rhaman | Rhamanose |

۲۶-۳ جدول هگزو زانونه $(C_6H_{12}O_6)X - (X-1)H_2O$

| د ساده قند واجزاء | نوم |
|---|---|
| N Glucose | Cellulose |
| N Glucose | Starch |
| N Glucose | Glycogen |
| N Glucose | Dextrins |
| N Glucose | Lichonin |
| N Glucose | Dextran |
| N Fruotose | Inulin |
| N Galactose | Galactan |
| N Mannose | Mannan |

سربیره په پورتنیو پو لی سکراید و چې د پنتوز او هگزوزو څخه ترکیب شویدي ډیر نور مواد هم پیژندل شویدي چې مختلف پنتوزونه او هگزوزونه لري ، په دې جمله کې نباتي صمغونه لکه ، Poctins. Hemiocellulose. Muilsge شامل دي د مثال په ډول که د چغندر پکتین هایدرولیز شي د هایدرولیز څخه یې یو پنتوز (ارابینوز) یو هگزوز (گلکتوز) یواسیدي قند(galacturonic acid) استیک اسید او متیایل الکول لاسته راځي.(87:3).

## 7,26 د ساده قندو جوړښت




د لته د ګلوکوز ساختمان ته زیاته پاملرنه شوی ځکه چې یومهم فزیالوژیکي قند دی نو یې په کېمیا باندې پوهیدل اوکوم مناسبت چې د نورو فزیالو جېکي مرکباتو سره یې لري نو اړینه ده هغه وپیژنو چې ګلوکوز یو الدو هګزوز دی، مالیکولي فارمول یې $C_6H_{12}O_6$ دی ساختماني فارمول یې د د وو نورو ساده قند و سره چې یو یې الد و پنتوز اوبل یې کېتوهګزوز دی مشابهت لري.دوه نور الدو هګزوز ونه چې فزیالو جېکي اهمیت لري د ګلکتوز او منوز څخه عبارت دي ، سربیره په رایبوز دوه نور الدو پنتوزونه چې یویې ارابینوز او بل یې زایلوز دي په ډیرو نباتاتو کې پیدا کېږي ، همدارنګه ددي قند وځیني مشتقات ډیر په زړه پورې دي چې وروسته به و څیړل شي سره لدې چې ګلوکوز،ګلکتوز او منوز هر یو شپږاتومه د کاربن ، پنځه هایدراکسیل ګروپونه او یو د الد یهاید ګروپ په خپل مالیکول کې لري خوبیا هم په خپل منځ کې یو د بل سره فرق لري نو باید د د وی اختلا ف د ګروپو په ترتیب په ما لیکول کې وي.(2 :79).

## 8.26 غیر متناظر

د ګروپو په ترتیب کې دا اختلات د دې حقیقت په اساس دی چې ټول قندونه په خپل جوړښت کې د غیر متناظر کاربن اتومونه لري ، غیرمتناظر کاربن د کاربن هغه اتوم دی چې د څلورو مختلفو اتومو یا د څلورو مختلفو ګروپو سره نښتي وی ، که د کاربن یو اتوم د څلورو رابطو سره په فضاکې په څلورو مختلفو جهتو رسم شي او هر یو یې په څلورو مختلفو اتومو یا د Q.R.S. T. ګروپو سره پیوست شوي وی نو واضح دي چې یو مشابه بڼکل نه مګر ممثل د هغې جوړیدي شي ، دا دوه شکلونه د عین نسبت خا وندان دي څرنګه چې یو شي اینوي تصویر لري لدې کبله چې مماثل ندی نو کولای شو چې د دوی د نه منطبق کېدو څخه یو په بل باندې اثبات ته ور سوؤ، دلته دوه مشابه مرکبات دي خو څرنګه چې کاربو نونه

يې غيرمتناظر دي نو يو د بل سره اختلاف لري ، دا دوه فرضى مركبونه چې درښودل شويدي هند سى ايزوميرونه يا

**(Greek.Oppositioanms) Enanthiomorphs يا (Gr.Stereos.Solid) Sterioisomers**

هغه نسبت چې ددې مركباتو په واسطه ښودل شويدى د Stereoisomeris په نوم ياد يږي، په بله ژبه د دوى isomerism د فضا يې مناسباتو په اساس څرګند يږي دا خاص ډول stereoisomers د optical isomers نوري ايزو ميرونو په نامه ياديږي ځكه ټول هغه مركبات چې د غير متناظر كار بنو لرونكې دي د polarize شوي رڼا د سطحې د ګر ځو لو قوه لري.(76:4).




## 9.26 د غير متنا ظر كاربن موډل اود هغې اينوي تصوير

د يو مركب او پټيكي فعاليت ښئ چې ماليكولونه يې په ائينوي تصوير باندې د منطبق كېدو وړنه وي ،هغه مركب چې ماليكولونه يې په ائينوي تصوير باندې منطبق كړاى شي او پټيكې فعاليت نه ښئ، نو د يوه مركب ائينوي تصوير عين خواص لري كوم چې حقيقي ماليكول يې لري ، لكه د ويلې كېدو، ايشيدو ټكې يې ،حليدل او داسې نور ، د دې دوو مادو يواځې اختلافOptical rotationكې دي د داسې ايزوميرو محلولونه پولرايز شوي رڼا ( polarized light) ګرځوي كه يويې رڼا ښى خوا ته په معينه درجه وګروي بل يې رڼا په عين درجه چپې خوا ته ګرځوي كله چې Fnanthiomers يو د بل سره محلول شي هغه Rotation چې د يو ايزوميرد ماليكول د يوه مساوي او متقابل Rotation پواسطه خنثى كېږي. نو د انا نتيو ميرو مساوي مخلوط ته Racemate وايي او په پولرايز شوي رڼا باندې فعاليت نه لري.

هغه او پټيكې ايزوميرو نه چې انانتيوميرنه دي د (diastereomers)( diastereoisomers) په نوم ياديږي ، دوى مختلف فزيكي خواص لري . لكه دويلى كېدو او ايشيدو ټكې يې، حليدل په يوه ټا كلى

حلوونکي کې او نوريې سره توپير لري همدارنګه خصوصي دور speoifiorotation)يې سره تفاوت لري ، اما امکان لري چې مشابه يا مخالفي دورې علامې ولري او ځيني يې غير فعال دي.

Diastereoisomers (استيرو ايزو ميريزم)  عين فعال ګروپونه لري نو له دي کبله مشابه کېميا وي خواص راښئ خو دا کېميا وی خواص مماثل ندي ، د مثال په ډول هر diastereoisomer د يوه ټاکلی معيار سره په مختلفو سر عتوکي تعامل کوي ،مخکې موواويل چې ټول قند ونه غير متناظرکاربنونه لري دمثال په ډول يو ډير ساده الديهادي قند چې ګليسروز دي ښودل کيږي ، که ساختماني فارمول ته يې پام وکړو ليدل کيږي چې د منځني کاربن اتوم يې غير متناظر دي.




نو دوه stereoisomers يې ممکن دي ، دا دواړه پيژند ل شوي دي  يو يېD-glycerose دي چې پولرايز شوي رڼا 13.5+ درجې ښې خو اته ګرځوي يعنيdextrorotatory دي او دويم يې-L glycerose دي چې پولرايز شوي رڼا په عين درجه چې خوا ته ګرځوي  (13.5-) يعنيlevorotatory دئ ښايي پوه شي چې پهD-glycerose  کې د OH ګروپ په غير متناظر کاربن باندې چې د ا خيرني $CH_2$ OH په مجاورت کې دي ښې خوا ته پروت دي ، او دا ګروپ په L-Glycerose چپې خوا ته پروت دي ، د ګروپو د موقعيت دا اختلاف ډير مهم دي ځکه داسي ګمان کيږي چې ټول هغه قندونه چې اوږد ځنځير لري د D– او د  L– ګليسروز څخه مشتق شويدي که د OH ګروپ موقعيت کټل د هغه کاربن په مخ باندې چې د اخيرني الکول ګروپ په مجاورت کې ځای لري ويل کيږي چې د (D ) له ډوله څخه دي يا که د (L ) څخه د D يا د L حرف چې د يو قند د نوم د مخه ليکل کيږي دا مفهوم نلري چې رڼا ښی يا چپې خوا ته ګرځوي ، بلکې د هغه ساختماني مناسب  D– يا د L– ګليسروز ته ښئ د دي مطلب د پاره د (+) او د (-) علامی څخه استفاده کيږي ، د مثبت علامه dextro او د منفي علامه levo مفهوم لري.




که چیرې په یو مالیکول کې د یوه غیر متناظر کاربن څخه زیات موجود وي نو د دې مالیکول د ممکنه ایزومیرونو شمیر زیاتېږي leBell او D+L van. T hof د ایزومیرونو شمیر په 2N سره ښود ل شویي دي د N حرف د غیرمتناظر کاربن شمیر راښئ، د یوه الدو هګزوز د فارمول څخه معلومیږي چې څلورغیر متناظر مر کزونه لري په دي تر تیب ۲۴ یا ۱۶ ممکنه ایزومیرونه یې مو جود دي ، نو په اسانی سره پوهیداې شو چې ولې ګلوکوز ، ګلکتوز او منوز الدو هګزوزونه دي او یو د بل سره توپیر لري همدارنکه فر کتوز چې یو کېتو هګزوز دي او پولرایز شوي رڼا چپې خوا ته ګرځوي ولې د D– فر کتوز په نوم یادیږي (90:6).

**11.26د ساده قندونو جوړښت**

څرنګه چې ګلوکوز د aidoses یو وصفي قند دی نو دلته هغه نسبتاً په مفصل ډول څیړل کېږي.

**جوړښت:** ګلوکوز $C_6H_{12}O_6$ یو مالیکول فارمول لري د هغه جوړښت د لاندې کیمیاوي او صافو څخه څرګند شوې دي .

الف : که چیرې د هاید روجن ایوداید او فاسفورس سره ارجاع شي N-hexane راکوي، بنا پردې ټول د کاربن اتومونه یې چې یو مستقیم ځنځیر بې له څانګې څخه یو د بل سره نښتي دي.

ب : ګلوکوز د hydroxylamino سره تعامل کوي او monoxime جوړوي یا یو مولCyanid e په هغه باندې علاوه کېږي چې cyanhydrin جوړکړي دا د یو کاربونیل ګروپ موجود یت راښئ.

ج : ګلوکوز د خفیف اکسیدیشن پواسطه لکه د Br پواسطه په buffer شوي ابې محلول کې monoboxalic gluconic acid بد لیږي، څرنګه چې د کاربن کوم اتوم یې نه ضایع کېږي بنا پر

دي د کاربو نیل ګروپ د یو الدیهاید په بڼکل وجود لري چې یواځې د ځنځیر په اخرکې ځای نیولې شي ‎(klliani experiment )،

د : دارجاع په اثر د sodium amalgug سره په هغه کې د هایدروجن دوه اتومونه علاوه کېږي.

$C6\ H_{14}\ O_6$ جوړوي چې دا مرکب د Sorbitol په نوم یادیږي ، سوربیتول Aceticanhydrid سره وي او یو hexacetateجوړوي،بنا پردې د سور بیتول شپږواړه د اکسیجن اتومونه د شپږو هایدراکسیل ګروپو په څیر موجود دي هغه مرکبونه چې دوه هایدراکسیل ګروپونه په عین کاربن باندې ولري ډیر غیر ثابت دي او هغوی چې پیژندل شوي دي په ډیر اسانۍ سره اوبه ضایع کوي ، حال دا چې سوربتیول په اسانۍ سره نه dehydrate کیږي ، بناپر دې په هر یو د دې شپږو اتومونو د کاربن باندې یو د هایدروکسیل ګروپ ځای لري، څرنګه چې د ګلوکوز د الدیهاید ګروپ د ارجاع کولو په اثر یو نوی هایدراکسیل ګروپ تشکېل شویدي نود ګلوکوز ساختمان داسې بڼودل کېدای شي :-$HO\text{-}cH_2\text{–}(CHOH)4\text{-}$ C=OH

ډیر isomerio aldohexoses عین تعاملاتو ته تلاي شي چې دا هم عین جوړښت راښئ، بناپردې دوي د ګلوکوز sterooisomers دي.څه وخت چې HCN په یو حقیقي الدیهاید باندې علاوه شي




ځنځیر په یوه اتوم کاربن ازادیږي.هغه تعاملات چې دkillani په تجربو کې شامل وو په لاندې ډول بڼودل کیږي:




د فرکتوز ما ليکولي فارمول د ګلوکوز په شان $C_6 H_{12} O_6$ دي څه وخت چې Killani دا قند HCN سره معامله کړ Fruotose cyanhydrin جوړ شو، دا ماده د هايدروليز پواسطه په يو هايدروکسيل اسيد او ارجاع پواسطه د سره په يو hepton ic acid چې منشعب ځنځير لري بدليږي نوموړې مولف د دې منشعب ځنځير په جوړيدو سره په اثبات ورسوله چې فرکتوز يو کېتوز دی د پنتو زګروپ په دوهم کاربن کې ځای لري ، کله چې د هايدروجن سيانايد سره تعامل وکړي داسي سياناداېتونه چې منشعب ځنځير لري جوړوي(32.9).




هغه تعاملات چې کېليانې د هغې پواسطه د فرکتوز ساختمان ثابت کړه په لاندې ډول دي:




د کېلياني د فارمول څخه چې د ګلوکوز د پاره يې تثبيت کړي دي معلوميږي چې دا قند د کاربن څلور غير متناظر اتومونه (د ۲ ،۳،۴،او ۵، کاربن اتومونه ) لري ، بنا پردې د دې فارمول ۲۴يا ۱۶ ممکنه stereoisomers موجود دي چې يو د بل څخه د Hاو OH د ګروپو په ترتيب کې چې د غير متناظر و کاربنو پورې نښتي دي توپير لري ، اوس ټول دا الدو هګزوزونه پيژندل شوي دي او هغوی جوړښت تعين شويدي ، دا مسله د الد و پنتوز و ، الدتتروزو او الدو ترايوزو په باره کې هم حقيقت لري، وروسته EmilFischerاو د ده شاګردانو د ساده قند و ښکلونه تثبيت کړل ، په داسي ترتيب چې دوی د Hاو OH د ګروپو موجوديت د غير متناظرو کاربنو په ګرد چاپير کې او د ګلوکوز (D) او (L)ښکلونه ثابت کړل،او هم يې د نورو ساده قند و ښکلونه هغې ته ، وښودل .فيشر په خپل شخصي قضا وت د ګلوکوز Dاو L ښکلونه داسي وښودل:




L-Glucose D-Glucose

نو د فشار د نظر یې په اساس هغه ساده قندونه چې جوړښت یې په D- Glucose پورې مناسبت لري د D-Sugars په نوم او هغوی چې په L-Glucose پورې مناسبت لري د L-Sugars په نوم یادیږي Rosanops، یو بل بهتر سیستم منځته راوړه ،ده په دي سیستم کي د الدیهایدي قند و ساختمان aldotrose ته نسبت ور کړیدی مخکي ذکر شوه چې -Dاو-L- ګلیسروز په خپل مالیکول کې یواځې یو غیر متناظر کاربن لري.

نو د پور تنیو فارمولو څخه څرګندیږي چې د Hاو د OH د ګروپونو ترتیب د D او L– ګلیسروز د غیرمتناظر کاربن په مخ باندې یوشان دي، د D–او L– ګلوکوز د پنځم کاربن د H او د OH ګروپونو د ترتیب په شان دي له همدې کبله ټول قندونه د Dاود L-ګلیسروز مشتقات بلل کیږي.




D-Glycerose l-Glycerose

دا سیستم نسبت ټولو ته معقول تر دې، ځکه کولای شو چې څلورکابن لرونکې پنځه کاربن لرونکې شپږکاربن لرونکې او داسې نور قند ونه د Dاود L– ګلیسروز څخه د HCN د عمل پواسطه چې په لاندې ډول خلاصه شویدي په لاس راوړو:(89;10)

کله چې HCN د الدیهاید په یوه ګروپ باندې علا وه شي یو غیر متناظر کاربن جوړیږي اودوه Cyanhyrins ورکوي .



An aldehyde        Cyanohydrin

فرضا که HCN په D– گلیسروز باندې اضافه شي دوه cyanhydrinsجوړوي.

کله چي دا سیانایدونه رینونه هایدرولیز شي دهغي مربوطه اسیدونه جوړوي.



کله چي د دي اسید و د کار بو کسیل گروپونه په الدیهایدي گروپونو باندې ارجاع شي دوه الدونتروزونه جوړیږي:



(66:3) D-Glycerose        l–Glycerose

څه وخت چې HCNد D- erythrose سره معامله شي او پورتني عمليه تکرار شي دوه الدوپنتوزونه جوړيږی:



همــدارنــګه D- Threose هـم دوه ډولـه پـنــتــوزونـــه ورکــوي:



بناءَ پر دې هر يو د دې څلور ډوله پنتوزونه په دوه ډوله D- Hexoses باندې بدليږي او مجموعاً اته – D هګزوزونه راکوي همدارنګه که د اتعاملات د L– ګليسروز سره شروع شي يو شمير نور قندونه منځته راځي چې دا د هغه قند و ايينوي تصوير يا اپتيکې ايزوميرونه دي کوم چې له D– ګليسروز څخه جوړشويدي لکه دوه L– تتروزنه څلور L– پنتوزونه او اته L– هګزوزونه د D او د L د سلسلي مجموعي قند ونه څلور تتروزونه اته پنتوزونه او شپاړس هګزوزونه تشکيلوي پورته بڼکل د Dاو L ګليسروز جنسي نسبتونه د D او د L الدوزو د روزانوف د سيستم په اساس رابڼئ د هايدراکېسل ګروپ موقعيت د اخرني عير متناظر کاربن چې د قند د پرايمري الکول ګروپ نه وروسته ځای لري رابڼئ چې قند د D يا L ګليسروز څخه مشتق شويدي ،که چيرې دا هايدراکېسل ګروپ يې ښی خواته پروت وي قند د D- ګليسروز څخه مشتق شوي او يو D- Sugar دي او که چيرې دا OH ګروپ چپې خواته پروت وي قند د L– ګليسروز څخه مشتق شوي او يو L- Sugar دي.

دDاو د L– الدوزو ائينوي تصوير مناسبت په دويم ښكل كې ليدل كيږي ، D- ګلوكوز او L– ګلوكوز په ترتيب سره پولرايز شوي رڼا ښي او كيڼې خواته ګرځوي ، ښايي پوه شي چې د قند د ګرځيدو سمت برعكس د پيشو ند (Prefix ) كېداى شي مثلاً د D– او د L– ارابينوز D– او L– فركتوز ، D- فركتوز چې عموما د Levulose په نوم ياديږي يو قوي levorotatory قند دى.

د يا دوني او تأكيد وړ ټكي دا دى چې د (D) او (L) پيشوند چې د قند د نوم څخه مخكې ليكل كيږي يواځې او يواځې د هغې ساختماني مناسبت D– او L– ګليسروز نه راښئ نه دقند د ګرځيدو سمت،په نظري توګه يو زيات شمير كيټوزونه موجود يداى شي څو قسمه يې په طبيعت كې موجود دي او هم يو شمير يې په تركيبي توګه تهيه شويدي د هغوى ډير ساده كيټوتراي او (داى هايدراكسى اسيتون ) دي ، فركتوز چې يو كيټو هګزوز دي په طبيعت كې په ازاد او متحد ښكل پيدا كيږي .

كيليا ني ثبوت كړله چې فر كتوز يو كيټو هګزوز دي (تيرمخ دي وكتل شي)دا ګروپ په دويم اتوم د كاربن باندې ځاى نيولې دى وروسته اميل فيشر د Hاو د OH د ګروپو موقعيت د غير متناظر كاربنو په مخ تثبيت كړل: فيشر د خپل كار په لمړيو وختو كې كشف كړله چې phenylhydrazine د قند سره تعامل كوي .hydrazone او osazone جوړ وي ، او زازون نسبتاً كم منحل دي ښه تبلور كوي او په اسانى سره جلا كيږي دا تعامل د فينيلي هايدرازين سره د قند و د تشخيص د پاره په يوه مخلوط كې او هم د قند

د ښكل د تعيينولو د پاره استعماليږي د فينيلي هايدرازين تعامل د D– ګلوكوز سره په لاندې ډول ښودل كيږي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| H-C=O | + H2N - NH- C6 H5 | H-C=N-NH-C6 H5 | |
| H-C-OH | phenyl | H-C-OH | |
| HO-C-H | hydrazine | HO-C-H | + H2O |
| H-C-OH | | H-C-OH | |
| H-C-OH | | H-C-OH | |
| CH2OH | | CH2OH | |
| D-Gluoose | | D-Gluoose phenylhydrazone | |

په همدې ترتیب منوز ، ګلکتوز ، او رابینوز ، په ترتیب سره په منانیک ، ګلکتانیک ، او رابانیک اسیدو باندې او کسیدایز کېږي.(12 :720).




کېتونونه د برومین د اوبو پواسطه په اسانۍ سره نه اکسیدایز کېږي که ګلوکانیک اسید ته حرارت ورکړي شي خپلي اوبه ضایع کوي او د gammalactone (γ) او یا deltalactone (δ) یو مخلوط لاسته راځي لکتون د داخلي استر ( inner ester ) په معنا دی او یوه پنځه ضلعي یا شپږ ضلعي حلقه تشکیلوي.




γ-Glucolactone D-Gluconic acid δ-Glucolactone

د ګلوکو نیک اسید او د هغه د لکتوز تر منځ په ابي محلول کې یو توازن بر قرار یږي ، نور اسیدي قند ونه چې پنځه یا زیا تره د کاربن اتومونه لري هم مشابه لکتونونه جوړ وي ، څلور کاربن لرونکي اسیدونه یواځې ګامالکتون جوړوي شي ، کله چې یو اسیدي قند د سوډیم له ملغمي( Na Hg ) سره د رقیق سلفور یک اسید په موجودیت کې معامله شي په مربوطه قند باندې ارجاع کېږي ، کله چې د الدانیک اسید و د کلیسم مالګې د هایدروجن پر اکساید سره د فریک ( $Fe^{3+}$ ) ایونو ( د کتلیست په حیث ) په موجود یت کې او کېسدایز شي کاربن ډای اکساید ازاد یږي او یو پنځه کاربن لرونکي قند تشکیلیږي:




D-Gluconoic Acid D-Arabinose

په طبا بت کې کلسيم ګلوکونيټ د کلسيم د يوې منبع په حيث تطبيقوي، د هغې محلولونه د داخل وريدي زرقو په صورت کې د ويني د کلسيم د پورته وړلو له امله ورکول کيږي.(89:1).

(ب)- سکريک اسيدونه يا Aldaric acids ، Glycaric acids الدوزونه د اکسيديشن په اثر په مناسبو شرايطو کې د تودو $HNO_3$پواسطه په aldraic acids بدليږي ،پدې اکسيديشن کې هم د الد يهايد ګروپ او هم د پرايمري الکول ګروپ دواړه د کاربوکسيل په ګروپونو بدليږي:




D-mannaric acid
(D-mannosacchric Acid

D-Galactic Acid
(D-Galactosaccharic Acid)
(or mucic Acid

D-Glucoaric Acid
D-Glucosaccharic Acid

که د الداريک اسيد و څخه يو ماليکول اوبه ضايع شي saccharrlacotone لاسته راځي چې اخيرني مرکب د ارجاع په اثر د سوډيم د ملغمي سره په يوه uranic acid بد ليږي مثلا.




D-Glucoaric Acid D-SaccharoLactone D-GlucoUranic Acid

## 14.26 یورا نیک اسید ونه

که یو الدوز پداسي یو ترتیب اکسید یشن شي چې د الکول لمړني گروپ بې له دې چې د الدیهاید گروپ یې اکسیدایشن شي یو یورانیک اسید تشکلیږي ، د دې کار د اجراء د پاره په لابراتوار کې الدیهایدي گروپ مخکې لدې چې اکسیدیشن شي په یو گلوکوساید او یا د 1’2’-0- Sopropyliddene -D-Glucose استون ډوله مشتق د جوړولو پواسطه محفوظ ساتل کیږي ، وروسته ددې د الکهول لمړني گروپ د اکسیجن پواسطه د یو کتلست (Activated platinum oarben) په موجودیت کې اکسیدا یز کیږي ، دا یو پروپیلیدین گروپ د اسیدي هایدرولایز پواسطه د ازاد استون په بشکل له منځه وړل کیږي او -D gluouronic acid لاسته راځي ، په ژوندیوعضویتو کې یورانیک اسید ونه د انزایمو ( Oxidases (ترتا ثیر لاندې جوړیږي.(8 :430) .

(76.4)



D-Glucose 1'2-O-isopropylidene D-Glucose




D-Glucuronic acid

1'2-O-isopropylidene
Glucuronic acid

د ګلکتوز او منوز د یورانیک اسید و فارمولونه په لاندې ډول دي:



D-Mannouronic Acid



GalactoUronic Acid

یو بل په زړه پورې یورانیک اسید د L- iduronic acid څخه عبارت دي چې د ګلوکورانیک اسید سره د پنځم کاربن د H او OH ګروپونو په ترتیب کې توپیر لري، دا یورانیک اسید په Chodroitin sulfate B کې پیدا کېږي (65:5).



L-Iduronic Acid

(45:3)

پورتني څلور واړه یورانیک اسید ونه طبیعی محصولات دي D-Glucuronicacid د conjugate په شکل په نباتاتو کې پیدا کیږي. همدارنګه د chondroitin sulfuricacid او د ګلایکوپروټینو د mucoitinsulfuricacid او hyaluronicacid برخې هم دي ، ګلوکورانیک اسید په حیواني عضویت کې د ځینو مواد و لکه bornaol، کافور ، بنزوئیک اسید او نورو د detoxioation په عملیو کې جوړیږي ، او د دې موادو ګلوکورانیک مرکبات په ادرار کې اطراح کیږي.Galacturonicacid زیاتره په پکتینو او ډیرو نباتي صمغو او mucilages کې پیدا کیږي د ځنیی بکتریا ؤو د decarboxylase انزایم په واسیطهD-glucouronicacid باندې عمل کوي او یو پنتوز ( D-xylose)جوړ وي:




D-Galactouronic acid

L-Arabinose

ممکنه ده چې د نباتي پنتوز یو څه برخه له هګزوز سره یورانیک اسید د لارې نشي جوړ یدي.

د توجه وړ ټکي دا دی چي D-Xylose عموماً په نباتاتو کي د D-glucose سره د L- arabinose د D- galactose سره یو ځای لیدل کېږي(430:9)

## د قندونو استقلاب ( میتابولیزم)

د انسانانو دورځنۍ غذا زیاته برخه قندي مواد جوړوی دغذایي کاربوهایدریتونو زیاته برخه په غوړیو بد لیږي او دغوړیو په څیر استقلاب ته رسیږي.د انسانانو په نزد ښایي چي دغذا خوړلو تکرار او د قندي موادو د بدلید لو اندازه په غوړیو باندي د ځینو ناروغیو د حالتو لکه Obesity.Atherosclerosis او diabetes Mellitus سره به څه ناڅه مناسبت ولري.
د کاربوهایدریتونو غوره دنده په استقلاب کي دا ده چي د نورو استقلابي عملیو د پرمخ بیولو لپاره انرژي برابروي او د سون د مادي په حیث احتراق ته رسیږي.کاربوهایدریتونه دې رول د سرته رسولو لپاره عموماً د Glucose په ښکل د انسولین هورمون په موجودیت کي حجرو ته داخلیږي. ټول مونوسکرایډونه پرته د Fructose تعاملاتو ته د داخلیدو لپاره انسولین ته ضرورت لري چي وروسته د حجرو په واسطه استعمالیږي. دري اساسي قندونه چي د هاضمي په سیستم کي حاصلیږي د Glucose، Fructose او Galactose څخه عبارت دي.که چیريsucrose په غذا کي په زیاته پیمانه وخوړل شي په داسي حالت کيFructoseمقدار له نظره د کتني وړ ګرځي.Galactose هغه وخت د ډیر اهمیت وړګرځیداي شي. چي د غذایي قندو زیاته برخه Lactoseیا د شیدو قند تشکیل کړیوي. Fructose او Galactose دواړه د ځګر په واسطه په Glucose بدلیږي.ښایي چي Pentose لکه Xylose .Arabinose .ribose هم په غذاکي موجود وي.لیکن د دوي سرنوشت وروسته له هغه چي جذبیږي ډیر پیچلي دي. D-Ribose او2-Deoxy-D-Ribose دواړه په بدن کي ترکیبیږي اود نوکلیوټایدو په ساختما ن کي ګډون کوي.(87:9).

### 1.27 د کاربوهایډریتو استقلاب د تي لرونکو په بد ن کي په لاندي ډولونو ویشل کیږي.

١. *GLYCOLYSIS*:-د Embden-Meyerhof pathwaysپه واسطه د Glucoseیا Glycogen د Oxidation څخه عبارت دي په Pyruvate او Lactateباندي.

٢. *GLYCOGENESIS*: - د Glucose څخه د Glycogen د ترکیبید و څخه عبارت دي.

٣. *GLYCOGENOLYSIS*: - د Glycogen تویته کي دل په Glucose دي چي زیاتره په ځګر کي صورت نیسي.

٤. *THE CITRIC ACID CYCLE*: - د kreb's cycle یا Tricarbxylic acid cycleپه نوم یادیږي. د اخیرني ګډې Oxidationلارې څخه عبارت دي چي په هغې کي Carbohydrate، Lipids او Protein د Acetyl-SCoA له لارې په کاربن ډاي اکساید او اوبو باندې اکسدایزکیږي.

**-: The Hexose Monophosphate Shunt**

(PhosphoGluconate Oxidative ،Pentose phosphate Pathways)
Pathwaysیوه داسي لاره ده چي دGlycolysis سره معادله ده. دGlucose د

Oxidationلپاره لمړني مرحله کې غوره او هم بین البیني مرکبات لکهNADPH او Riboseترکیبوي او$CO_2$هم تولیدیږي.

۵. *GLUCOGENESIS: -* د غیرې قندي منابعو څخه د GlucoseیاGlycogen د تشکیلیدو څخه عبارت دي. کومې طریقي چې په Gluconeogenesis لپاره په کار وړل کیږي.(60:13)

1,27 شکل ګلوکوجنیسس څر ګندوي.



Glucose
GLUCOSE-6-PHOSPHATASE
GLUCOKINASE
HEXOKINASE
Glucose 6-phosphate
Glycogen
Fructose 6-phosphate
FRUCTOSE-1,6-BISPHOSPHATASE
PHOSPHOFRUCTOKINASE
Fructose 1,6-bisphosphate
Fructose 2,6-bisphosphate
cAMP (glucagon)
Glyceraldehyde 3-phosphate
Dihydroxyacetone phosphate
GLYCEROL 3-PHOSPHATE DEHYDROGENASE
1,3-Bisphosphoglycerate
Glycerol 3-phosphate
GLYCEROL KINASE
Glycerol
3-Phosphoglycerate
2-Phosphoglycerate
Phosphoenolpyruvate
PYRUVATE KINASE
Alanine
PHOSPHOENOLPYRUVATE CARBOXYKINASE
Pyruvate
Lactate
Fatty acids
Citrate
CYTOSOL
MITOCHONDRION
Oxaloacetate
PYRUVATE DEHYDROGENASE
Acetyl-CoA
PYRUVATE CARBOXYLASE
Malate
Citric acid cycle
α-Ketoglutarate
Fumarate
Succinyl-CoA
Propionate

کوم پاتوي چې پهGluconeogenesis کې دخيل دي. عموماً د TCA- Cycle اوGlycolysis دي. کوم اساسي سبستريتونه چې د Gluconeogenesisلپاره پکار وړل کيږي. ګلوکوجنيک امينواسيدونه، Lactate او Glycerol څخه عبارت دي. د شخوند وهونکو په نزد Propionate دي.(89;9).

### 2.27 د کاربوهايدريتو د استقلاب نوري لاري

دGlycolysis هغه يوسلسله تعاملاتو څخه عبارت دي چې په هغوي کې Glucose په PyruvateياLactateباندي بد ليږي اويواندازه انرژي ورڅخه حاصليږي. دا عمليه د حجراتو په داخل کې په اوبيزه حصه کې صورت نيسي پرته لدې چې کوم Organelle برخه پکې واخلي. دامبدن ميرهوپ پتوي

(Embden-Meyerhof Pathway) ټول انزايمونه د حجرې د Mitochondria څخه دباندي په منحله برخه کې پيداکيږي.Glycolysis د باندي هغه تعاملات کتلايز کيږي چې په Glycolysis کې شامل دي.دGlycolysis په لارې کې دGlucose د پاسه نه لاندې صورت نيسي.

۱- ګلوکوز ( Glucose ) د Hexokinaseانزايم په واسطه اوپه ځانګړي ډول د

Glucokinaseپه ذريعه Glycolysis کيږي او په Glucose -6-Phosphate تبديليږي.

داتعاملات يوEndergonic تعامل دي په دې تعامل کې دATPيو High Energy Phosphate

Bondماتيږي او په ADP بدليږي. يوفاسفيټ يې دGlucose په شپږم کاربن باندې نصبيږي.

Glucose -6-Phosphateدخواستقلابي لارو په په منځ کې د

Glycolysis،Glucogenolysis،HMS، Glucogenesis او Glyconeogenesis مشترک

مرکب دي(44:13).

(




432.2)[1] Glucose-6-phosphatase انزايم په موجوديت کې پهFructose -6-Phosphate بدليږي.

---

(133;8)




$\Delta G'^{\circ} = 1.7$ kJ/mol (60.5)

۳- Fructose -6-Phosphate دPhosphoFructoKinase انزایم اوATPکوانزایم په موجودیت کې Phosphoryltion کیږي.دا هم یو Endergonic تعامل دي چې انرژي له ATP اوهم دفاسفیټ بقیې دATP څخه راځي اوپهFructose-1.6-Biphosphateبدلیږي.




(83:9) $\Delta G'^{\circ} = -14.2$ kJ/mol

PhosphoFructoKinaseیوتحریک کوونکي انزایم دي اوداسې فکر کیږي چې فعالیت یې دGlycolysisدسرعت په تنظیمولو کې غوره نقش لري اودوهATP مصرف کیږي.

۴- Fructose-1.6-DiPhosphate دAldolase انزایم په واسطه په دوه ترایوزفاسفیټ باندي چې یو یې Glyceraldehyde-3-Phosphate اوبل یې Di hydroxyacetone-Phosphate دي توټه کیږي(760:14).

دوه Triose Phosphates دTriose Phosphate isomerase انزایم په موجودیت کې یوپربل تبدیلیداي شي. څرنګه چې په لمړي پړاوکي دGlycolysisپاتوي د-Glyceraldehyde-3

Phosphateله خواپه مخ ځي. له همدې کبله Di hydroxyacetone-Phosphateپه گلیسرالدیهاید-۳-فاسفیټ بدلیږي او داکسیدیشن پیښنه مخ په وړاندې ځي.

(88:3)




2

۵- گلیسرالدیهاید-۳-فاسفیټ د گلیسرالدیهاید-۳- فاسفیټ د هایدروجنیس انزایم په واسطه په خپل اړه لرونکي اسید یعنې۳،۱-ډاي فاسفوگلیسریټ بدلیږي. په دې تعامل کې یو مقدارانرژي آزادیږي. مگر په عوض ددې چې د حرارت په څیر آزاده شي. بلکې د ATP په دننه کې د دووفاسفیتوترمنځ ذخیره کیږي. څرنگه چې غیري عضوي فاسفیټ دADP سره یوځاي کیږي اوATPمنځ ته راوړي. په هغه مرحله کې چې دوه اتومه هایدروجن مالیکول څخه د$NAD^+$په واسطه اخیستل کیږي. دې هایدروجنیز انزایم د–SHگروپونود GSH اوCysteineپه موجودیت کې ثابت پاتې کیداي شي. (90:5).

### 3.27 د خمیرمایه په واسطه د الکولو جوړیدل

عموما الکول د لاندې تعاملاتو په ذریعه جوړیږي.

---

[2] Lehninger Biochemistry.fourth edition.PP(527)

خرنگه چې مخ کې هم يادونه وشوه چې Glycolysisعمليه دYeast په حجره کې صورت نيسي. مگر پايرويټ په Lactate نه بدليږي. بلکې يو ماليکول کاربن ډاي اکسايډ ورځخه خارجيږي او په اسيت الديهايد بدليږي. اسيت الديهايد د $NADH+H^+$په ذريعه په ايتايل الکولو ارجاع کې




## پرو تين ( Protein)

### 11.27امين لرونکوقندونواستقلاب

امين لرونکي قندونه دقندونوډيرومهمومشتقاتوله جملې څخه دي. چې په ټول بدن کې دانساجوپه ساختماني جوړښت کې ويشل شويدي د دې ساختماني قندومثال Mucopoly saccharides دي دGlycogen پرخلاف چې په هغوې کې د پولي سکرايد هرواحديودبل سره ورته دي.مگرميکوپولي سکرايدونه ددوه يا زياتو مختلفوواحدونوڅخه مشتمل دي. چې د دې واحدوڅخه يوامين لرونکي قنددي.د دې ميکوپولي سکرايدويومثال Hyaluronic acidدي. چې Synovialپه نوم مايعUmblicalcard.Vitreoushumorپوستکي اوهډوکو کې ميندل کيږي. په دې مرکب کې ډاي سکرايدونه اساسي واحدونيومول گلوکورونيک اسيد دي. چې ديومول N-acetyl Glucoseamineسره د$\beta \rightarrow 1.3 - \beta \rightarrow 1 - 4\ glycosidic$رابطيپه واسطه ترل شوېدي. دنورومیوکوپولي سکرايدومهم گروپChondrotinڅخه مشتمل دي چې دپروتينو پروستيتيک گروپ(poly saccharide protein complexes) دي چې Chondro Mucoidsپه نوم ياديږي. دوي دکرپندونکو هډوکو غوره برخه تشکيلوي. اوهمدارنگه دويني د اوعيوجدارونه او تار(tendons)دزړه په دساماتو(valve of heart) او په پوستکي کې هم پيداکيږي. کوندروتين سلفيتونه مختلف ډولونه لري.د دې موادوترکيبيدل په لاندې ډول صورت نيسي.

(123.8)




بدلیدل په گلوکوزامین-۶-فاسفیتباندېدFructose -6-Phosphate دیوتعامل په transamidalion واسطه له گلوتا مین څخه صورت نیسي. هغه انزایم چې داتعامل کتلایزکوي د-L-Gluctamine په نوم یادیږي. داتعامل په خپل نوعیت کې یوازې Fructose -6-Phosphate Transamidase تعامل دي چې لازمه انرژي یې یوازې دگلوتا مین Amide bond له ما یدوڅخه حاصلیږي. اودنوروعادي تعاملاتوبرعکس دي.

چې په هغوي کې گلوتیمین دامايد نایتروجن انتقال یوبل منونکې ته(پرته داوبوڅخه)دانرژي یوبل علاوگې منبع لکهATP ته ضرورت لري

N-acetylGalactoseamineترکیبید ل دیوداسې انزایم د کتلیتیکي عمل په واسطه پاي ته رسیږي چې په ځگر کې تشخیص شوې دي.دا انزایم په N-acetyluridine diphosphate Glucoseamineباندې عمل کوي دهغه دGlucose amineبرخه په Galactose amineباندېEpimerizeکوي. چې په نتیجه کې N-acetyl uridine diphosphate galactoseamineحاصلیږي. دا انزایمUridine diphosphate-N-acetyl Glucoseamine

## 12.27 د شکرې ناروغي ،انسولین او ګلوکاګون

پانقراس سربیره پر هضمي و ظیفو دوه مهم هارومونونه ا فرازوي چې د Insulin او Glucagon په نوم یادیږي چې په نارمل حالت کې د ګلوکوز ، شحم او پروتینونو د تنظیم لپاره ضروري او لازمي دي مونږ په دې فصل کې د انسولین او ګلوکاکون د فزیالوژیک رول او د Diabetes Mellitus د پاتو فزیالوژي څخه یادونه کوو(55:21) .

د پانقراس فزیالوژیک اناتومي : پانقراس دوه ډوله نسجونو څخه جوړ شوی دی چې په ښکل کې ښودل شوی دی .

١. ACINI چې د هضمي عصارو د افراز سبب کیږي چې مخکي ورڅخه یادونه شوې ده .

٢. LONGETHANS جزیرې چې د انسولین او ګلوکاګون د افراز سبب کیږي.

د لانګرهانس جزیرې د دریو ډولو حجرو څخه جوړ شوي دي : چې د BETA.ALPHA او DELTA حجرو څخه عبارت دي . د BETA حجرې د لانګرهانس د جزیرو 60% برخه جوړوي چې ورڅخه انسولین او AMYLIN افرازیږي . د ALPHA حجرې د جزیرو 25% څخه نمایندګي کوي او ګلوکاګون دافراز سبب کیږي او د DELTA حجرې چې دلانګرهانس د جزیرې 10% جوړوي او SOMATOSTATIN هورمون افرازوي . د لانګرهانس جزیرو حجرې یو دبل سره حجروي رابطه لري چې په دې وسیله یو ښکل حجرې د بل ډول حجرو افراز کنترولوي(76;4)

## 13.27 انسولین او دهغې میتابولیک تأثیرات

(INSULIN AND ITS METABOLIC EFFECTS)

انسولین د لومړي ځل لپاره په ١٩٢٢ع کال کې د پانقراس څخه جلا شول او په تطبیق سره یې د شکرې د ناروغی(DIABETIC DISEASE) دمړینو په شمیر کې کموالی راغی . څرنګه چې مخکې هم ورڅخه یادونه شوې ده: انسولین دلانګرهارنس د جزیرو د BETA حجرو څخه افراز او راساً په دوران کې اچول کیږي.

دکاربوهایدریت په میتابولیزم دانسولین تاثیر :وروسته د زیات کاربوهایدریت لرونکو غذاوو له خوړلو څخه ګلوکوز دوینې د انسولین د چټک افراز سبب کیږي انسولین د بدن د ټولو نسجونو او خصوصاً د عضلاتو ، شحم د ذخیروي نسج او ینې په وسیله د ګلوکوز اخستل ، زخیره کول او استعمال په چټکتیا سره اجرا کوي.(279;8).

## 14.27 د انسولین په وسیله د عضلاتو د ګلوکوز اخستل او میتابولیزم

د عضلاتو ممبران په نارمل حالت کې دګلوکوز په مقابل کې کم نفوذ په قدرت کې لری لیکن که چیرې عضلی الیاف د انسولین په وسیله تنبه شي دعضلاتو نفوذیه قدرت د ګلوکوز په مقابل کې زیاتیږي. د دوو

خوراکي غذاوو په منځ کې د انسولین افراز کم دی یعنې په دې وخت کې زیات مقدار ګلوکوز عضلي حجرو ته نه داخلیږي.

عضلات په دوو حالاتو کې زیات مقدار ګلوکوز په مصرف رسوي چې یو یې د شدید یا متوسط تمرین په وخت کې چې د ګلوکوز مصرف د انسولین زیات مقدار ته ضرورت لري . یعنې دعضلي تمرین په وخت کې حجرې د ګلوکوز په مقابل کې نفوذ یه قدرت پیداکوي چې تر اوسه پورې یې اصلي سبب نه دی معلوم شوی خو ویل کیږي چې دعضلا تو د تقلصاتو عملیې په کې رول لري . دویم حالت چې دغذا د خوراک څخه وروسته په نظر راځي ؛ په دې وخت د وینې ګلوکوز زیات او پانقراس زیات مقدار انسولین افرازوي چې د دې اضافي انسولین په وسیله د ګلوکوز تېرېدنه له وینې څخه د عضلي حجرو په لور زیاتیږي یعنې عضلی حجرې په دې وخت کې ګلوکوز ته نسبت شحمي تیزابو ته ترجیح ورکوی وروسته به ورڅخه یادونه وشي.

## 15.27 د ګلایکوجن ذ خیره په عضلا تو کې

که چیرې وروسته له غذا څخه مشق یا تمرین ونه شي زیات مقدار ګلوکوز د عضلا تو حجرو ته ننوځي اکثره ګلوکوز په عضلا تو کې په Glycogen بدلیږي چې وروسته عضلات ورڅخه دانرژي لپاره استفاده کوي(87:22).

**د شحم په میتابولیزم د انسولین تاثیر :** انسولین په سحمي نسج کې دشحم په ذخیره کیدو کې څو تاثیره لري : لومړی انسولین د بدن په ټولو نسجونو کې دګلوکوز په مصرف کې زیاتوالی راوړي چې پخپله د شحم په ذخیره کې کم والی پیداکیږي ، په همدې ډول انسولین دشحمي تیزابو په جوړښت کې اسانتیاوې راوړي . وروسته تیزابونه د وینې له لارې شحمي حجرو ته د ذخیرې لپاره وړل کیږي.

**د انسولین په کمښت کې د شحم د میتابولیزم ډیرښت:** د انسولین په نشتوالي کې د بدن دانرژي د پیدا کیدو په ټولو مواردو کې ډیرښت لیدل کیږي چې حتی دا ډیرښت دنارملو خلکو د خوړو دوو خوراکو په منځ کې چې د انسولین افراز په کې کم په نظر راځي ؛ د انسولین ټول تاثیرات چې د شحم په ذخیره تاثیر لري د انسولین په نشتوالي کې په معکوس بڼکل عمل کوي او په نتیجه کې دشحمي ذخیرو د تجزیې څخه شحمي تیزابونه ازادیږي او په همدې ډول د انسولین کمښت د وینې دپلازما په کولسترولو او فوسفولیپد په غلظت کې زیاتوالی پیداکوي.د انسولین د کموالي په وخت کې دشحم د زیات مصرف له امله په وینه کې د Ketosis او Acidosis د پیداکیدو سبب کیږي.

**د پروتین پر میتابولیزم او نشوونما دانسولین تاثیر:** د غذا څخه وروسته زیات مقدار غذایي مواد لکه کاربو هایدریت ، شحم او پروتین په وینه کې لیدل کیږي چې په نتیجه کې پروتین هم دشحم او کاربو هایدرایتو په شان په نسجو کې په زخیروی بڼکل بدلیږي چې د دې کار لپاره د انسولین موجودیت ضروري دی . دا چې څنګه انسولین د پروتینو په ذخیره کیدو تاثیر کوي تر اوسه پورې واضح دلیل نه لري بر عکس د انسولین نشتوالی د وینې په پلازما کې په امینواسیدو کې ډیرښت راوړي او په دې ډول د بدن په پروتینو کې کمښت راوړي(99;4).

## 16.27 د انسولین تاثیر په نشوونما کې

څرنګه چې انسولین د پروتینونو د جوړښت لپاره ضروري دي او د انسولین په نشت والي کې د پروتینونو جوړښت نه اجرا کېږي او له بلې خوا د پروتینونو موجودیت د نشوونما د هورمونونو د جوړښت لپاره لازمي دي او په دې شان د پر وتینونو کم والی چې د ودې د هورمونونو د کموالي سبب کېږي او په نتیجه کې د حیوان په وده کې خرابي لیدله کېږي(99:23).

## 1.16.27 د انسولین د افراز کنترول

په پخوانیو وختو کې ټول په دې فکر کې وو چې دانسولین په افراز کې یوازې د وینې ګلوکوز تاثیر لري لیکن په نني وخت کې برسیره د وینې د ګلوکوز څخه امینو اسیدونه او ځینې نور فکتورونه د انسولین په افراز کې مهم رول لوبوي.

نارمل خلک دلوږې په حال کې چې د وینې ګلوکوز یې د ۸۰ ملي ګرامه په سل ګرامه په سل سي سي وینه کې موجود وي د انسولین د افراز اندازه ډیره کمه وي لیکن که چیرې د وینې د ګلوکوز اندازه له نارمل حد څخه د یو زیات وخت لپاره پورته و ساتل شي د انسولین په افراز کې زیاتوالی پیداکېږي.

څرنګه چې مخکې هم ورڅخه یادونه وشوه کله چې د وینې ګلوکوز په سل سي سي وینه کې د سلو ملي ګرامو څخه زیات شي د انسولین په افراز کې په چټکتیا سره زیاتوالی پیداکېږي کله چې د ګلوکوز اندازه په وینه کې ۴۰۰-۶۰۰ ملي ګرامه په سل سي سي وینه کې پورته شي د انسولین افراز په چټکتیا سره اعظمي حد ته رسیږي . که چیرې ګلوکوز د پورتنی اندازې څخه نور هم پورته لاړ شي د انسولین افراز بندیږي تر هغې پورې چې د وینې ګلوکوز اندازه د لوږې نارمل حد ته نه وي رسیدلي چې د انسولین د افراز عکس العمل د وینې دګلوکوز د زیات غلظت په وخت کې د وینې د کنترول لپاره د Feedback Mechanism ښه مثال شمیرل کېږي په دې اساس که چیرې د وینې ګلوکوز پورته شي د انسولین افراز هم زیاتیږي او د انسولین افراز د وینې د ګلوکوز انتقال د ینې، عضلاتو او نورو حجرو په لور زیاتوي او په دې شان د وینې د ګلوکوز په غلظت کې کم والی راوړي(65:24).

**ځینې نور فکتورونه چې د انسولین د افراز سبب کېږي**

ځیني امینو اسیدونه د ګلوکوز په شان د انسولین په افراز کې مساوي رول لوبوي چې په دوی کې د Arginine او Lysine د امینو اسید رول د یادونې وړ دي ، چې تاثیر یې د ګلوکوز له تنبه څخه په لاندې شان فرق لري یعنې کله چې دامینو اسید مقدار زیاد شي پرته له دې څخه چې د ګلوکوز په مقدار کې زیاتوالی موجود وي د انسولین په افراز کې ډیر لږ ډیربنت پیداکېږي لیکن کله چې د ګلوکوز ډیربنت د امینواسید د زیاتوالی په وخت کې دانسولین په افراز کې دوه چنده زیاتوالی پیداکوي . په همدې شان د معدې او کولمو د سیستم افرازات لکه ګسترین، سکریتین، کولي سستوکینین او ځنې نور یې د انسولین په افراز کې په متوسط اندازه ډیربنت راوړي.(120;6)

## 17.27 ګلوکاګون او دهغې وظیفې (Glucagon And Its Functions)

د ګلوکاګون هورمون د لانګرهانس د Alpha د حجرو په وسیله افرازیږي کله چې د وینې د ګلوکوز غلظت راښکته شي د دې هورمون د افراز سبب کیږي.

ګلوکاګون څو وظیفې لري چې د انسولین د وظیفو برعکس تاثیر لري . چې ډیر ښه تاثیر یې د وینې د ګلوکوز په مقدار کې زیاتوالی دي له همدې کبله د ګلوکاګون د هورمون د Hyperglycemic هورمون په نوم یادیږي(22:24).

د ګلوکوز په میتابولیزم د ګلوکوګان تاثیر: ګلوکاګون دوه مهمې وظیفې لري:

۱. ګلوکوګان د وینې ګلایکوجن په ګلوکوز بدلوي یعنې یو Glycogenolysis تاثیر لري.

په ینه کې د ګلوکونیوجنیزیس د ډیرښت سبب کیږي . د وینې د ګلوکوز زیاتوالی د ګلوکاګون د افراز مخنیوی کوي . د وینې د ګلوکوز د غلظت تاثیر د ګلوکاګون په افراز باندې عیناً برعکس د ګلوکوز تاثیر د انسولین د افراز په شان دی . یعنې کله چې دانسان دلوړې ګلوکوز د ۹۰ ملي ګرامو څخه په سل سي سي وینه کې د Hypoglycemic سرحد ته ښکته شي د پلازما د ګلوکاګون غلظت دوه چندو ته پورته کیږي. برعکس که چیرې د وینې د ګلوکوز مقدار هایپرګلیسمیک سرحد ته پورته شي د پلازما ګلوکاګون په مقدار کې کم والی راځي او هایپوګلیسمیا د ګلوکاګون په افراز کې ډیرښت راوړي چې وروسته د ینې څخه زیات ګلوکوز خارجیږي او په دې شان د هایپوګلیسمیا په اصلاح کې مهم رول اجرا کوي.

امینو اسید کله چې د پروتیني غذا له خوړلو څخه وروسته په وینه کې زیات شي د انسولینو په شان د ګلوکاګون د افراز سبب کیږې ( خصوصاً Alanine او Arginine ) چې په دې حالت کې د انسولین او ګلوکاګون تاثیر یو دبل په ضد عمل نه کوی او په دې شان ګلوکاګون د امینو اسید په تبدیلۍ کې په ګلوکوز تاثیر کوي.

د بدن په شدید تمرین کې د وینې د ګلوکاګون مقدار څلور یا پنځه چندو ته لوړیږي چې تراوسه پورې یې اصلي سبب نه دی واضح شوی.(12;9).

## 18.27 د شکرې ناروغي (Diabetes Mellitus)

Diabetes Mellitus یو سندروم دي چې د کاربوهایدرات ، شحم او پروتینونو د میتابولیزم دخرابۍ په وجه د انسولین په افراز کې نشت والی او یا د انسولین په مقابل کې د نسجونو د حساسیت کمښت پیداکوي . په عمومي ښکل مرض په دوه ډوله موجود دي چې یو ته یې Type I او بل ته یې Type II وایې . Type I Diabetes د Insulin-ependent Diabetes په نوم او Type II Diabetes د Non-Insulin-Dependent Deabetes په نوم یادیږي(55:24).

**Type I Diabetes:** که چیرې د پانقراس د Beta حجرې د خرابۍ سره مخامخ شي او یا مرضی حالت چې دانسولین په افراز کې کم والی پیداکړي د Type I د ناروغۍ سبب کیږي . ویروسي ناروغي او یا Autoimmune تشوشات د پانقراسي حجرو د خرابي عامل ښودل شوي دي . ښایی ارثي عامل هم د مرض په پیداکیدو کې له نظره لرې نه کړو . مرض اکثراً په ۱۴ کلنۍ کې شروع کیږي له همدې

کبله د Juvenile Diabetes Mellitus په نوم یادیږي . مرض په څو ورځو یا هفتو کې دفعتاً شروع کوي چې په کې د وینې د ګلوکوز ډیربښتد کولسترولو د جوړښت زیاتوالی د ینې په وسیله او د شحمیاتو د مصرف زیاتوالی د انرژي په مقصد او دبدن د پروتینونو دکم والي سره ملګري وي.(77;12).

## Type II Diabetes19.27

د دې ښکل واقعات نسبت Type I Diabetes ته ډیر زیات دي یعني د ډیابیتس ناورغي ۸۰-۹۰٪ د Type II د ناروغي په وسیله پیداکیږي . مرض اکثره وروسته له ۴۰ کلنی څخه شروع کوي چې زیات واقعات یې د ۵۰ او ۶۰ کلونو ترمنځ لیدل کیږي . د مرض شروع په تدریجي ښکل ده او دا ډول ډیابیتس ناورغي Adult Onset Diabetes په نوم هم یادیږي دا ښکل د ناروغۍ د Type I ناروغۍ په شان د یو زیات شمیر میتابولیک ابنار ملټیو سره ملګري وي او د Keto Acidosis واقعات په کې ډیر کم پیداکیږي د Type II Diabets سبب اکثراً دنسجونو د حساسیت کموالی د انسولینو په مقابل کې فکر کوي او برعکس د Type I په دې ښکل کې دانسولین مقدار د وینې په پلازما کې زیات په نظر راځي لیکن دبدن د محیطي نسجونو حساسیت دانسولینو په مقابل کې کم وي او د وینې د انسولینو دیرښت نشی کولی چې د ګلوکوز تنظیم په نارمل ښکل و ساتي . د Type II مرض په آخري صفحه کې د پانقراس د Beta حجرې د دې قدرت نه لري چې کافي اندازه انسولین افراز کړي چې د وخیم هایپرګلیسمیا څخه مخ نیوی وکړي . خصوصاً په هغه حالاتو کې چې په خوړل شوې غذا کې زیات ګاربوهایدرات موجود وي .

Type II ناروغان اکثراً د مرض په لومړۍ مرحله کې د غذایي پرهیز ، د وزن د کموالي او دتمرین په اثر د کنترول لاندې راوړل کیږي . هغه دواګانې چې دپانقراس څخه د انسولین په افراز کې زیاتوالی راوړي توصیه کیږي لکه Sulfonylureas او هغه دواګانې چې د انسولینو دحساسیت د دیرښت سبب کیږي لکه Thiazolinediones او Metformin ورکول کیږي.(450;6).

### 1.19.27 د Diabetes فزیالوژیک تشخیص

د Diabetes تشخیص د مختلفو کیمیاوي تجربو له مخې چې په وینه او تشو متیازو کې اجرا کیږي چې په لاندې ډول سره بیانیږي (89:25).

## 20.27 ګلوکوز په تشومتیازو کې

په عمومي شکل نارمل خلکو کې ګلوکوز چې په تشو متیازو کې تیریږي د دې تجربو په وسیله نه شي معلومیدی او هغه خلک چې په ډیابیتس ناروغۍ اخته وي په تشو متیازو کې د کم مقدار ګلوکوز څخه نیولې تر زیاتې اندازې پورې چې د کاربوهایدارتو دخوراک له اندازې او دمرض په شدت پورې اړه لري په نظر راځي.

### دلوږې په حالت کې دویني ګلوکوز( Fasting Blood Glucose )

د لوږې په حالت کې دوینې ګلوکوز د ۸۰-۹۰ ملي ګرامه په ۱۰۰ سي سي وینه کې او ۱۱۰ ملي ګرامه یې په سل سي سي وینه کې نارمل پورتنی حد قبول شوی دی. د وینې ګلوکوز د لوږې په حالت

کي (۱۲ ساعته وروسته له غذا څخه ) کله چې ګلوکوز د ۱۱۰ ملي ګرامو څخه په سل سي سي وینه کي زیات شي د Diabetes Mellitus په لور فکر کېږي(32:26).

## GLUCOSE TOLERANCE TEST1.20.27

